)قومی نصاب کونسل NCC وفاقی وزارتِ تعلیم و پیشه ورانه تربیت( حکومتِ پاکستان،

"اتحاد تنظیمات مدارس پاکستان" د نمائنده علماء کرامو، پنجاب کریکولم

# مطالعۂ قرآنِ حکیم

## د طالبانو او طالباتو د پاره

## اوله برخه

نوم________________________________

ولدیت/دکورمشر____________________

کلاس______________سیکشن____________

اسکول______________________________

## "مطالعۀ قرآنِ حکیم د طالبانو او طالباتودپاره" د ښپروشوو برخو د ښپرولو تفصيلات


- اوّله حصّه ............داول طبع نه تريوولسمي – ۲۰۱۰ ءنه ۲۰۱۸ء - ټول تعداد:۱۲۰۱۷۵۰
  طبع جديد .............اګست۲۰۲۱ء - شميره : ۱۵۰۰۰۰
- دويمه برخه- - - - - داوّل طبع نه ترنهمي– ۲۰۱۱ ء نه ۲۰۱۸ء- ټول شميره : ۵۰۲۰۰۰
  طبع جديد .............جولائی۲۰۱۹ء- شميره : ۱۰۰۰۰۰
- دريمه برخه ............... داوّل طبع نه تراتمي– ۲۰۱۲ء نه ۲۰۱۸ء - ټول شميره : ۲۴۵۰۰۰
  طبع جديد .............جولائی۲۰۱۹ء - شميره : ۱۰۰۰۰۰
- څلورمه برخه داوّل طبع نه ترشپږمي– ۲۰۱۳ء نه ۲۰۱۸ء - ټول شميره : ۱۵۵۰۰۰ طبع جديد ..............جولائی۲۰۱۹ء - شميره : ۱۰۰۰۰۰
- پنځمه برخه داوّل طبع نه ترڅورمي– ۲۰۱۵ء نه ۲۰۱۸ء - ټول شميره : ۱۲۴۰۰۰
  طبع جديد..............جولائی۲۰۱۹ء– شميره: ۸۰۰۰۰
- شپږمه برخه اوّل طبع ۲۰۱۸ء– ټول شميره:۳۵۰۰۰ طبع جديد ..............جولائی۲۰۱۹ء– شميره: ۷۰۰۰۰
- اوومه برخه - - - - -اوّل طبع جولائی ۲۰۱۹ء– شميره: ۷۰۰۰۰
- زيراهتمام - - - - - - - - - - -شعبه تصنيف وتاليف-قرآن پروګرام(دی علم فاؤنډيشن)
- پته - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - ۳/۶۳،بلاک نمبر۳،دهلی مرکنټايل کوآپريټوهاؤسنګ سوسائټی،پوسټ کوډ۷۴۸۰۰کراچی ،پاکستان



فون نمبر- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - ۳۴۳۰۴۴۵۱، ۳۴۳۰۴۴۵۰(۲۱_۹۲+ )

ای میل - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - tifi430agma.ilcom/infoatif.edu.pk

ويب سائټ - - - - - - - - - - - - - - - - - - - www.tif.edupk

دي علم فاونډيشن "مطالعۀ قرآنِ حکيم د طالبانو او طالباتو دپاره"په تياری کي مد دکونکي ټول عزت مند عالمان ،ماهره حافظان او قاريان ،محترم عزت مند استاذان او د تعليم ماهرانو ډير زيات شکريه اداکؤ.چاچي په دي نصاب باندي په دويم ځل باندي نظر واچؤاو دخپل تجويزونو په ذريعه باندي ئي ددي دښه نه ښه جوړولو کي اهم کردار اداکړو. نور مونږ دهغه ادارو اودهغوي سره تعلق ساتونکودپاره هم دزړه دکومي دعاکؤ چاچي په پوره اخلاص سره ددي نصاب دلوستلودپاره منظور کولو کښي خپله حصه شامله کړه .الله جل شانه د دي ټولوملګرودقرآن دخدمت داکوششونه په اوچته درجه کښي قبول کولوسره دواړو جهانو دکاميابی ذريعه سبب وګرځي . آمين

# عرضِ ناشر

دالله سُبُحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ فضل وکرم سره پۀ انتهائی ذمه داری سره ممکن کوشش کړےشوےدے چې د مطالعۀ قرآنِ حکيم نصاب د تمام کمو اوغلطو نه پاک د بهترين اشاعت اهتمام دے- که چرته خدانخواسته پۀ دورانِ طباعت اعراب ،جلدبندی یا نورې څه غلطيانې چې کومي سهواً شوي وي اوستاسود نظرنه تيري شي نواداري ته پۀ اطلاع ورکولوکښې به ستاسواحسان منديې وو ددې دپاره چې پۀ آئنده اشاعت کښې تصحيح وکړے شي-

دا کتاب دالله د رضا پۀ خاطر بغيردقيمته ورکولےشي-

# ابتدائي کلمات

قرآنِ حکيم د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی هغه آخري کتاب دے چې حضرت جبريل امين راوړے دے اوزمونږ د خوږ نبی حضرت محمد رسول الله خاتم النبيين ﷺ پهٔ مبارک زړهٔ باندې نازل شوےدے ـ هغه زمونږدپاره هدايت اوپهٔ دنيا اوآخرت کښې د کاميابۍ ذريعه ده ـ زمونږدپاره قرآنِ حکيم ديو فيصله کن کلام حيثيت لرې لکه چې الله فرمائيلې دې"بيشکه دا (قرآن) يوفيصله کونکے کلام دے"(سورةالطارق۸۷،آيت:۱۳)

چې نبی کريم فرمايې پهٔ دې دنيا کښې زمونږ عروج او زوال د قرآنِ حکيم سره تړلےدے لکه"چې نبی کريم ﷺفرمايې بيشکه الله تعالٰی ددې قرآن پهٔ دولت قومونوته عروج ورکړےدے او ددې (د پريښودلو ) پهٔ وجه ډير( قومونه) ذليل او رسوا کوي."(صحيح مسلم)

د حضرت سيدناعلی کرّم اللهُ وَجهَه'نه روايت دےچې نبی کريمﷺ اوفرمائيل نزدې ده چې ډيرې فتنے به راشي ـ حضرت علی رضی الله عنه فرمايې چې ماعرض وکړوچې يارسول الله!ددينه به څنګه بچ شو؟ نبی کريمﷺ اوفرمائيل دالله کتاب (مخې ته کيښودل) پهٔ ديکښې ستانه د مخکينوخلقوخبرونه دي اوچې کوم حالات روسته راځي دهغه اطلاعات دي،چې کوم ستاسوپهٔ مينځ کښې مسائل دي دهغوپهٔ باره فيصلے دي، دا قولِ فيصل دے، څه ټوقې نهٔ دي ، چاچې داسپک وګڼړواوپريې ښودو الله به يې داغرورد خاوروسره ميلاوکړي،اوڅوک چې ددينه علاوه پهٔ بل څه کښې هدايت اولاړښودنه تلاش کوي الله به يې ګمراه کړي ، دا قرآن حکيم د الله ورکړےشوي مضبوط رسۍ ده،پهٔ ديکښې لوي مظبوط نصيحتونه دي اودا صراطِ مستقيم ده ـ (جامع ترمذی، بحار الانوار) پهٔ آخرت کښې هم زمونږ د کاميابۍ دارومدار پهٔ قرآن حکيم باندې عمل کول اودرسول الله ﷺ کامل تابعدارسره تړلےشوے دے لکه چې نبی کريمﷺ فرمائيلي "قرآن به ستاسوپهٔ حق کښې دليل وي يابه ستاسوخلاف دليل وي ـ"(صحيح مسلم) بس ضرورت ددې خبرې دےچې مونږ د قرآن او صاحبِ قرآن

"حضور نبی کریمﷺ" سره خپل تعلق مضبوط جوړکړو. پۀ دې باندې دزړۀ نه ایمان ولرو ،اود کتاب الله باقاعده تلاوت کوو ،پۀ دې ځان پوهه کړوپۀ دې باندې عمل وکړواودانوروته د

رسولوکوشش کول. پۀ ابتدائي ژوندکښې چې کومه خبره پۀ ذهن کښې کینې نوددې دپوخ والي اودجداولي اثراتوپۀ باره کښې دوه رایې ګاني نۀ وي. الحمدلله زمونږپۀ،معاشره پۀ ابتدائي ژوندکښې د قرآن حکیم ناظره تعلیم اود قرآن د حفظ اهتمام کولےشي چې ددې وجینه پۀ ټول ژوندکښې تلاوت کول آسان وي. دغه رنګي که پۀ ابتدائي ژوندکښې د قرآن حکیم مفهوم اومعناګانوارخ ته توجّه وشي نوامیددےچې پۀ قرآني تعلیماتوپوهیدل یادول اود قرآني هدایاتومطابق زندګي تیرول آسان شي"مطالعۀ قرآنِ حکیم د طالبانو او طالباتودپاره" آسان اوپۀ عام فهم انداز کښې دابتدائي عمر نه قرآنِ حکیم سره تعلق جوړول یو مربوط اور منظّم کوشش دے. د قرآنِ حکیم دانصاب طالبانو اوطالباتو دعصری تعلیم پۀ دوران "اسلامیات " د عمومی نصاب سره وییلےشي. اُمید دے چې اِن شاء الله پۀ اووکلونوکښې (تقریباً ۳۵۰ ګهنټو) کښې طالبان اوطالبات پوره د قرآنِ حکیم ترجمه، مختصر تشریح، اهم مضمونونه او د عملی هدایاتو نه واقف کړےشے.دغه رنګي ددوئ دپاره به عملي ژوند دقرآني تعلیماتومطابق اسانول ممکن شي. ددې افرادوبدلیدل دیونیک معاشري د قیام ذریعه جوړه شي.

د اللهﷻ نه دعاده چې ددي "مطالعۀ قرآنِ حکیم د طالبانواوطالباتودپاره " تکمیل اوتدریس زمونږدپاره آسان شي زمونږداکوشش قبول کړي او چې کوم طالبان او طالبات ددینه فائده حاصلے ددي ټولودپاره صدقۀ جاریه جوړه کړي آمین

# "مطالعۀ قرانِ حکیم د طالبانوا و طالباتو دپارہ" څه خصوصیتونه

۱۔ "مکمل قرآنِ حکیم"د ۷۰ نه زیات معتبر اومشهورومعروف ترجمونه انتخاب کول"عام فهم او آسان ترجمه"مرتب کړےشوےدے۔

۲- "د دوو رنګونو داستعمال" نه ترجمه پۀ عربی متن کښې یوشان اود بامحاوره کولو کوشش کړےدے۔

۳- د ایاتونود تشریح پۀ حوالےسره "اَهمې نکتې " لیکل دغه رنګې دسبقونوسره متعلق دځه تحریري کار دپاره "ساده صفحات"هم ورکړي دي۔

۴- حتی الامکان "د مشکلو اصطلاحاتو اوذومعنی الفاظو نه ډډه" شوےدے۔

۵- "د بچو ذهني سطح اودلچسپی" د مدّنظر پۀ بنیاد نصاب مرتب شوےدے ۔لکه څرنګه چې "مطالعۀ قرآنِ حکیم د طالبانو او طالباتودپاره"پۀ اوّله برخه کښې دقرآن او صاحبِ قرآن پۀ عنوان سره د حضور نبی کریم ﷺ پاک ژوند فضائیل او کمالاتو پۀ حواله سره څو بنیادی خبري، سورة الفاتحه،سورة الصّفّت،آخری لس سورتونه اودشپږو رسولانو(حضرت آدم،حضرت نوح،حضرت هود ،حضرت صالح ،حضرت حضرت شعیباوحضرت یونس ) قصّے، پۀ دویمه برخه کښې د دیرشتوسیپاررو اود سورتونو(د سُورَۃُ النَّبَانه سُورَۃُ الہُمَزَۃ) سره سره د حضور نبی کریم ﷺ فضائیل و مکارم اود معجزات پۀ حواله سره څو آیاتونه مبارکه او حدیثونه، د حضرت ابراهیم او حضرت موسیٰ قصّے، پۀ دریمه برخه کښې د حضرت یوسف قصّه اوپۀ څلورمه کښې حضرت زکریا، حضرت مریم، حضرت عیسیٰ، حضرت سلیماناود حضرت لوط د قصّوسره مکی سورتونه شامل کړےشوي دي ۔ پۀ پنځمه کښې دمعراج واقعه، تاریخ بنی اسرائیل،اصحاب سبت، اصحابِ کهف،باغ والا، حضرت موسیٰ اوحضرت خضر اود ذوالقرنین قصّے شامل کړي دي ۔ پۀ شپږمه برخه او اوومه برخه کښې شامل پۀ مدنی سورتونوکښې معاشرتی او سماجی تعلیمات،ریاستی امور، غزواتِ نبوی،جهاد اوقتال فی سبیل الله اودنور اهمو موضوعاتو سره متعلق تفصیلات او واقعات بیان کړےشوي دي۔

۶- دسورتونود مطالعي نه مخکښې ددي " شان نزول اود تعارف" بیان شوےدے۔

۷- د قرآني ایاتونو بۀ رڼاپې کښې د انبیاءکرام قصّے "پۀ آسان او زړۀ راښکونکښې انداز"کښې" د معتبر موادو" سره مرتب کړےشوےدے۔

۸- دانبیاء کرام قصّے پۀ بهتر اندازباندې دپوهولودپاره " د نقشو استعمال"هم کړےشوےدے ددې دپاره چې واقعاتو د محل او مقام نه واقفیت حاصل کړي۔

۹- هر دهرسورت او قصّه پهٔ آخر کښې سبق آموز نکتې "دعلم او عمل خبرې" پهٔ عنوان سره دآيات قرآنی حواله جاتو سره بيان کړې دې ددې دپاره چې د قرآنِ حکيم د فکری او عملی هدايات نه خبردارشي۔

۱۰- دهر سورت او قصّې سره متعلق "ځان پوهه کړئ اوحل يې کړئ" پهٔ عنوان سره مختلف مشقونه شامل کړےشوي دې ددې دپاره چې د طالبانو د قرآن پوهې جائزه واخستلے شي۔

۱۱-د طالبانو دقرآنِ حکيم پهٔ حواله سره دعملی مشق کولودپاره " کورنۍ هله ځله " پهٔ عنوان سره زړهٔ راښکونکي هلي ځلې تجويزکړےشي ددي دپاره چې دطالبانودکوروالاتعلق هم دقران حکيم سره زيات شي۔

۱۲-دطالبانو دفکری اوعملی لاربنودنې دپاره پهٔ هرسبق کښې ک"فرمانِ نبوی "، "عملي خبره"، "آياتاسوپوهيږئ؟"، "معلوم کړئ" او "سوچ وکړئ" پهٔ دې عنوانات سره اهم معلومات هم ورکړےشوې دې۔

۱۳-دطالبانود سهولت دپاره "د مشکلو الفاظو معنی "دکتاب پهٔ آخر کښې د سبقونو د ترتيب مطابق دحروف تهجی لحاظ شوےدے۔

۱۴-داستاذنودتدريسي مدددپاره دهرحصّې سره يوجامع "داستاذانولاربنود "هم تيار کړےشوےدے۔ چې پهٔ ديکښې دهرآيت پهٔ ضمن کښې " تشريحی نکتې، علمی اوعملی اړخ،آياتِ قرانی حواله جات اواحاديث مبارکه "الحمد لله د ۷۰نه د زياتو ترجمو او تفسيرونو پهٔ رنړائي کښې مرتب شوےدے۔ علاوه ددې نه " د تدريس طريقه "، "دمطالعي مقصدونه "او "د سوررت د ربط "سره سره "د مشقونو جوابونه"، " دسبقونو منصوبه بندی"اومزيد" عملی هلي ځلي " هم شامل کړےشوي دي۔دغه رنګې د مطالعۀ قرآنِ حکيم د تدريس بهتر جوړولودپاره " عمومی تدريسی هدايات"هم مرتب کړےشوي دي،ددې سره مزيد دا چې د تدريس د طريقي د عملی مظاهرې دپاره "Demo Class" هم ريکارډ کړےشوےدے۔"ماډل پيپر اودعمومی تپوسلےشوو سوالات(FAQs) " هم "پهٔ رهنمائے اساتذه"کښې ورکړےشوې۔

۱۵-"مطالعۀ قرآنِ حکيم د طالبانو او طالباتودپاره"پهٔ مرتب کولوکښې ددې خبرې خصوصي طوراهتمام شوےدے چې "د مسلکی اختلافاتود بيان نه ډډه "کړےشوې ده اودهغو اُمورو او تشريحاتو بيان کړےشوےدے چې پهٔ دې باندې عموماً دټولو اتفاق شوےدے۔

۱۶-ددې نصاب پهٔ مرتب کولوکښې علماء کرام، حفاظِ کرام،اساتذه کرام او دوالدين "د مشاورت اود نظر ثانی"نه استفاده کړےشوې ده۔

دوفاقی وزارتِ تعلیم او پیشہ ورانہ تربیت د حکومت پاکستان دا پرخہ د علماء کرامو د اتفاقِ رائے او منظوری تصدیق نامہ

TO BE PUBLISHED IN THE GAZETTE OF PAKISTAN PART-II

Government of Pakistan

National curriculum council secretariat

Ministry of federal education and professional training

***********

Islamabad the May 6.2021

NOTI FICATION

F.NO.8-10/2019-NCC:

F.NO.8-10/2019-NCC: In pursuance of compulsory teaching of Holy Quran (toHQ) act 2017 and in continuation of the letter No. 1-1/2017 (NCC) dated 19th February 2019 the ILM foundation, Karachi is allowed printing and publishing of Quranic syllabus titled *"Mutalae Quran -e- Hakim* ''consisting complete translation of the Holy Quran with introduction, summary, important topics, points to remember of 114 Surahs s stories developed with complete consensus by all the members of Teaching of Holy Quran committee notified by ministry of federal Education and professional Training , Islamabad vide notification No .3(8)/2015/EIII dated 20th April 2017 .

2 the consensus translation of the Holy Quran is to be taught to all the Muslim students in all educations in the Islamabad Capital territory and in all the public sector educational institutions owned and controlled by the Federal Government wherever they may be.

3 this issues with the approval of Joint Educational Head of NCC Secretariat, Convener of ToHQ Committee.

Saad Ahmed Mir

Admin Officer

Ph# 051-9265572

The Manager

Printing Corporation of Pakistan press

University Road

Karachi.

Copy to;

1. All members

2. The ILM Foundation, Karachi

3 APS to joint Educational Advisor, NCC Secretariat

اتحادتنظیماتِ مدارس پاکستان قومی نصاب کونسل وفاقی ازارتِ تعلیم وپیشه ورانه تربیت

THEIMFOUZDATION

EXCELLENCETHROUGHEDUCARION

حواله نمبر: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته' NCC).2o17/1.1F.ON تاریخ:۲۸جنوری ۲۰۲۰سنة

د وفاقي وزارتِ تعلیم حکومت پاکستان دا ړخه قائم شوےد اتحادتنظیماتِ مدارس پاکستان کمیټۍ د دی علم فاؤنډیشن نصاب "مطالعۀ قرآن حکیم دطالبانو او طالباتو دپاره ، ،تصدیق نامه

الله رب العالمین دپاره ټول تعریفونه دي چي چامونږه اشرف المخلوقات جوړکړو دخپل خوږ نبی اود حضرت سیدنامحمدمصطفی ﷺ امّتي کیدلو اعزاز اوبښلو اودنبی ﷺ پۀ ذریعه یې خپل آخری الهامي کتاب قرآنِ مجیدفرقانِ حمیدښائسته کړوچي زمونږدهدایت اولارښودني سرچینه ده ۔داخبره دالله پۀ دربارکښې د مسلسل شکرپۀ زائے راوړلوقابل ده چي هغۀ پۀ خپل فضل سره مونږته دقرآن پۀ خدمت کښې دژوندخه وختونوصرف کولوهمت اوتوفیق راکړوالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دي مونږټولوته دي دآخرې ساه پورې ددې عظیم خدمت اوسعادت سره پیوسته لري ۔آمین

د قرآن دخدمت پۀ حواله سره اداره"دی فاؤنډیشن ، ،کراچي پۀ ټول ملک کښې دتعلیمي ادارودپاره دقرآن حکیم پۀ ترجمه اوتشریحاتو باندې مشتمل آسان اوعام فهم نصاب"قرآن حکیم دطالبانو اوطالباتو دپاره"مرتب کړوچي پۀ اووۀ حصوباندې مشتمل دے ۔دنصاب ددرسي کتابونودهرحصّي دپاره رهنمائےاستاذان هم مرتب کړےشوےدے ۔دطالبانو اوطالباتو پورې دقرآن حکیم دتعلیماتو پیژندلودپاره داډیرقابلِ قدرکوشش دےچي دقرآن پۀ پوهه کښې معاون ثابت شي اوددې دپاره به عملي ژونددقرآني تعلیماتو مطابق کول ممکن شي ،ا ن شاءالله ۔ ۔پۀ۲۰۱۷کښې وفاقي وزارتِ تعلیم دا ړخه دانصاب وفاقي اوصوبائي سکولونوکښې دتدریس دپاره منظورکولو اهتمام

کړے دے۔ پۀ دې حواله سره چې کوم مختلف مکاتبِ فکرعلماءکرام ،ماهرين تعليم اودهوښيارانودارخه تحسين اوتائيددےدغه ثومنتازاومشهور علماءکرام اوخاوندان دعلم اوغوروالي دارخه دملک لويه فائده

پۀ امّتِ مسلمه کښې پخپل منځ کښې يووالےاودرورولۍ اوميني فضاپيداکولودپاره وزارتِ تعليم اهم تجويزپيش کړےدے۔پۀ دې کتنه کښې دوفاقي وزارتِ تعليم پۀ کوششونودپاکستان ټول مکاتبِ فکردديني مدرسواوجامعوتنظيمونه اوپۀ وفاقونوباندې مشتمل"اتحادتنظيم مدارس پاکستان، ،مشهورعلماءکرام باندې يوه کميټي تشکيل کړه۔ټولوعزتمندودکميټۍ ارکانود خپلوډيرومصروفياتونه قيمتي وخت رواخستواوپۀ دې پوره نصاب باندې ډيرژوروالي،باريک ليدلو اوکړاوسره نظرثاني وکړه اوداصلاح طلب کولوارخونونښه ورکول لار ښودنه ئي وکړه۔تقريبًاپۀ تيرشوودوه نيم کالوکښې پۀ تجويزشوي نصاب باندې يقني غوراوفکردپاره دوفاقي وزارتِ تعليم نصابي ونګ"قومي دوفاقي وزارتِ تعليم وپيشه ورانه تربيت،پۀ اسلام آبادسيکرټريټ کميټۍ کښې نصاب کونسل(NCC) څومره اجلاسونه منعقدشوچې پۀ هغوی کښې ددې نصاب سره متعلق قابلِ تحقيق واصلاح طلب نکتې " دې وخت پۀ وخت دسوچ اوبحث لاندې راوړلےشو "الحمدلله اتحادتنظيم مدارس پاکستان، ،د دې کميټۍ ټول عزتمند علماء کرام نصاب قرآن حکيم دطالبانواوطالباتودپاره"ددې درسي کتابونوټولي حصي "داول نه تراوومه، ،پورې پۀ خپل سوچ اوفکراود خبرواترونه روسته پۀ مکمل اتفاق رائي سره قائم کړلو ۔ پۀ متفقه طورباندې منظورشوے ټول نکتې د"دی علم فاؤنډيشن، ،صاحبان پۀ ډيرمحنت ،ديانتداري اوپوره ذمه داري سره پۀ مطالعۀ قرآنِ حکيم نصاب کښې شامل کړو۔ددينه روسته دمطالعۀ قرآنِ حکيم دهغوی دټولوتصحيح شووحصّودذکرشوي کميټۍ ټول عزتمندارکانوپۀ خدمت کښې ليګل اوتوثيق اوتصديق هم وکړو۔پۀ دې عظيم کارکښې مصروف ټول معززعلماءکرام ،وفاقي وزيرتعليم اود"دی علم فاؤنډيشن، ،ټول متعلقينودا خلاص کوششونه،محنتونه اوامدادونه ډيرقابل دقدردي۔الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دې دقرآن دخدمت پۀ حواله سره د ټولو حضرات ټول کوششونه قبول کړي اوددوی دپاره دې صدقۀ جاريه جوړه کړي اوپۀ دې عظيم کارکښې مصروف ټول ملګرولره دې دخپل اوچت شان مطابق غوره بدله اوکاميابي ددواړوجهانونوورکړي۔آمين

(جاري دے)۔۔۔۔

د وفاقی وزارتِ تعلیم حکومت پاکستان دا‌ړخه قائم شوے د اتحادتنظیمات مدارس پاکستان کمیټی د
دی علم فاؤنډیشن نصاب "مطالعهٔ قرآن حکیم د طالبانو او طالباتو دپاره"، تصدیق نامه۔

پهٔ دې نصاب باندې نظرثاني ، د سوچ فکر او خبرو اترو پهٔ دوران کښې علماء کرامو څو مره نکتې او اړخونو لره پهٔ مجموعي حيثيت سره دنظرلاندې اېښودې دي ددېنه څوغوره دادې:

۱ - ددين دمنلے شوو خبرو لحاظ کول، داسلام دنبنو او داسلام دعقيدو پهٔ حواله سره هيڅ دواقعې خلاف خبره پهٔ نصاب کښې شامل نۀ ده۔

۲ - دمتفقه امورو بيان پهٔ ذهن کښې کېښول او دهيڅ مکتبه فکر دزړۀ ازارولو اړخونو نه مکمل اجتناب کول۔

۳ - دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی محبت وخشيت او اطاعت تابعدارۍ اړخ ته راغب کول۔ ټول انبياء کرام عليهم السلام او بالخصوص دنبی اکرم ﷺ محبت ادب واحترام، اطاعت او داتباع جذبه تيزول دهغوی دشان او صفاتو جامع تذکره کول ،دغه رنګې دپاک اهلِ بيتو او صحابه کرام رضی الله عنهم او ددين دبزرګانو ادب واحترام او دهغوی اوچت مقام ومرتبه لره مخې ته کيښودل۔

۴- دټولو مکاتبِ فکردرائے متفق کولو دپاره پراخه نظر او پراخه زړۀ اهتمام کړے شوے دے۔

۵- درياست پهٔ سطح باندې بالخصوص او دامّتِ مسلمه پهٔ سطح باندې بالعموم يووالے اتفاق او خپل مينځې ايثار او دورورولۍ فضا پېدا کولو دپاره دنصاب جامعيت او دقابلِ قبول کېدلو خاص خيال لرل او ددې خبرې خيال لرل چې دټولو مکاتبِ فکر طالبان او طالبات ددېنه فائده حاصله کړې۔

۶ - پهٔ ترجمه کښې دقرآن الفاظ ،د عربی ژبې ادب او لغت حتی الوسع رعايت لرل۔

۷- دحديثونو او تاريخې واقعاتو پهٔ بيان کښې حتی الامکان معتبرمواد استعمالول۔

۸- دژبې او ادب دښائست والې خيال لرلو سره د محتاط لفظونو او دترکيبونو اسعمال کول۔

۹ - دمعروف او مستند ترجمو او تفسيرونو پهٔ رڼائې کښې دترجمې او تشريحاتو جائزه اخستل۔

۱۰۔ دټولو مکاتبِ فکرفائده مندې رائیگانې اوتجویزونه شاملول خپل مینځې اتفاق دمسلکونو پهٔ مینځ کښې وَدَه ورکول او امّتِ مسلمه دیووالې تصورراپارول۔

وفاقی وزیرتعلیم پهٔ دې نصاب باندې د اتحادِ تنظیماتِ مدارس پاکستان نمائنده ټول معززعلماءکرام پهٔ اتفاقِ رائےرنړائے کښې ،دی علم فاؤنډیشن کراچی مرتب شوےنصاب "مطالعهٔ قرآنِ حکیم دطالبانو اوطالباتو دپاره، ،لره پهٔ ټول ملک کښې پهٔ تعلیمې ادارو کښې دتدریس دپاره منظورکړلو اودې خبرې یې پوره سفارش کړےدےچې دادیولازمې مظمون پهٔ حیثیت سره پهٔ نصاب کښې شامل کړےشې۔علاوه لاداچې د وفاقی وزیرتعلیم حکومتِ پاکستان ټول معززارکان ددې خبرې یقین کوې چې:

۱۔د اتحادِ تنظیماتِ مدارس پاکستان دکمیټۍ د معززارکانو دارخه دمطالعهٔ قرآن حکیم ددې تصدیق شوې حصّوکښې آئنده دهر قسم اضافه،پهٔ ترمیم یاترتیب کښې هرقسم بدلېدل د اتحادِ تنظیماتِ مدارس پاکستان پهٔ تجویزشووعلماءکرامو دمشورې پهٔ ذریعه عمل کولےشې۔

۲۔د مطالعهٔ قرآنِ حکیم دطالبانو اوطالباتو دپاره، ،پهٔ نوروژبو کښې ترجمه داصلاح شوې ایډیشن مطابق کولےشې۔

د اتحادِ تنظیماتِ مدارس پاکستان دکمیټۍ ټول ارکان هم پهٔ بره لیکلےشوو تفصیلاتو باندې مکمل اتفاق کړےدے د دی علم فاؤنډیشن تیاشوےنصاب مطالعهٔ قرآن حکیم دطالبانو اوطالباتو دپاره، ،مکمل تائیدتوثیق اوتصدیق کړےدےپهٔ ټولوسکولونو کښې دیولازمې مظمون حیثیت سره دتدریس دپاره سفارش کړےدے۔

اتحاد تنظیماتِ مدارس پاکستان کی کمیٹی کے جملہ اراکین بھی درج بالا تفصیلات سے مکمل اتفاق کرتے ہوئے دی علم فاؤنڈیشن کے تیار کردہ نصاب "مطالعہ قرآنِ حکیم برائے طلباء وطالبات" کی مکمل تائید، توثیق اور تصدیق کرتے ہوئے تمام اسکولوں میں ایک لازمی مضمون کی حیثیت سے تدریس کے لئے سفارش کرتے ہیں۔

**اتحادِ تنظیماتِ مدارس پاکستان کی کمیٹی کے معزز نمائندگان:**

۱۔ علامہ ارشد سعید کاظمی ——— دستخط ——— مہر ———
(سینئر نائب صدر تنظیم المدارس اہلسنت پاکستان، جامعہ اسلامیہ انوار العلوم ملتان)

۲۔ مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل ——— دستخط ——— مہر ———
(نمائندہ وفاق المدارس عربیہ پاکستان، جامعہ صدیقیہ کراچی)

۳۔ مولانا نجیب اللہ طارق ——— دستخط ——— مہر ———
(نمائندہ وفاق المدارس السلفیہ پاکستان، جامعہ سلفیہ فیصل آباد)

۴۔ علامہ شیخ محمد شفا نجفی ——— دستخط ——— مہر ———
(نمائندہ وفاق المدارس شیعہ پاکستان، جامعہ امام جعفر صادق اسلام آباد)

۵۔ مولانا ڈاکٹر عطاء الرحمان ——— دستخط ——— مہر ———
(ناظم اعلیٰ رابطۃ المدارس الاسلامیہ پاکستان، جامعہ اسلامیہ تفہیم القرآن مردان)

۶۔ مولانا غلام محمد سیالوی ——— دستخط ——— مہر ———
(چیئرمین قرآن بورڈ پنجاب انسٹی ٹیوٹ آف قرآن اینڈ سیرت اسٹڈیز۔ لاہور)

MULANA GHULAM MUHAMMAD SIALVI
Chairman Punjab Quran Board
Govt. of the Punjab

**نمائندۂ وفاقی وزارتِ تعلیم حکومتِ پاکستان:**

ڈاکٹر داؤد شاہ ——— دستخط ——— مہر ———
(ڈائریکٹر جنرل۔ اکیڈمی آف ایجوکیشنل پلاننگ اینڈ مینجمنٹ وفاقی وزارتِ تعلیم اسلام آباد)

DR. DAWOOD SHAH
Director General
Academy of Education Planning
and Management
Ministry of Federal Education
and Professional Training
Islamabad

**نمائندۂ دی علم فاؤنڈیشن کراچی:**

شجاع الدین شیخ ——— دستخط 28/01/2020 ——— مہر ———
(ڈائریکٹر پروگرامز۔ دی علم فاؤنڈیشن کراچی پاکستان)

Shujauddin Shaikh
Programs Director
The ILM Foundation

Page 3 of 3

## د"مطالعۂ قرآنِ حکیم"دنصاب پۂ باره کښې دمشهوروعلماء کراماو دتعلیم دماهرینو دتأثراتونه اقتباسات

### مفتی محمد تقی عثمانی صاحب (نائب صدرجامعه دارالعلوم کراچی، چیرمین شرعیه کونسل بحرین)

ددي کتاب مقصد داسکولونوهلکانواوجنکودقرآن کریم سره تعلق پیداکول اوددي بنیادي تعلیمات اوواقعات پۂ آسانه ژبه اوطریقه کښي پیش کول دي،دکتاب دپانړودارولونه اندازه کیږي چې پۂ مجموعي حیثیت داکتاب په دي مقصدکښي کامیاب دے،اودبچوذهني قابلیت مخې ته ایښودل ددینه فائده مندمعلومات پۂ آسانۍ سره اسانولےشې ـ الله دې داکتاب دبچودپاره فائده مندجوړکړي۔

### مولانامحمدحنیف جالندهری صاحب (ناظم اعلیٰ وفاق المدارس العربیه پاکستان ،شیخ الحدیث ورئیس جامعه خیرالدارس ملتان

دقرآن کریم پۂ ترجمه اوتشریح باندې مشتمل آسان اوعام فهم نصاب "مطالعۂ قرآن حکیم دطالبانواوطالباتودپاره"(ددې سره اووۂ حصي راهنمائے اساتذه ۔ یعنی داستاذانولاربښود ) دقرآن کریم خدمت اودقرآني علمونوپۂ پوهه اوترویج کښې به ان شاءالله نایاب ثابت شي ۔ دقرآن کریم دهمیشه تعلیماتونه ښائسته دانصاب ان شاءالله العزیزدطالبانواوطالباتودکارسازئ ،داخلاق اصلاح اوقام اوملّت دپاره داپۂ فائده ورکولوکښې مؤثرکرداراداکوې اوپۂ قرآن فهمۍ کښې ددې ګلالوبچودپاره پوخ بنیادثابت شې ـ پوخ امیددےچې داتحادتنظیماتِ مدارس پاکستان د تائید،توثیق اوتصدیق نه دامتفقه نصاب مطالعۂ قرآن انشاءالله العزیزپۂ جداجدافرقوراټولولوکښې مدداوامدادکونکےثابت شې اوددې مؤثرتشهیرذریعه هم جوړه شې۔دعاده چې د" دی علم فاؤنډیشن ، ،محنتونه اوکوششونه پۂ خپل دربارِعالی کښې قبول کړي ـ،دانصاب دې الله عام قبقل کړي اودادې ستاسودپاره دآخرت ذخیره جوړه کړي ـ آمین یاربّ العالمین۔

### مفتی منیب الرحمٰن صاحب(صدرتنظیم المدارس،مهتمیم دارالعلوم نعیمیه کراچی)

پۂ دې کتابونوکښې د منتخب انبیاء کرامو سوانح پۂ زړۂ کښې کېنول اوپۂ اسان اندازکښې ترتیب ورکړے شوےدے ـ پۂ طالبانوکښي دنفس داصلاح اوډذات داحتساب دشعورپیداکولودپاره"مونږ پۂ څه اوپیژاندل ؟،،په دي عنوان سره پخپله ،خپله جائزه اخستلودپاره دتربیت اهتمام وکړلےشي ـ پۂ مجموعی حیثیت باندې دایوقابلِ قدراوقابلِ تحسین کوشش دے ـ داټوله سلسله دادارے د

مؤسّسِينوداخلاص اود ديني جذبي مظهردے ۔ زمادعاده چې الله تعالیٰ داکوشش داجراوثواب وګرځوي،ددې دافيض دې هميشه اوعام قبول وګرځوي۔

مولانامحمداسماعيل صاحب(چيئرمين متحده علماء بورډ،چيف خطيب نائب امير جماعت اسلامی خيبرپختونخوا)

عام طوربانديې دقرآن کريم ترجمه.تفسيرليکل ياپيان کول دخپل حساسيت (Sensitivity) باوجودنسبتًاآسان کاردے،ليکن ددې کورس کتاب جوړول اودټيکسټ بُک شکل ورکول غټ دزړهٔ پهٔ زوراوګران کار دے،اودامشکل کار(دی علم فاؤنډيشن ) کراچی سرته ورساؤوچې ټول قرآن يې پهٔ مختلف حصّوکښې تقسيم کړودطالبانودصلاحيت مطابق دامرتب کړواوبياددې نصاب کتاب جوړول داسکولونودطالبانودپاره ډيرآسان کړےدے ۔ ددې وجې نه پخپل ځائے بانديې وبيلےشوي دي چې دا نصاب پخپله ددې مثال دے۔داخبره ډيره داطمينان باعث ده چې ددې پهٔ تيارولوکښې د تمام مکاتبِ فکر جيّد عالمانو اود مفسّرينو کرامود کوششونونه زيات مدداخستے شوے دےاوداددې تمام مکاتب فکردپاره قابلِ قبول جوړکړےشوےدے۔ددې نصاب دټولونه اهم خصوصيت دادےچې پهٔ ديکښې هيڅ قسم فرقه واريت يا د څه قسم عصبيت بوی نشته د بلکه د قرآن آفاقي دعوت يې محورجوړکړےدے۔ددينه داامیدپيداکيږي چې زمونږبچي اوبچۍ دانصاب اوايي نودهرقسم زباني ،جماعتي،نسلي ،قومي،علاقايي اومذهبي فرقه بندونه به آذادشي خالص دقرآن اوسنت پهٔ ذريعه دخپل آفاقي دين "اسلام" فهم حاصلوي۔ ګويادانساب پهٔ فرقواوجماعتونوکښې داامّت يوځل بياديوکيدلودپاره دواحداميددے حيثيت لري۔

مولانا محمد مظفر شيرازی صاحب( فاضل اسلامک يونيورستی مدينه منوّره ،وائس چانسلر جامعه عمر بن عبدالعزيز الاسلاميه سيالکوټ)

دانصاب روان اوآسان دے۔دوړکي عمرطالبانودپاره زيات فائده منداوآسان دے۔دځني اياتونوسره د ورکړےشوي نقشو دوجي نه د طالبانودپاره انتهايي زړه راښکونکي دي ۔ دطالبونود ذهني استعدادبرابرترتيب ورکړےشوےدے ۔ دالله تعالیٰ نه دعاده چې داپاکه هستي دقرآن کريم دپاره ستاسو لوي خدمات ته قبوليت ورکړي اوستاسوداغوره محنت پهٔ دنياکښې دبرکت باعث اوپهٔ آخرت کښې دنجات باعث وګرځوي۔آمين

ډاکټر محمد محسن نقوی صاحب(ماهر تعلیم)(سرپرست اعلیٰ جامعه وفاق المدارس السّلفيّه پاکستان،مهتمم جامعه سلفيه فيصل آباد)

الحمدلله!دنظرلاندي دکتابونوسلسلئه لره زمونږ ديني ورنړو عالمانواوفاضلانوترتيب ورکړےدے ۔ دنوي طريقي پهٔ ذريعه د قرآنِ مجيدد مختلف مقاماتومطالعه،ددي ژبي اوبيان تشريح ،دمطالب حلّ ،تمرينات،خوږوالےدبيان دغه رنګي دتعقيدنه پاک طريقه ددي مزيدارخصوصيات دي ۔ دالله تبارک وتعالی نه دعاده چې ددي کتابونودسلسلي دمصنفينو ،مرتبينو،دحسن افزايي ذمدارحضراتو اوناشرينوخائسته کوششونه قبول کړي اوطالبانودقرآن لره دي ددې کتابونوپه سلسله کښې دزياتي فائدي حاصلولوتوفيق ورکړي۔آمين ياربّ العالمين۔

مولانا محمد سیف البر سکرگاهی صاحب(فاضل وفاق المدارس العربيه ،مرکزی ناظم اعلیٰ ټرسټ جميعت تعليم القرآن)

دی علم فاؤنډيشن داکابرينوتفسيرونه اوترجمي رامخي ته کړي دي خاص طورباندې داسکولونود طالبانودپاره يې چې کوم نصاب له ترتيب ورکړےدے چې دا نصاب پخپله ددې مثال دے۔دسبقونونه حاصل تمرينونه اوکورنۍ هلي زلي وغيره متعلمينواومتعلماتو دپاره به نهايت فائده مندي ثابتي شي ان شاءالله زيات اميددےچې دانصاب دقرآن۔ حکيم دفهم دپاره نهايتِ مؤثرکردارادکړي۔پهٔ ديکښې دټولونه زياته خاص خبره داده چې پهٔ ټول نصاب کښې هغه اموراوتشريحاتودبيانولوخصوصي اهتمام کړلےشوےدےچې پهٔ ديکښې عموماًدټولواتفاق کړلےشوےدے۔چې ددينه دبچوداذهن جوړشي چې زمونږدين داختلافاتومجموعه نۀ ده دغه رنګي نزديکت ته وده ميلاويږي اوکومي فاصلي بلکي خليجونه چې دمسلمانانوپهٔ درميان کښې پيداشوي دي هغه پهٔ دمه دمه کميږي(ان شاءالله) دزړهٔ اوزان نه دعاده چې الله د (دي علم فاؤنډيشن ) دټولوذمدارانوخدمتونه اوکوششونه قبول کړي اوددنيااوآخرت پهٔکاميابيانومودي الله کامياب کړي اواداري ته دي ډيره ترقي ورکړي۔(آمين)

مولانا حکیم محمد مظهر صاحب(مهتمم جامعه اشرف المدارس کراچی)

پهٔ دي کتاب کښې دبچوذهني سطح مخي ته ايښودلےشوي ده دقرآني آياتونوترجمه پهٔ عام فهم ا ندازباندې پيش کړےشوےده،پهٔ مجموعي لحاظ سره داکتاب ډيرفائده منددے ۔ ددې کتاب مقصدداسکول د هلکانواوجنکودقرآن کريم سره تعلق پيداکول اوددي بنيادي تعليم نه خبرول دي ۔ اوداپخپله مقصدکښې کامياب ثابت شي ان شاءالله۔

شيخ الحديث مولانامفتی عطاءالرحمٰن صاحب(مهتمم جامعه مدنيه بهاولپور)

صرف قرآن کريم دےچې دمسلمانانوددنيااوآخرت دکاميابئ اوفلاح واحد ذمواردے ۔ افسوسناک صورتِ حال داد ےچې کوم قام ته داکتاب ورکړےشوےدےهغه نن ددکتاب نه پردي اوبل اړخ ته پۀ نظرراځي ۔ ددين نه بيزاري اودمغربيت مزه څکل پۀ دي دورکښې ځني ديندارہ داسي هم دي چې دقرآن کريم تعليمات دټولونه په اسان اندازکښې ډال کړل کورکورته يې درسولوکوشش وکړلو ۔ پۀ دې باهمت ته خلقوکښې د(دی علم فاؤنډيشن) ملګرې هم دې ۔ چې دوئ ماشاءالله چې دوئ دعماءکرامودنګرانئ لاندې داسکول کالج درسګاهونودپاره ډيرزيات آسان اوپه جديدطرزِ تدريس سره اتفاقي مطالعۀ قرآن حکيم نصاب جوړ کړو ۔ پۀ مجموعي طورباندي نصاب پخپل ترتيب اودمظامينودانتخاب پۀ لحاظ بهترين دے ۔ د(دی علم فاؤنډيشن) ټول ملګري ددي خدمت دپاره دمبارکئ مستحق دي ۔ الله دي ددي حضراتوکوششونوته قبوليت ورکړي اوامت ته دې ددي ډيروخته پوري  ددينه دفائدواخستلوتوفيق ورکړي۔

جسٹس دوست محمد خان صاحب(جسٹس سپریم کورٹ آف پاکستان)

"مطالعۀ قرآن حکيم دطالبانواوطالباتودپاره"دانصاب داسلامي عزتونوپۀ پاللوکښې ډيرګران خدمت دےچې دصفت لائق دےځکه قرآني علمونه اوچتول اوزړۀ بيناکوي  (دی علم فاؤنډيشن) داړخ نه داکوشش نوري تدريسي ادارولره هم لاربنودنه آسانوي ۔ ددي مطالعه مشکله ده  ۔ د بصارت سره بصيرت هم ذرغونولوواﻻدےددي دپاره چې دقام معماران دمستقبل دتورتمونونه رااوځي ۔ الله دي تاسوروغ اوخوشحاله لري۔

مولانا ڈاکٹر قاری محمد ضیاء الرحمٰن صاحب(چیئرمین القرآن ایجوکیشن ٹرسٹ،انچارج فیصل مسجد اسلامک سینٹر بین الاقوامی اسلامک یونیورسٹی اسلام آباد)

د(دی علم فاؤنډيشن)مرتب شوے نصاب "مطالعۀ قرآن حکيم دطالبانواوطالباتودپاره)دپاکستان دلکهونوعصرى اوديني تعليمي ادارودطالبانودعلم اوعمل ،کردار،اخلاق اوفکري پاللودپاره دمظبوط بنيادکارورکوي ۔ چې ددې پۀ ذريعه مونږصرف دانۀ چې خپل ورکړے شوي اخلاق اودورک شوې دمشرئ مقام سره اشناکښې بلکې دپوره عالمِ انسانيت دپاره مؤثراوفائده مندثابت شې،"دمطالعۀ قرآن حکيم کورس يواهم خصوصيت داد ےچې دهرشان فِرقه وارانه سوچ نه اوچت اودامّت داتحادترجان دے۔

مولنامحسن علی نجفی صاحب (سرپرست اعلی ،جامعۃ الکوثر اسلام آبادومدارس اهل بیت پاکستان)

قرآن کريم زمونږ درسول الله ﷺ ژوندی معجزه ده زمونږدپاره دافخردےچې زمونږد رسول الله ﷺ معجزه زمونږپۀ لاسونوکښې محفوظ ده. ددې عظيمې معجزې هرقسمه اختلافات اګرچې پۀ ترجمه کښې کښې ولې نه وي دهغې نه يې جداساتلےاويومتفقه ترجمه تيارول چې کوم تاسوته توفيق حاصل دےدادپسخيدلوقابل دے ، تاسوته معلومه ده چې توفيق دالله تعالىٰ دا ړخه ميلاويږي اوځه چې دالله دا ړخه ميلاوشې داڅه ړوندتقسيم نۀ دے،اهل ته ميلاوشوےدےپۀ دې اعتبارسره تاسودمبارکۍ حقداريې وئ۔ اميددےچې ستاسودمبارک کوشش پۀ نتيجه کښې امت پۀ يوه ترجمه باندې اتفاق وکړي اودراروان وخت دپاره ديومعتبرسنديۀ طورزمونږپۀ منځ کښې را ئج کړيشي۔ان شاءالله

ونګ کمانډرډاکټرمولاناضميراخترخان صاحب (ډائريکټرشعبه اموردينيه ـ پاکستان فضايېه،فاضل علومِ اسلاميه)

(دی علم فاؤنډيشن) دعصری تعليمی ادارودپاره دمطالعۀ قرآن حکيم دنصاب ترتيب ورکړودملّتِ اسلاميه پاکستان دپاره خاص طورباندې اوعام طورباندې دخدمت عظيم فريضه اداکوي ـ دعلم فاؤنډيشن غټه کرنامه (HerculeanTask) پۀ پوره قرآن مجيدفرقانِ حميدباندې محيط ددې کتابونوترتيب اوتدوين دے۔

مفتی محمدقمرالحسن صاحب (استاداحديث جامعه حماديه ،شرعيه ايډوائزرټرسټ جمعيت تعليم القرآن،ايډوکيټ هائی کورټ)

پۀ طالبانو اوطالباتوکښې داسلامي کرداراوتشخص اوايمانی جذبه وقوّت پيداکولودپاره پۀ دېکښې چې کوم محنت شويدےداچې وليدلےشې بےاختياره دژبې نه د شاباس الفاظ راوځي ـ دهرسورت پۀ شروع کښې ددې مقصداومزيداره خلاصه لويه فائده منده ۔"دعلم اوعمل خبري"پۀ عنوان دقرآنِ حکيم فکري اوعملي هداياتونه دخبرداری ورکولوطريقه هم ډيره مؤثره ده ـ الله تعالىٰ دې داکتاب ددين داشاعت اودايماني جذبې ذريعه جوړه کړي۔

قاری سيدعلی عابدنقوی صاحب (اعزازی مشيراسلامی نظرياتی کونسل،منتظم اعلی اماميه دارالتجويد ،بين الاقوامی قصرقرآنِ پروجيکټ اسلام آباد)

ماته ډيره خوشحالي ده چې اداری دمسلکی اختلافاتونه پرهيزکړےدے پۀ طالبانواوطالباتوکښې حقيقی دقرآنی روح نه خبردارکولواهتمام کړےدے۔ځۀ داکارقابلِ تحسين ګنړل ـ دځلوينښتوکالونه پۀ وزارتِ مذهبی اوروپسی ننبتي ؤ د علم فاؤنډيشن افرادپه اداره کښې ملازمت نۀ بلکه پۀ نظرياتی

بنيادونوباندې کارکوي ـ پۀ دې موجوده ګډوډورکښې دی علم فاؤنډيشن پۀ قرآنی حوالی سره کارډيراوچت دے ـ ددې چې خومره تعريف وکړےشي کم دے ـ

**مفتی محمدمنظورعلی خان قادری حنفی صاحب (فاضل علوم شرقيه ،خطيب اعلی غوثيه مسجد ،ګلشن جديد)**

دپنځم کلاس نه ترلسم کلاس دبچودپاره دانبياءکرامو عَلَيْهِمِ السَّلَام پۀ قرآنی واقعاتوباندې چې کوم مشتمل نصاب مخې ته راغلےدےدابچودپاره ډيرفائده مندثابت شو ـ پۀ دې ترجمه کښې پۀ يومقام باندې ماته څه غلطی يابےادبی پۀ نظرنۀ ده راغلې ـ داترجمه داهلِ سنت دمسلک سره بلکل مطابق صحيح ده ـ پۀ دې وخت ددې کاردپاره چې کوم خلق جانې اومالې قربانې کوې هغه دصفت لائق دې ـ الله تعالی دې هغوئ ته اجرعظيم ورکړې ـ

خبردارے:الحمدلله چې کوم عزتمندعالمان بره ذکرشواودعزتمندشخصياتونه علاوه هم دنوروتعليمې ادارومشران ،عزتمندعالمان اودتعليم ماهرينوخپل قيمتې تأثرات هم ذکرکړې ـ

**دی سيټيزن فاؤنډيشن (شعبۀ نصاب)**

دمختلف رنګونواستعمال دبچودپاره ډيرinteractiveدے اودقرآن پۀ پوهه کښې معاون دے ـ ددې کتاب مشقونه ډيرزيات ښۀ دي په دي نصاب کښې څه داسي موادنشته چي ددينه پۀ طالبانو اوطالبات کښې انتهاپسندې پيداشي ـ نصابِ قرآن دبچوداخلاقي تربيت دپاره هم ډيرمعاون دے ـ پۀ مجموعي حيثيت باندي ډيرښۀ کوشش دےيقيناًددي ښۀ نتيجي به مخي ته راشي ـ

**Prof. Dr. Masoom Yasinzai (Rector International Islamic University-Islamabad)**

Its very impressive work on Quranic teachings ‘Mutalae Quran-e- Hakeem’.I am greatly impressed by the IlM Foundation approach for introducing Quranic teaching with the help of stories of Prophets and from the grass root level. Surely, The ILM Foundation work will make a sustainable impact on the lives of future generations in their personal lives as practicing Muslims and in the society at large.

**Pir Noor Ul Haq Qadri Sahib (Federal Minister for Religious Affairs & Interfaith Harmony)**

I have gone through the work of The ILM Foundation regarding development of comprehensive syllabus of the Holy Quran for the students in Urdu. I really appreciate the work of The ILM Foundation. This will surely be helpful in propagating the true teaching of Islam as enshrined in The Holy Quran.

نوټ: الحمدلله دبره ذکرشوعلماءکرامواومعززشخصياتونه علاوه هم نورد تعليمې

ادارومشران،علماءکرام اوماهرينودتعليم پۀ خپل قيمتې تأثرات سره ښائسته کړےدے ـ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د مضمونونو فهرست


| شمیره | مضمونونه | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د تلاوت او ترجمه قرآن یو څو آداب او د طالبانو د پاره اهم هدایات | |
| ۲ | قرآن او صاحب قرآن | |
| ۳ | سُوْرَةُ الْفَاتِحَة | |
| ۴ | د هاتیانو والو قصه | |
| ۵ | د آخري لس سورتونو د سیرت النبيﷺ سره تعلق | |
| ۶ | سُوْرَةُ الْفِيْل | |
| ۷ | سُوْرَةُ قُرَيْش | |
| ۸ | سُوْرَةُ الْمَاعُوْن | |
| ۹ | سُوْرَةُ الْكَوْثَر | |
| ۱۰ | سُوْرَةُ الْكَافِرُوْن | |
| ۱۱ | سُوْرَةُ النَّصْر | |
| ۱۲ | سُوْرَةُ اللَّهَب | |
| ۱۳ | سُوْرَةُ الْاِخْلَاص | |
| ۱۴ | سُوْرَةُ الْفَلَق | |
| ۱۵ | سُوْرَةُ النَّاس | |
| ۱۶ | قصه د حضرت آدم علیه السلام | |
| ۱۷ | قصه د حضرت نوح علیه السلام | |
| ۱۸ | قصه د حضرت هود علیه السلام | |
| ۱۹ | قصه د حضرت صالح علیه السلام | |
| ۲۰ | قصه د حضرت شعیب علیه السلام | |
| ۲۱ | قصه د حضرت یونس علیه السلام | |
| ۲۲ | سُوْرَةُ الصّٰٓفّٰت | |
| ۲۳ | "د ګرانو الفاظو معنې" | |
| ۲۴ | "مطالعه قرآن حکیم د طلباوو او طالباتو د پاره" د مکمل نصاب تفصیل | |

## دَ تلاوت او دَ قرآن مجيد دَ ترجمې يو څو آداب

١ ـ پاک صفا او په اودس سره دَ قرآنِ حکيم تلاوت کول پکار دي۔
٢ ـ دَ تلاوت شروع کولو نه مخکښې تعوّذ (اعوذباِلله) او تسميه (بِسمِ الله) وئيل پکار دي۔
٣ ـ دَ تجويد سره دَ تلاوت کوشش کول پکار دے۔
۴ ـ دَ تلاوت کولو په وخت دَ ربّ العالمين او دَ هغهٔ دَ کلام عظمت هم په زړهٔ کښې ساتل پکار دي۔

۵ ـ تلاوت په رو آواز او په اوچت آواز کېدلے شي۔ البته دا خيال ساتل پکار دي چې په اوچت آواز کولو سره دَ چا په څهٔ کار يا آرام کښې خلل واقع نهٔ شي۔

۶ ـ دَ سجدې دَ تلاوت په آيت باندې سجده کول پکار دي۔
٧ ـ کله چې بل تلاوت کوي، نو هغه په خاموشۍ او توجه سره اورېدل پکار دي۔
٨ ـ دَ ترجمې او تشريحاتو دَ مطالعې په وخت کښې ښهٔ غور او فکر کول پکار دي، دَ دې د پاره چې دَ آياتونو مفهوم په ښه طريقه په ذهن کښې کښېني۔
٩ ـ الله تعالي او دَ هغهٔ دَ رسولﷺ دَ محبت او اطاعت د جذبې نه ډک دَ دين احکام زده کول او په دې باندې د عمل کولو په نيت دَ قرآنِ حکيم په غور سره مطالعه کول پکار دي۔
١٠ ـ د الله تعالي او دَ رسول اللهﷺ دَ لوے شان او اوچت والي او دَ جنت او دَ خو شحالۍ والو آيتونو دَ ترجمې وئيلو په وخت خوشحالي ظاهرول او دَ شکر سره دَ جنت دعاء غوښتل پکار دي۔
١١ ـ دَ الله تعالي دَ غضب، جهنّم او دَ هغهٔ دَ عذاب والا آياتونو دَ ترجمې په وخت دَ الله دَ و يرې سره دَ عذاب دَ جهنم نه د بچ کېدو دعاء غوښتل پکار دي۔
١٢ ـ دَ تلاوت په آخر کښې دَ خپل ځان مور او پلار استاذانو وفات شوي مسلمانان او د پوره امتِ مسلمه د پاره دَ سلامتۍ، کاميابۍ او مغفرت دعاء غوښتل پکار دي۔

## دَ طلبانو د پاره اهم هدايات

ټول طلباء او طالبات د دې نصاب دَ مطالعې په وخت دا لاندې خبرې په ذهن کښې کښېنوئ۔
١ ـ دَ مطالعه قرآنِ حکيم دَ کتاب اَدب وکړئ او دَ دې جلدبندي هم وکړئ۔ دا خيال کول پکار دي چې تاسو آينده هم د دې نه فائده واخلئ او د حفاظت مکمل انتظام وکړئ۔
٢ ـ په مطالعه قرآنِ حکيم کښې دَ پېش شوې ترجمې انتخاب دَ ډېرو علماءِ کرامو او د ديني بزرګانو دَ مشهورو ترجمو نه شوے دے۔ په دې حوالې سره د دې معززو شخصياتو عظيم جدوجهد او د دې ډېرو خدماتو مونږ لره قدر کول پکار دي او دوي خپل محسنين ګڼړل پکار دي او مونږ دوي ته خراجِ تحسين

پېش کول پکار دي، کومو خلقو چې د دې نصاب د ښۀ نه ښۀ جوړول صرف د اخلاص پۀ وجه دا کار کړے دے۔

**۳**۔ پۀ دې نصاب کښې دَ قرآنِ حکیم ترجمه او دَ دې دَ بنیادي تعلیماتو نه دَ خبردارۍ کوشش شوے دے۔ دَ دیني مسائلو او دَ قرآنِ حکیم دَ احکاماتو دَ تفصیل د پاره علماء کرامو ته رجوع کول پکار دي۔

**۴**۔ دَ دې نصاب یو اهم مقصد دَ قرآنِ حکیم دَ بنیادي زده کولو د پاره د پېغاماتو او هدایاتو نه طلباء خبرول دي۔ البته دَ دې مطالعې پۀ نتیجه کښې ځان د دې قابل ګڼړل چې مونږ دَ قرآنِ حکیم نه پۀ خپله مسائل او احکامات راوستلے شو او مونږ ته دَ اهلِ علمو نه دَ څۀ ایزده کولو ضرورت نشته، هیڅ کله دا صحیح نۀ ده۔

**۵**۔ دَ قرآنِ حکیم دَ مطالعې سره دَ حضرت نبي کریمﷺ دَ احادیثِ مبارکوو او دَ سیرت النبيﷺ مطالعه هم ډېره ضروري ده ځکه چې دَ قرآني احکاماتو او تعلیماتو وضاحت حضرت نبي کریم ﷺ دَ خپل قول او عمل پۀ ذریعه بانديې کړے دے۔ ګویا دَ قرآنِ حکیم عملي وضاحت دَ حضرت نبي کریمﷺ دَ اسوه حسنه نه پۀ اسانۍ سره حاصلیږي۔ پۀ دې سلسله کښې دَ خپلو استاذانو او علماوو نه ځان خبر کړئ۔

# قرآن او صاحبِ قرآن

## دَ قرآنِ حکيم۔۔۔۔ تلاوت،تجويد او دَ فهمِ قرآن اهميت:

قرآنِ حکيم دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰي هغه عظيم او آخري کتاب دے، چې دَ انسانانو دَ هدايت د پاره الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰي دَ لوحِ محفوظ نه پۀ خپل آخري رسول حضرت نبي کريمﷺ باندې دَ وحې پۀ صورت کښې د جبرئيلِ امين عليه السّلام پۀ ذريعه د درويشت (۲۳) کلونو پۀ زمانه کښې نازل کړو۔

## دَ تلاوت قرآن اهميت او فضيلت

دَ قرآنِ حکيم تلاوت دَ يو لوے عبادت کېدلو سره سره دَ ايمان دَ تروتازه ساتلو هم يو مؤثر ترينه ذريعه ده۔ زمونږ خوږ نبيﷺ دَ قرآنِ حکيم دَ تلاوت ډير زيات اجر ثواب او فضيلت بيان کړے دے۔ دَ حضرت نبيﷺ دَ حديثونو مبارکوو پۀ رنړا ئې کښې څو فضائل دا دي:

### فرمانِ نبويﷺ:

۱۔'' چې کوم کس دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰي دَ کتاب (قرآنِ حکيم ) يو حرف هم اووايي د دې پۀ بدله کښې دۀ ته يوه نيکي ميلاويږي او دَ يوې نيکۍ ثواب دَ لسو نيکو برابر ميلاويږي۔ (جامع ترمذي)

۲۔ ''خوک چې دَ قرآن ماهر وي هغه به دَ معززو ملائکو سره وي ،چې کوم کس ( دَ څۀ معذورۍ پۀ وجه ) پۀ قرآن کښې انبنلي او پۀ دې کښې مشقت اوچتوي، نو دۀ ته به د دې دوه چنده اجر ميلاويږي۔
(صحيح بخاري،صحيح مسلم)

## دَ قرآنِ حکيم پۀ باره کښې بنيادي معلومات

| ټول آياتونه | ټول سورتونه | ټول منزلونه | ټولې رکوع ګانې | ټولې سيپارې |
|---|---|---|---|---|
| ۶۲۳۶ | ۱۱۴ | ۷ | ۵۵۸ | ۳۰ |

## دَ تجويد تعريف او اهميت

تجويد هغه علم دے چې پۀ هغې سره دَ قرآنِ حکيم هر حرف دَ صحيح مخرجونو او صفاتو سره ادا کول او پۀ مناسب ځايونو باندې دَ وقف کولو طريقه راشي۔

دَ تجويد حکم دا دے چې د دې علم دومره زدَه کول پۀ هر مسلمان باندې لازم دي چې پۀ دې باندې دَ تلاوت پۀ دوران دَ غلطو نه بچ شي د پاره د دې چې انسان دَ ګناهګارېدلو نه بچ شي۔ دغه وجه ده چې دَ

تجوید دَ علم زده کولو سره دَ تلاوت په وخت دَ غلطیانو نه حفاظت کیدلے شي ـ په قرآنِ حکیم او احادیثِ مبارکوو کښې هم دَ تجوید سره دَ تلاوتِ قرآنِ حکم شوے دے ـ دَ الله تعالٰي ارشاد دے" او قرآن ښهٔ په قلاره، ښکاره، واضح لوله ـ (سورت المزمل۷۳،آیت۴) یعني هر حرف صفا صفا او صحیح ادا کول ـ

حضرت نبي کریم ﷺ به په خپل تلاوت کښې د دې خبرې خیال ساتلو ـ دَ امِّ سلمه رضي الله عنها نه بعضې خلقو دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ شپې دَ مونځ باره کښې دَ تلاوتِ قرآنِ حکیم دَ کېفیت معلومولو تپوس وکړو، نو هغې رضي الله عنها اوفرمایل چې: حضرت نبي کریم ﷺ به تلاوت داسې کولو چې هر هر حرف به ئې واضح ادا کولو ـ (جامع ترمذي ،سنن ابي داؤد ،سنن نسائي)

فرمانِ نبوي ﷺ: دَ قیامت په ورځ به حافظ قرآن ته اووئیلے شي چې قرآن لوله او دَ جنت په درجو ورخېژه او په قلاره قلاره ئې لوله څنګه چې تا په دنیا کښې په قلاره قلاره لوستلو، د دې وجې نه ستا مقام هغه دے چې کله تهٔ دَ قرآن آخري آیت ته ورسېږې ـ (جامع ترمذي ،سنن ابي داؤد)

دَ قرآنِ حکیم دَ تلاوت کولو په وخت انسان کله داسې غلطي وکړي چې په هغې سره معنٰي بدلېږي یا دَ قرآنِ حکیم ښکولے والے ختمېږي ـ دَ تجوید په اصطلاح کښې دې ته "لحن" وئیلے شي ـ د دې دوه قسمه دي" لحنِ جلی او" لحنِ خفي"

**۱ ـ لحنِ جلی ( د دې نه مراد "غټه ښکاره او واضحه غلطي ده)**

دَ لحنِ جلی څلور صورتونه دي:

۱ ـ یو حرف په ځائے بل حرف وئیل، لکه: د قُلْ په ځائے (اووایه) کُلْ (اوخوره) د قَلْب په ځائے (زړهٔ) کَلْب (سپے) د ذَلَّ په ځائے (ذلیل شولو) زَلَّ (اوښوېدلو) د عَلِيْمٌ په ځائے (پوهې والا) د اَلِيْمٌ په ځائے (دردناک) او د اِسْم په ځائے (نوم) اِثْم (ګناه) وئیل ـ

۲ ـ حرف کمول یا زیاتول، لکه: خَلَقْنَا (مونږ پېدا کړي) د دې په ځائے خَلَقْنَ (دې ټولو زنانوو پېدا کړي) قَالَ (هغه یو وئیلي وو) د دې په ځائے قَالَا (هغه دوو وئیلي وو) وئیل ـ

۳ ـ ساکن متحرک کول او متحرک ساکن کول،لکه: جَعَلْنَا (مونږ جوړ کړي) د دې په ځائے جَعَلَنَا (هغه مونږ جوړ کړي وو) او جَعَلْنَا،جَعَلَنَا وئیل ـ

۴ ـ په حرکاتو او سکناتو کښې غلطي کول، یعنې دَ زور په ځائے زیر یا پېښ وئیل ،یعنې زور، زیر، پېښ، جزم یا تشدید وغیره بدلول، لکه: اَنْعَمْتَ (تا انعام کړے) د دې په ځائے اَنْعَمْتُ (ما انعام کړے)

قَتَلَ دَاؤُدُ جَالُوْتَ (مړ کړلو داؤد علیه السلام جالوت لره ) د دې پهٔ ځائے قَتَلَ دَاؤُدَ جَالوتُ (مړ کړلو جالوت داؤد علیه السلام لره) مَعَاذَاللہ،دغهٔ رنګې مُنْذِرِيْن (ویرولو والا) د دې پهٔ ځائے مُنْذَرِيْن(ویرولے شوې) وئیل۔ پهٔ لحنِ جلي سره معنٰي بدلېږي ۔ داسې غلطي سخته سنګینه ده او پهٔ قصد سره داسې کولو والا به ګناهګار وي۔ دَ لحنِ جلي د غلطیانو نه لازمي دَ بچکېدلو کوشش پکار دے او پهٔ صحیح طریقه تلاوت زده کول پکار دي۔

## ۲۔لحنِ خفي (د دې نه مراد :وړوکي، باریکه، سپکه یا پټه غلطي ده)

دَ صفات عارِضه غلطیانو ته لحنِ خفي وایي۔لکه پهٔ "راء" چې زور یا پېښ وي، نو ډک وئیل پکار دي لیکن ښوک ئې باریک اووایي وغیره۔ پهٔ لحنِ خفي سره دَ حرفونو حسن او زینت ختمیږي، دَ داسې قسم غلطیانو نه هم بچ کېدل پکار دي، د دې د پاره چې پهٔ ښائسته طریقه باندې دَ قرآنِ حکیم تلاوت وکړے شي۔


## دَ فهمِ قرآن اهمیت

څرنګه چې دَ تجوید سره دَ قرآنِ حکیم تلاوت ضروري دے دغهٔ رنګې دَ قرآنِ حکیم نه دَ هدایت حاصلولو د پاره د دې د پوهې کوشش هم ضروري دے د دې د پاره چې معلومه شي چې الله تعالٰي زمونږ نه څهٔ غواړي ،مونږ ته دَ ژوندګۍ تېرولو څهٔ هدایت راکوي، د دې د پاره چې مونږ پهٔ دې ډېر عمل وکړو۔ پهٔ قرآنِ حکیم کښې یو ځائے ارشاد دے"(دغه قرآن) کتاب دے چې مونږه تا ته نازل کړے دے، برکت والا دے، د دې د پاره چې خلق د دې پهٔ آیاتونو کښې فکر وکړي او دَ دې د پاره چې د خالصو عقلونو والا ترې پند او نصیحت واخلي۔(سورت ص،آیت :۲۹)

فرمانِ نبويﷺ: اے قرآن والو! قرآنِ کریم ته تکیه مهٔ لګوئ بلکه دَ شپې او ورځې پهٔ وختونو کښې د دې تلاوت کوئ څنګه چې د دې حق دے او دا خور کړئ او د دې سره ولګوئ زړهٔ، پهٔ ښکلي خوږ آواز سره ئې لولئ او پهٔ دې کښې غور کوئ د دې د پاره چې تاسو کامیاب شئ او د دې دَ زر اجر اخستلو فکر مهٔ کوئ۔ بېشکه (دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ طرف نه) د دې اجر او ثواب (پهٔ خپل وخت میلاوېدلو والا) دے" (بیهقي)

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائي :" دَ قرآنِ حکیم تدبّر دا نهٔ دے چې د دې حروف حفظ کړے شي او د دې هدایت پرېښودلے شي (چې د دې نتیجه به دا شي چې) یو کس اووائي ما ټول قرآنِ کریم ولوستلو لیکن د دهٔ پهٔ اخلاقو او اعمالو به ئې هیڅ اثر پهٔ نظر نهٔ راځي۔(تفسیرابن کثیر)

معلومه شوه چې د دې کتابِ عظیم دَ نازلېدلو مقصد دادے چې د دې دَ تلاوت سره سره پهٔ دې کښې سوچ اوکړے شي، د دې دَ مضامینو نه خبرېدل حاصل شي او د دې مطابق عمل اوکړے شي مونږ لره د ژوند تېرولو د پاره کوم هدایات راکړے شوي دي۔


بسم الله الرحمن الرحیم
اللهم
صل علی محمد و علی آل محمد
کما صلیت علی ابراهیم و علی آل ابراهیم
انک حمید مجید
اللهم
بارک علی محمد و علی آل محمد
کما بارکت علی ابراهیم و علی آل ابراهیم
انک حمید مجید

# صاحبِ قرآن.... مُحَمّدٌ رّسولُ الله خَاتَمُ النَّبِيّيْن ﷺ

زمونږ حضرت خوږ نبي ﷺ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی محبوب ترین بنده او آخری رسول دے پۀ کوم باندې چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی خپل مکمل او آخري کتاب قرآنِ حکیم نازل کړے دے. خوږ نبي ﷺ صرف د یوویشت کاله جدوجهد نه وروسته اسلام پۀ عالَمِ عرب کښې غالبه کړو او انسانیت ته ئې دَ انفرادي او اجتماعي زندګۍ تېرولو بهترینه طریقه اوښودله. خوږ نبي ﷺ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ ټول انسانیت د پاره رحمت رالیږلے دے، دَ خوږ نبي ﷺ زندګي دَ تمام انسانیت د پاره بهترینه طریقه ګرځولے شوې ده.



## دَ نبي ﷺ شان دَ قرآنِ حکیم پۀ ژبه باندي

**١.** دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ طرف نه دَ خوږ نبي ﷺ دَ اوچتوالي ذکر

" او مونږ ستاسو (ﷺ) پۀ خاطر ستاسو (ﷺ) ذکر اوچت کړے دے. (سورت الانشراح ۹۴ آیت: ۴)

**٢.** دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ ډیرو ورکړو سره راضي کول.

"او خامخا به زر ستا رب تاسو ته دومره درکړي، نو تۀ به راضي (خوشحاله) شې. (سورت الضحٰي ۹۴آیت: ۵ )

**٣.** دَ حضرت نبي کریم ﷺ زندګي بهترینه نمونه کېدل.

"یقینًا ستاسو د پاره دَ الله دَ رسول (ﷺ) پۀ ذات مبارکه) کښې بهترینه نمونه ده. (سورت الاحزاب۳۳، آیت ۲۱)

**۴.** دَ حضرت نبی کریم ﷺ أعلٰی أخلاق أو کردار

" یقینًا تاسو (ﷺ) دَ أخلاق پۀ أعلٰی مرتبه باندې ئې. (سورت القلم۲۸ ،آیت: ۴)

**۵۔ دَ حضرت نبی کریم ﷺ اتّباع دَ محبّت الٰهي دَ حصول أو دَ مغفرت ذريعه۔**

(اے نبي ﷺ!) تاسو اووايئ: كۀ چرې تاسو د الله سره مينه كوئ، نو بيا زما اتباع وكړئ، الله به تاسو سره مينه وكړي او تاسو ته به ستاسو گناهونه وبخښي او الله ډېر بخښونكے، بې حده رحم كونكے دے۔ (سورت آل عمران۳،آيت:۳۱)

**۶۔ حضرت نبی کریم ﷺ دَ تمام جهانونو د پاره رحمت او دَ ټولو خلقو د پاره رسول دے۔**

" او مونږ تاسو نۀ يئ لېږلي مگر د مخلوقاتو د پاره رحمت۔ (سورت انبياء۲۱،آيت:۱۰۷)

" او مونږ تاسو نۀ يئ لېږلي مگر د ټولو خلقو (انسانانو) دپاره زېرے وركونكے او وېرونكے او ليكن اكثره خلق نۀ پوهيږي۔ (سورت سبا۳۴،آيت:۲۸)

**۷۔ حضرت نبی کریم ﷺ دَ قرآنِ حكيم تشريح كونكے دے ۔**

"او مونږ تا ته ذكر (قرآن) نازل كړے دے، پاره د دې چې تۀ خلقو ته هغه څۀ ښۀ واضحه كړې چې دوي ته نازل كړے شوي دي۔ (سورت النحل۱۶،آيت:۴۴)

**۸۔ پۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې دَ درود او سلام وئيلو حكم۔**

"بېشكه الله او د هغۀ ملائك پۀ نبي درود ليگي، اے ايمان والو! تاسو پۀ دغۀ (نبي) باندې درود وايئ او سلام اووايئ او ښه ډېر سلام وايئ ۔ (سورت الاحزاب۳۳،آيت:۵۶)

**۹۔ دَ حضرت نبی کریم ﷺ د شان مختلف حالتونه**

"اے نبي ﷺ! بېشكه مونږ تۀ رسول گواهي وركونكے او زيرے وركونكے او وېرونكے لېږلے يئ۔
او الله طرف ته دَ هغۀ پۀ حكم سره، بَلَونكې او رڼا كونكې ډيوه مو ليږلې يې۔ (سورت الاحزاب، آيتونه: ۴۵،۴۶)

**۱۰۔ دَ حضرت نبی کریم ﷺ فرمان دَ وحې مطابق ؤ۔**

"او دے د خپل خواهش نه خبرې نۀ كوي، نۀ دے دا (قرآن) مگر وحې چې (هغوئ طرف ته) وحې كولے شي ۔ (سورت النجم،آيت:۳،۴)

**۱۱۔ حضرت نبی کریم ﷺ خاتم الانبياء**

محمد(ﷺ) ستاسو پۀ سړو كښې د هيچا پلار نۀ دے ليكن د الله رسول دے او د نبيانو (دَ لړۍ) ختمونكے دے ۔ (سورت الاحزاب،آيت: ۴۰)

# دَ نبی کریمﷺ ژوند مبارک ..............پهٔ یو نظر کښې

## دَ ولادتِ مبارکه نه دَ وحې ترآغازه پورې

۱ ـ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ ټولو نه اوّل نورِمحمّد (روحِ محمّدﷺ) پیدا کړو ـ
۲ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ پیدائش نیک بخت دَ ګل پهٔ ورځ د ربیع الاوّل پهٔ میاشت کښې وشو ـ
۳ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ نوم مبارک محمّد او اَحمد (ﷺ) دے او کنیت ئې ابو القاسمﷺ دے ـ
۴ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ پلارنوم عبدالله او دَ نیکهٔ نوم ئې عبدالمطّلِب دے ـ
۵ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ مور نوم آمنه بنت وهب دے ـ
۶ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ پیدائش باسعادت پهٔ وخت چې کوم نور ظاهر شوے ؤ، دې ظاهر شوي نور د شام د ملک محلات روښانه کړي وو ـ
۷ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ پهٔ شودو (یعني رضاعت) ورکولو والو کښې بي بي آمنه، بي بي حلیمه سعدیه رضی الله عنها او ثُوَیْبَه رضی الله عنها شاملې وې ـ
۸ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ شقِّ صدر مبارک اول واقعه پهٔ ماشوموالي کښې پېښ شوې وه ـ
۹ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ عمر شپږ کاله ؤ چې مور صاحبه بي بي آمنه وفات شوه. هر کله چې دَ هغوئ دَ پلار عبدالله وفات دَ حضرت نبي کریم ﷺ دَ پیدائش نه مخکښې شوے ؤ ـ
۱۰ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ عمر مبارک اتهٔ کاله ؤ چې دَ حضرت نبي کریم ﷺ نیکهٔ عبدالمطّلِب وفات شو ـ
۱۱ ـ حضرت نبي کریم ﷺ دَ (۱۲) دولسو کالو پهٔ عمر کښې دَ جناب ابوطالب سره د شام ملک طرفته پهٔ سفر باندې لاړو ـ
۱۲ ـ حضرت نبي کریم ﷺ دَ پنځویشت کاله پهٔ عمر کښې دَ اُمّ المؤمنین خَدیجةُ الْکُبْرٰی رضی الله عنها سره نکاح وکړله ـ
۱۳ ـ دَ نبي ﷺ پاکیزه ځامن درې وو: (قاسم ؓ، عبدالله ؓ، ابراهیم ؓ) چې ټول پهٔ ماشوموالي کښې وفات شوي وو او څلور ئې پاکدامنې لورګانې وې (زینب رَضِیَ اللّٰهُ عنها، رُقیّه رَضِیَ اللّٰهُ عنها، اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللّٰهُ عنها، فاطمه رَضِیَ اللّٰهُ عنها) ـ
۱۴ ـ حضرت نبي کریم ﷺ دَ اعلانِ نبوّت نه مخکښې هم پهٔ صادق او امین لقب باندې مشهور ؤ ـ
۱۵ ـ دَ حضرت نبي کریم ﷺ عمر مبارک چې ۴۰ کاله شو، نو دَ وحې دَ نزول آغاز وشو ـ

## دَ وحې دَ آغاز نه دَ هجرت مدینه پورې (مکّي دور)

۱ ـ پهٔ حضرت نبي کریم ﷺ باندې دَ وحې دَ نزول نه وروسته امّ المؤمنین خَدیجة الکبریٰ رضی الله عنها، ابوبکر صدّیق ؓ، علی المرتضیٰ ؓ او زید بن حارثه ؓ اسلام راوړو ـ
۲ ـ حضرت نبی کریم ﷺ دَ وحې د نزول نه وروسته ابتداءً دَ درې کالو پورې غیراعلانیه طور باندې دَ تبلیغ آغاز وکړو ـ

۳.دَ حضرت نبی کريم ﷺ عمر تقريباً درې څلويښت کاله شو چې حضرت نبی کريم ﷺ اعلانيه دَ تبليغ دَ کار آغاز وکړلو.
۴. د حضرت نبی کريم ﷺ دَ ظهورِ نبوت پهٔ پنځم کال دَ حبشه هجرت وشولو.
۵.دَ حضرت نبی کريم ﷺ دَ ظهور نبوت پهٔ شپږم کال حمزه بن عبدالمطلّب رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه اسلام راوړلو.
۶. دَ حضرت نبی کريم ﷺ د قبيلې سره قريشو مکمّل تعلقات ختم کړل او دَ درې کاله پورې ئې پهٔ شِعَبِ ابي طالب کښې بند کړل.
۷. دَ حضرت نبی کريم ﷺ دَ ظهور نبوّت پهٔ (۱۰) لسم کال ابوطالب او خديجة الکبریٰ رضی الله عنها وفات شو. دې کال ته "عام الحزن" (دَ غم کال) وائي.
۸. دَ حضرت نبی کريم ﷺ دَ ظهور نبوّت پهٔ (۱۰) لسم کال دَ طائف سفر وکړلو او پهٔ دغهٔ کال دَ حضرت نبی کريم ﷺ بارګاه ته جنّات (پيران) حاضر شو اسلام ئې قبول کړو.
۹. دَ حضرت نبی کريم ﷺ دَ مکی ژوند پهٔ آخري دور کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ حضرت نبی کريم ﷺ ته داسې معجزه د معراج ورکړه چې پهٔ دې کښې حضرت نبی کريم ﷺ دَ ربِّ کائنات سره د ملاقات او د خبرو خصوصي شرافت حاصل شو.
۱۰. دَ حضرت نبی کريم ﷺ دَ ظهورِ نبوت پهٔ د يارلسم کال هجرت وکړلو.

## دَ هجرتِ مدينه نه تر وِصال پورې (مدنی دور)

۱. حضرت نبی کريم ﷺ دَ مسجدِ قبا او مسجدنبوی شريف بنياد پهٔ اوله هجري کښې کېښودو چې دَ مسلمانانو د پاره مرکز وګرځولے شو.
۲. انصار (دَ مديني منوّرې اوسېدونکي صحابه کرام) او مهاجرين (دَ مکې مکرّمې نه راغلي صحابه کرام) پهٔ مېنځ کښې دَ مواخات (وروروليِ) قيام پهٔ اول کال دَ هجرت کښې اوشو.
۳. مديني منوّرې ته نژدې چې کوم يهود قبائل آباد وو، د هغوئ سره د هجرت پهٔ اول کال کښې (سياسي او دفاعي) معاهده اوشوه چې ورته "ميثاقِ مدينه" وائي.
۴. غزوه بدر (دَ مسلمانانو شانداره فتحه) تحويل قبله، دَ روژې فرضيت، صدقه فطر او دَ عيدالفطر (ورکي اختر) دَ مونځ حکم پهٔ دويم کال دَ هجرت وشو.
۵. غزوه اُحُد د هجرت پهٔ دريم کال اوشو.
۶. غزوه احزاب (دَ کافرانو شرمناک شکست) پهٔ پنځم کال دَ هجرت اوشو.
۷. صلح حُديبيه (دَ مسلمانانو کولاؤ فتحه) پهٔ شپږم کال دَ هجرت اوشوه.
۸. فتح خيبر (دَ يهودو شکست) پهٔ اووم کال دَ هجرت باندې شوې وه.
۹.فتح مکّه (بيت الله) دَ ۳۶۰ بوتانو نه پاکول او دَ عربو پهٔ زمکه دَ الله دَ دين غلبه پهٔ اتم کال دَ هجرت وشوه.
۱۰. غزوه تبوک (دَ سلطنت روم خلاف) پهٔ (۹) نهم کال دَ هجرت اوشوه.

۱۱۔دَ اسلام جامو اغستلو والا منافقینو دَ مسجدضرار تعمیر وکړو د کوم چې کله رسول اللهﷺ دَ غزوه تبوک نه واپس شو ، نو دَ ورانولو او سوزولو حکم یې وکړلو ۔
۱۲۔حجّة الوَدَاع پۀ یوولسم کال دَ هجرت وشو ۔
۱۳۔د حضرت نبی کریم ﷺ وصال مبارک دَ ربیع الاول میاشت دَ ګل پۀ ورځ وشو ۔

## دَ رسول اللهﷺ دَ امت سره تعلق
(دَ سورت البقره۲،آیت:۱۵۱پۀ رنړا)

(دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ ارشاد دے اے ایمان والو!)
۱ ۔ مونږ پۀ تاسو کښې یو عظیم رسول در ولیږلو ۔
۲ ۔هغه پۀ تاسو باندې زمونږ آیاتونه وائي او تاسو پاک او صفا کوي۔
۳ ۔هغه تاسو ته کتاب او حکمت ښائي۔
۴ ۔تاسو ته هغه څیزونه ښائي چې تاسو نۀ پېژندل۔

## دَ حضرت نبی کریمﷺ دَ امّتی کېدلو پۀ حېثیت زمونږ ذمه واریانی

۱ ۔پۀ حضرت نبی کریم ﷺباندې ایمان راوړي۔
۲ ۔دَ حضرت نبی کریم ﷺسره محبّت کولو سره دَ حضرت نبی کریم ﷺتعظیم او عزت وکړي۔
۳ ۔دَ حضرت نبی کریم ﷺدَ دین مدد اوکړي۔
۴ ۔پۀ حضرت نبی کریم ﷺ باندې نازله شوې رنړا دَ قرآنِ حکیم اتباع اکړي او پۀ دې ثابت قدم پاتې شي ۔

## دَ رسول اللهﷺانفرادیت پۀ زبانِ رسالت باندې

۱۔حضرت نبی کریم ﷺفرمائیلي: زۀ دَ خپل ذات او د کورنۍ پۀ اعتبار باندې دَ ټولو خلقو نه بهتر یم۔
۲ ۔حضرت نبی کریم ﷺفرمائیلي: زۀ به دَ قیامت پۀ ورځ دَ ټولو انسانانو سردار یم۔
۳ ۔حضرت نبی کریم ﷺفرمائیلي: دَ قیامت پۀ ورځ به زما پۀ لاس کښې دَ حمد جهنډا وي او ټول انبیاء کرام عَلَيْهِمِ السّلَام به زما دَ جهنډې لاندې وي۔

۴ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: چې کله زۀ تاسو ته ستاسو د پلار، اولاد او دَ ټولو خلقو نه زيات محبوب نۀ شم تاسو مؤمنان نۀ شئ کېدلے۔
۵ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰی ما ته عطيه راکوي او زۀ ئې تقسيموم۔
۶ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: زۀ دَ ټولو انبياوو قائد يم۔
۷ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: زۀ پۀ تاسو باندې ګواه يم، زما ملاقات به پۀ حوضِ کوثر باندې کېږي او زۀ اوس دا وخت خپل حوضِ کوثر وينم۔
۸ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: چې دَ قيامت پۀ ورځ به زما امّتيان دَ ټولو انبياء کرام عليهم السلام دَ امتيانو نه زيات وي۔
۹ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: چې زۀ هغه وخت نبی ووم چې کله آدم عليه السلام دَ روح او دَ جسم پۀ مېنځ کښې ؤ۔
۱۰ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: چې دَ قيامت پۀ ورځ ټول مخلوق حتٰی چې ابراهيم عليه السلام به هم ما طرف ته متوجّه وي۔
۱۱ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: چې دَ قيامت پۀ ورځ به دَ ټولو نه مخکښې زۀ سفارش کوم او دَ ټولو نه مخکښې به زما سفارش قبلولے شي۔

**زمونږ خوږ نبی محمّد رسول الله ﷺ خاتم النّبيّين دے دَ نبی ﷺ نه بعد نۀ څوک رسول کېدلے شي او نۀ څوک نبي۔**

۱ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: زما پۀ امّت کښې به ۳۰ کذّاب (دروغژن) وي چې پۀ دې کښې به هر يو دا دعويٰ کوي چې هغه نبی دے، حالانکه زۀ خاتم النّبيّين يم، زما نه بعد بل نبی نشته دے۔
۲ ـ حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلي: بېشکه دَ رسالت او نبوّت سلسله ختمه شوې ده زما نه بعد به نۀ څوک رسول راشي او نۀ څوک نبي۔
۳ ـ حضرت نبی کریم ﷺ دَ يوې خطبې پۀ دوران کښې وفرمائيل: زۀ پۀ ټولو انبيآء کرام عليهم السلام کښې آخري نبي يم او تاسو پۀ ټولو امّتونو کښې آخري امّت يئ۔

**عملي خبره:** که مونږ دَ دنیا او آخرت فلاح او نجات غواړو، نو دَ رسول اللهﷺ دَ محبّت او اتباع پهٔ جذبې باندې قربانیدلو سره، دَ حضرت نبی کریم ﷺ تعظیم او احترام پهٔ ځائے راوړو او پهٔ قرآن او سنت باندې عمل وکړو او پهٔ دې باندې ثابت قدم پاتې شو۔

## دَ حضرت نبی کریمﷺ دَ شخصیت څو اړخونه

۱۔ حضرت نبی کریم ﷺ به پهٔ ناسته ولاړهٔ کښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ذکر کولو۔
۲۔ حضرت نبی کریم ﷺ هیڅ کله دَ چا نه دَ خپل ذات د پاره انتقام نهٔ دے اخستے، سېوا د دې نه چې کله به دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی احکامات ماتیدل۔
۳۔ حضرت نبی کریمﷺ دَ ټولو خلقو نه زیات ښائسته، دَ ټولو نه زیات سخي او دَ ټولو نه زیات بهادر ؤ۔
۴۔ حضرت نبی کریم ﷺ همیشه دَ مشکلاتو سره پهٔ اول نمبر کښې ؤ او دَ ثابت قدمۍ مظاهره به ئې کوله۔
۵۔ حضرت نبی کریم ﷺ همیشه دَ تکبر او غرور نه ځان ساتلو۔
۶۔ حضرت نبی کریم ﷺ به دَ خپلوانو حق ادا کولو او دَ محتاجو بوج به ئې اوچتولو۔
۷۔ حضرت نبی کریم ﷺ به دَ مېلمنو مېلمستوب کولو او دَ حق پهٔ لار کښې دَ مشکلاتو والو خلقو مدد به یې کولو۔
۸۔ حضرت نبی کریم ﷺ دَ سَیِّدالمرسلین کېدلو باوجود دَ خپل لباس خیال ساتلو او دَ کور کار به یې هم پخپله کولو۔
۹۔ حضرت نبی کریم ﷺ به دَ ضرورت مطابق خبرې کولې۔
۱۰۔ حضرت نبی کریم ﷺ به همېشه هغه خبره کوله چې پهٔ کوم باندې به دَ اجر او ثواب امېد ؤ۔
۱۱۔ حضرت نبی کریم ﷺ به اکثر تبسم کولو او مُسکے به ؤ۔
۱۲۔ حضرت نبی کریم ﷺ به دَ صحابه کرامو سره پهٔ انتهائي خوش اخلاقۍ او نرمۍ سره ژوند تېرولو۔
۱۳۔ حضرت نبی کریم ﷺ به د هیچا جائز درخواست نهٔ رد کولو۔
۱۴۔ دَ حضرت نبی کریم ﷺ پهٔ نظر کښې به دَ چا اهمیت او مرتبه دَ هغه ښائسته معاملې خاص کر دَ خلقو دَ خیرخواهۍ او همدردۍ پهٔ بنیاد باندې وو۔
۱۵۔ حضرت نبی کریم ﷺ نه سخت مزاجه ؤ او نهٔ تیز مزاجه بلکې انتهائي شفقت او رحمت کولو والا ؤ۔
۱۶۔ حضرت نبی کریم ﷺ به دَ خلقو پهٔ عېبونو او کمو پسې نهٔ ورپسې کېدو۔
۱۷۔ حضرت نبی کریم ﷺ به پهٔ مزاح یعنې پهٔ ټوقو کښې هم رښتیا وئیل۔
۱۸۔ حضرت نبی کریم ﷺ به پهٔ خوراک کښې عېب نهٔ راویستلو، که خواهش ته به ئې کېدو، نو خوړلو به ئې او که نهٔ به کېدو، نو پرېښودلو به ئې۔
۱۹۔ دَ حضرت نبی کریم ﷺ هر فرمان دَ حکمت او هوښیارتوب نه ډک ؤ۔

## دَ زنانوو دَ حقونو متعلق څو فرامينِ (وېناګانې) نبوی ﷺ

۱ ـ حضرت نبی کريم ﷺ دَ حجّة الوداع په موقع اوفرمائل: ... خلقو! تاسو دَ زنانوو په باره کښې دَ الله نه ويرېږئ ځکه دوي تاسو دَ الله په امان سره اخستي دي او تاسو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى په کلمه (نکاح) سره دوي دَ خپلو ځانونو د پاره حلالي کړي دي، ستاسو په دوي حق دادے چې دوي به ستاسو په بسترو باندې چا لره دَ راتګ اجازت نهٔ ورکوي، چې د چا په راتګ تاسو خفه کېږئ او که چرته يې داسي وکړل، نو تاسو ورله داسې سزا ورکړئ چې د دې نه زخم جوړ نهٔ شي او دَ دوي په تاسو دا حق د ے چې تاسو دَ خپل حېثيت مطابق دوئ د خوراک او لباس ورکړئ.

۲ ـ حضرت نبی کريم ﷺ فرمايي په تاسو کښې بهتر هغه د ے چې دَ خپل کور والو سره ښهٔ وي او زهٔ دَ خپل کور والو سره ستاسو دَ ټولو نه ښهٔ يم.

۳ ـ حضرت نبی کريم ﷺ فرمائي چې په مسلمانانو کښې بهترين ايمان والا هغه د ے چې دَ هغه اخلاق ډېر ښهٔ وي او هغه (خاص کر ) دَ خپلې بي بي سره دَ ټولو نه زيات نرمي کولو والا وي.

۴ ـ حضرت نبی کريم ﷺ فرمائي چې کوم کس دَ دوو (۲) لوريانو (ښهٔ) پرورش وکړو، تر دې چې پېغلې شوې، حضرت نبی کريم ﷺ خپلې دوه ګوتې ميلاو کړې (اشاره ئې وکړه) وې فرمائل چې دَ قيامت په ورځ به زهٔ او هغه داسې (يعنې يوځائے) يو وو.

## دَ حضرت نبی کريم ﷺ په تعظيم او عزت کښې کولو دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم طريقه

(۱) دَ حضرت نبی کريم ﷺ نه به چاپېره صحابه کرام داسې په ادب سره ناست وو، داسې به معلوميده لکه چې دَ دوي په سرونو مرغۍ ناستې وي.

(۲) دَ صلح حديبيه په موقع باندې عروه بن مسعود ﷺ دَ حضرت نبی کريم ﷺ د پاره دَ صحابه کرام رضي الله عنهم ادب او تعظيم داسې شانته بيانوي چې کله حضرت نبی کريم ﷺ اودس کولو، نو صحابه کرامو رضي الله عنهم د دې اوبو حاصلولو د پاره ډېر زيات کوشش کولو.

(۳) چې کله به حضرت نبی کريم ﷺ خبره کوله، نو صحابه کرامو رضی الله عنهم به خپل آوازونه ښکته کړل او تعظيمًا به ئې دَ حضرت نبی کريم ﷺ مخې ته خپل نظرونه ښکته کول.

(۴) ابوهریرهﷺ فرمايي: چې ما دَ حضرت نبی کریمﷺ نه زيات حَسين (ښائسته) نهٔ دے ليدلے ( دَ حضرت نبی کریمﷺ مخ دومره نوراني ؤ) چې دَ حضرت نبی کریمﷺ مخ مبارک دَ نمر پشانته روښانه ښکارېدو او چې کله به حضرت نبی کریمﷺ مسکے شو ، نو (کله کله به) ديوالونه هم روښانه ښکارېدل.

(۵) چې کله به حضرت نبی کریمﷺ ويښتان کټ کول، نو صحابه کرام رضي الله عنهم به دَ حضرت نبی کریمﷺ ويښتان پهٔ خپلو لاسونو کښې (بطور تبّرک) راخستل.

## دَ حضرت محمّد رسول اللهﷺ خاتم النبيّين دَ پاکيزه تعليماتونه څو خبرې

۱ ـ مونځ: " پهٔ عملونو کښې دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ نزد دَ ټولو نه زيات محبوب عمل پهٔ خپل وخت مونځ کول دي ـ (صحيح بخاري)

۲ ـ علم :"چې کوم کس دَ علم پهٔ تلاش کښې وځي، دا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ لاره کښې دے ترڅو چې واپس شوے نهٔ وي ـ (جامع ترمذي)

۳ ـ وخت : پنځهٔ خبرې دَ پنځوو نه مخکښې غنيمت وګڼه (۱)ځواني دَ بوډاوالي نه مخکښې (۲) صحت دَ بيمارئ نه مخکښې (۳) ما لداري دَ غريبئ نه مخکښې (۴) فراغت دَ مصروفيت نه مخکښې (۵) ژوند د مرګ نه مخکښې ـ (جامع ترمذي)

۴ ـ والدين : ''هغه کس دې رسوا شي، هغه کس دې ذليله شي، هغه کس دې خوار شي چې خپل مور او پلار دَ بوډاوالي پهٔ حالت کښې بيامومي او دَ هغوي دَ خدمت پهٔ وجه جنت ته داخل نهٔ شي ـ (صحيح مسلم)

۵ ـ دوست : "انسان دَ خپل دوست پهٔ دين باندې وي، نو هر کس د پکار دي چې هغه اوګوري چې دا څوک دوست جوړي ـ (جامع ترمذي)

۶ ـ اتحاد: "مسلمان پهٔ رحم دلئ او پهٔ خپل مېنځ محبت او الفت کښې دَ يو جسم پشان دي، چې کله دَ بدن يو اندام ته تکليف وي، نو ټول بدن ته تکليف محسوسيږي ـ (صحيح بخاري)

۷ ـ سلام : "الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ته يقيناً هغه کس نزدې دے چې پهٔ سلام کښې مخکښې والے کوي ـ (سنن ابی داؤد)

۸ ـ ادب : "هغه کس زمونږ نه نهٔ دے چې زمونږ پهٔ ماشومانو باندې شفقت نهٔ کوي او دَ مشرانو ادب نهٔ کوي ـ (جامع ترمذي)

۹ ـ شکر: "څوک چې دَ خلقو شکر نهٔ ادا کوي، نو هغه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی شکر هم نهٔ ادا کوي (جامع ترمذي)

۱۰ ـ رحم د لی: الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ هغهٔ چا رحم نهٔ کوي چې څوک پهٔ خلقو رحم نهٔ کوي ـ (صحيح

## (دَ علم او عمل خبرې)

۱ ـ دَ حضرت نبی کریمﷺ ژوند مبارک زمونږ دپاره بهترینه نمونه ده، مونږ لره پهٔ خپل روزانه معمولات کښې دَ حضرت نبی کریمﷺ مبارک ژوند د لارې ډیوه جوړول پکار دي.

۲ ـ دَ حضرت نبی کریمﷺ اتباع دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ محبّت او مغفرت دَ حصول ذریعه ده، لِهٰذا مونږ لره دَ حضرت نبی کریمﷺ کامل اتّباع کول پکار دي.

۳ ـ دَ حضرت نبی کریمﷺ تابعدارۍ سره مونږ لره ښائسته اخلاق زده کول او خورول پکار دي.

۴ ـ پهٔ حضرت نبی کریمﷺ باندې مونږ لره پهٔ کثرت سره درود وئیل پکار دي.

۵ ـ مونږ لره پهٔ دې مکمّل یقین کول پکار دي چې حضرت نبی کریمﷺ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آخری نبی دے او دَ حضرت نبی کریمﷺ نه بعد دَ قیامت پورې هیڅ نبی نهٔ راځي.

۶ ـ پهٔ وخت باندې مونځ کول دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ نزد محبوب ترین عمل دے،لِهٰذا مونږ لره پهٔ باقاعدګۍ سره پهٔ وخت باندې مونځ کول پکار دي.

۷ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ رحمت دَ حاصلولو یو ذریعه پهٔ خلقو باندې رحم کول دي.

۸ ـ دَ لوریانو ښهٔ تربیت کولو والا به دَ قیامت پهٔ ورځ حضرت نبی کریمﷺ ته نزدې وي.

۹ ـ دَ خلقو سره پهٔ شفقت او حسنِ سلوک سره راتلل دَ حضرت نبی کریمﷺ مبارک سنت دي.

۱۰ ـ دَ حضرت نبی کریمﷺ پهٔ سنت باندې دَ عمل کولو وسائل او دَ سهولت کیدلو باوجود مونږ د پهٔ خپله دَ لباس خیال ساتل هم پکار دي او پهٔ کورني کارونو کښې برخه اخستل پکار دي.

### ځان پرې پوهٔ کړئ او حَل ئې کړئ

۱ ـ دَ لاندې لیکلے شوو سوالاتو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ دَ حضرت نبی کریمﷺ دَ والدګرامی او دَ والده صاحبې نوم مبارک ولیکئ؟

--------------------------------------------------------------------

--------------------------------------------------------------------

۲ ـ دَ حضرت نبی کریمﷺ ټول خومره ځامن او لوریانې وې دَ دوي نه دَ دریوو نومونه ولیکئ؟

--------------------------------------------------------------------

--------------------------------------------------------------------

۳ ـ حضرت نبی کریمﷺ دَ اعلانِ نبوّت نه مخکښې پهٔ کومو کومو القاباتو سره یادیدلو؟

--------------------------------------------------------------------------------

--------------------------------------------------------------------------------

۴. پهٔ حضرت نبی کریمﷺ باندې دَ وحې دَ نزول نه بعد اول کومو څلورو خلقو ایمان راوړے وُ؟

--------------------------------------------------------------------------------

--------------------------------------------------------------------------------

۵. حضرت نبي کریمﷺ ته دَ مکی زندگۍ پهٔ آخري دور کښې کومه معجزه ورکړې شوه؟

--------------------------------------------------------------------------------

--------------------------------------------------------------------------------

## ۲. خالي ځایونه ډک کړئ؟

(۱) "اے نبی کریمﷺ! بېشکه مونږ تاسو ته - - - - - -ورکولو - - - - - - - -اورولو والا او دَ عذاب نه - - - - - - والا جوړ کړے لېږلے او دَ الله دَ طرف نه د هغې پهٔ حکم سره بللو والا او روښانه - - - - -(جوړ کړے لیږلے ئي).

(۲) حضرت نبی کریمﷺفرمائیلي: چې کله زهٔ تاسو ته ستاسو - - - ---- - - - -او دَ ټولو خلقو نه زیات- -- - -نهٔ شم تاسو - - - - -نهٔ شئ کیدلے.

(۳) حضرت نبی کریمﷺفرمائیلي: چې دَ قیامت پهٔ ورځ به دَ ټولو نه مخکښې زهٔ-------کوم او دَ ټولو نه مخکښې به زما -------قبلولے شي.

(۴) حضرت نبی کریمﷺفرمائي: پهٔ تاسو کښې ښهٔ هغه دے چې دَ خپل---والو سره ښهٔ وي او زهٔ دَ خپل---والو دَ پاره پهٔ تاسو ټولو کښې ښهٔ یم.

(۵) حضرت نبی کریمﷺ چې- - - - -فرمائل، نو صحابه کرامو رضی الله عنهم به خپل آوازونه- - - - - - -کولو او تعظیماً به دَ حضرت نبی کریم ﷺ مخې ته خپل نظرونه- - - - - - -کوله.

(۶) حضرت نبی کریمﷺ همېشه- - - - -مخکښې کیدلو د پاره دَ ټولو نه- - - - -ؤ او - - - - -مظاهره کوله.



**کورنۍ هله زله**

پهٔ هفته کښې یوه ورځ مقرر کړئ او ټول کور والو دَ نبی کریمﷺ دَ حیات مبارکه پهٔ یوطرف باندې دَ مذاکرې اهتمام کوئ او پهٔ یو منتخب شوې موضوع باندې دَ کور افراد پهٔ خپل مېنځ کښې تبادله خیال کوئ.

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُورَةُ الفَاتِحَة

## تعارف

سورة الفاتحه دَ قرآن حکيم اولنۍ سورت دے، دَ دې سورت څو نومونه دي، د دې مشهور نوم سورة الفاتحه ده، ځکه چې دا دَ قرآن حکيم افتتاحی سورت دے، دَ دې تلاوت پۀ هر مونځ کښې کولے شي، د دې وجې دې ته "سورة الصّلٰوة" هم وائي، د دې سورت نوم "سُوْرَةَ المناجات" هم دے، ځکه چې پۀ دې سورت کښې دَ دعاء غوښتلو طريقه ښودلې شوې ده، پۀ دې سورت کښې بنده د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى تعريف او شکر ادا کوي د خپلې بندګۍ اظهار کوي او د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى پۀ هدايت (نيغه لاره) د استقامت دعا غواړي۔ سُوْرَةَ الفاتحه دعاء ده او ټول قرآن حکيم دَ الله دَ طرفه د دې دعاء جواب دے۔ دَ سورة الفاتحه دَ تلاوت پۀ اختتام آمين وئيل مسنون دي۔ د دې مطلب دا دے اے الله دغه رنګې اوکړه، اے الله! قبول يې کړه۔ پۀ احاديثو مبارکوو کښې دَ سورة الفاتحه ډير فضايل بيان شوي دي، حضرت نبي کريمﷺ فرمايي: دَ سورة الفاتحه پشان سورة نۀ پۀ تورات کښې نازل شوے دے، نۀ پۀ زبور کښې، نۀ پۀ انجيل کښې او نۀ پۀ باقی قرآن کښې (جامع ترمذی)

پۀ يو موقعه باندې حضرت نبی کريم ﷺ يو صحابیؓ ته اوفرمائيل: چې زۀ تا ته دَ قرآن پۀ سورتونو کښې يو عظيم ترين سورت او نۀ ښايم (بيا) حضرت نبي عليه السلام اوفرمائيل (هغه سورت) يعنې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ" اَلسَّبْعُ الْمَثَانِي دے ( اووۀ پيره لوستلو والا آياتونه دي چې پۀ مونځ کښې باربار لوستلے شی) او دغه " القرآن العظيم" دے چې ما ته راکړے شوے دے (صحيح بخاری)
نبی عليه السلام ته داسې دوه نورونه ورکړے شوي دي چې مخکښې د نبی عليه السلام نه چا ته نۀ دي ورکړے شوي، يعنې سورة الفاتحه او دَ سورة البقره آخری دوه آياتونه (صحيح مسلم)

**فرمانِ نبویﷺ**

"قرآنِ حکيم سيدها لار ده۔ (ترمذی)

دَ عائشه رضی الله عنها وينا ده چې دَ نبی عليه السلام اخلاق قرآن ؤ۔ (مسند احمد)

## دَ تَعَوُّذ "اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ" فضيلت

دَ قرآن حکيم دَ تلاوت نه مخکښې تَعَوُّذ لوستل د دې وجې ضروري دي چې دَ شېطان دَ غټو چلونو نه لوے چال دا دے چې دَ الله پېغام دَ هغۀ بندګانو ته و نۀ رسېږي۔ دَ اعوذ بِالله دَ وئيلو د وجې نه انسان دَ شېطان مردود دَ شر نه اوځی او دَ الله پۀ پناهي او حفاظت کښې راځی او دَ شېطاني وسوسو نه لرې کېږي۔ د دې وجې نه الله تعالٰي ارشاد فرمائيلے" چې کله تاسو د قرآن مجيد تلاوت کوئ، نو دَ شېطان مردود دَ شر او چلونو نه پناه طلب کوئ۔ (سورة النحل ۱۲،آيت:۹۸) البته دا پۀ خاص طور ياد لرئ چې تعوّذ دَ قرآن برخه نۀ ده۔

**عملی خبره:** لکه څرنګه چې مونږه پۀ سورة الفاتحه کښې دَ ټول امّتِ مسلمه دپاره دعاء غواړو، هم دغۀ رنګې مونږه پۀ خپلو ټولو دعاګانو کښې هم پوره امّت مسلمه شريک کول پکار دي۔

## دَ تسميه "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" فضيلت

دَ يو جائز کار نه مخکښې دَ بسم الله وئيلو مطلب دا دے چې دا عمل دَ الله پۀ نوم شروع کولے شي او د هغه د رضا د پاره کولے شي کوم عمل چې د الله د نوم نه شروع شي، نو پۀ دې کښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی برکت او مدد شامل وی۔ دَ ټولو نه پۀ اوله وحې کښې هم دَ رب پۀ نوم دَ وئيلو حکم شوے دے ۔ (سورة العلق ۹۲ آيت :۱) پۀ يو حديث کښې نبی عليه السلام فرمايي :" چې کوم جائز کار د الله د نوم بسم الله نه غير شروع شي، نو هغه نا مکمل او بې برکته وی ۔ (مسند احمد)

## سُوْرَةُ اَلْفَاتِحَة

سورة الفاتحه ۱ ټول آیاتونه : ۷، ټولې رکوع ګانې : ۱

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ اَلرَّجِيْمِ

زۀ د الله پۀ پناه کښې راځم د شیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۱۰۰

خاص دَ الله پۀ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډیر رحم کولو والا دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۲۰۰ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۳۰۰

ټول صفتونه خاص د الله د پاره دي، چې پالونکے د ټول عالم دے۔ چې ډیر مهربان او ډیر زیات مهربان دے۔

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۴۰۰ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۵۰۰

خاوند د ورځې دَ بدلې دے ۔ خاص تا له عبادت کوو مونږ او خاص لتا نه مدد غواړو ۔

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۶۰۰ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۱

مونږه پۀ نیغه لاره روان کړې ۔ پۀ لار دَ هغۀ کسانو چې انعام کړے تا پۀ هغوي باندې

غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۷۰۰

چې غضب نۀ دے شوے پۀ هغوي باندِې او نۀ لار د هغه کسانو چې ګمراه (بې لارې) دي ۔ (اٰمین)

### آیا تاسو پوهېږئ؟

چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انعام یافته خلق انبیاء کرام علیهم السلام، صدیقین، شهیدان او نیکان دي۔ (سورة النساء ۴، آیت ۶۹)

# اَهمي نکتې

# دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ ټولو صفتونو حقدار دے ځکه هغه زمونږ پیدا کونکے، مالك، رب او محسنِ حقیقی دے ـ (سورة الفاتحه،آیت: ۱)

۲ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د ټولو خپل مخلوقاتو پاللو والا او د دې ضرورتونه پوره کولو والا دے ـ (سورة الفاتحه، آیت: ۱)

۳ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په خپل مخلوق باندې ډیر زیات مهربان دے ـ (الفاتحه،آیت: ۲)

۴ ـ دَ قیامت ورځ دَ بدلې او سزا ورځ ده، په دې ورځ به صرف د الله بادشاهت وي، ټول اختیار به دَ هغهٔ سره وي او دَ سفارش اختیار به هم دَ هغهٔ د طرفه وي ـ (سورة الفاتحه،آیت: ۳)

۵ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ذات دَ عبادت لائق دے ـ مونږ د دَ هغهٔ عبادت کول پکار دي ـ (سورة الفاتحه،آیت: ۴)

۶ ـ مونږ لره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه مدد غوښتل پکار دي ځکه هغه حقیقتًا او مستقلاً دَ مدد کولو والا دے ـ (سُوْرَة الفاتحه،آیت: ۴)

۷ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ښودلې شوې لار دَ هدایت او کامیابۍ لاره ده، مونږ هر وخت هدایت ته محتاج یو ـ (سُوْرَة الفاتحه،آیت: ۵)

۸ ـ مونږ لره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ انعام یافته بندګانو پیروي کول پکار دي ـ (سُوْرَة الفاتحه ،آیت: ۶)

۹ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ نافرمانی کولو والا نه ناراضه کیږي ـ مونږ لره دَ هغوی دَ نافرمانۍ نه بچ کېدل پکار دي ـ (سُوْرَة الفاتحه،آیت: ۷)

۱۰ ـ چې کوم خلق دَ الله تعالی دَ انعام یافته بندګانو تابعداري نهٔ کوي، نو هغه ګمراه کېږي ـ (سُوْرَة الفاتحه،آیت: ۷)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل يې کړئ

**۱ خالي ځايونه ډك کړئ:**

۱ : دَ ټول ______________________ حقدار الله تعالیٰ دے.

۲ : مونږ هر وخت ______________________ته محتاج يو .

۳ : دَ قيامت ورځ د______________________ او د سزا ورځ ده.

۴ : دَ الله تعالیٰ انعام يافته بنداګانو پيروی نۀ کولو والا ____________کيږی.

۵ : دَ سورة الفاتحه د تلاوت پۀ آخر کښې ________________وئيل پکار دي.

معلوم کړئ: دَ رب، رحمٰن، رحيم، عبادت او هدايت وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ؟

**۲ دَ لاندې ليکلي شوو سوالونو جوابونه وركړئ.**

۱ : صرف الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ ټولو صفتونو حقدار ولې دے؟

------------------------------------------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------------------------------------

۲ : دَ حديث شريف مطابق دَ صراط المستقيم نه څه مراد ده؟

------------------------------------------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------------------------------------

۳ : دَ الله انعام يافته بندګان څوك دي؟


------------------------------------------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------------------------------------

۳. د لاندې اولنۍ کالم الفاظ دَ دويم کالم متعلقه الفاظو سره ميلاو کړئ او يو شانته رنګ ورکړئ:

| | |
|---|---|
| سُوْرَةُ الفَاتِحه | افتتاحي سُوْرَة |
| سُوْرَةُ المنَاجَات | په مونځ کښې ويل |
| الصراط المستقيم | د دعاغوښتلو طريقه |
| الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ | دَ انعام يافته بندګانو لاره |
| سُوْرَةُ الصلوٰه | رب العالمين |

۴ ''دَ علم او عمل دَ خبرو په مدد سره د الله صفتونه اوليکئ



سوچ او کړئ !!! تاسو دَ مونځ ادا کولو دپاره جماعت ته ځئ چې تاسو ته یو دوست دَ لوبو کولو مشوره درکړله، نو په دې صورت کښې به تاسو څۀ کوئ ؟



## کورنئ هلې زلې

- سورة الفاتحه دَ ترجمې سره یاده کړئ او خپل کور والو ته ئې واوروئ.
- دَ سورة الفاتحه پۀ تعارف کښې د ورکړے شوو نومونونه علاوه دَ سورة الفاتحه نه علاوه څلور نومونه اولیکئ.
- دَ قرآنِ حکیم پۀ کوم یو سورة کښې ډیر اسمآءِ حسنٰی پۀ یو ځل راغلي دي دَ دوي نه لس نومونه پۀ ښائسته شکل کښې پۀ یو چاټ بانډې اولیکئ او خپل ملګري ته ئې تحفه کړئ.

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/ د کور د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

## دَ هاتهي والو قصه

دَ الله کور خانه کعبه ده، دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالٰی کور خانه کعبه دَ عبادت د پاره اول کور جوړ شوے دے، چې پۀ مکّه مکرمه کښې دے، دَ حضرت آدم عليه السلام دَ زماني نه دا کور دَ عبادت، عزت او احترام مرکز دے ـ مسلمانان خانه کعبې طرف ته مخ کوي او مونځ ادا کوي او د دې طواف کوي ـ خانه کعبه د الله سُبْحَانَهُ وتَعَالٰی دَ لويو نشاناتو نه يوه عظيمه نشانه ده، دَ حضرت نوح عليه السلام پۀ قوم چې کوم طوفان راغلے ؤ، نو دَ هغې وجې نه دَ خانه کعبې ټول دېوالونه غورځېدلي وو ـ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالٰی حضرت ابراهيم عليه السلام ته دَ وحې پۀ ذريعه باندې دَ کعبې دَ بنيادونو نشاندهي اوکړه، نو پۀ دغۀ بنيادونو باندې ابراهيم عليه السلام او دَ هغۀ بچے حضرت اسمٰعيل عليه السلام دَ خانه کعبې دېوالونه اوچت کړل۔

## دَ ابرهه د عبادت ځائے

دَ حبشو بادشاه ابرهه الاشرم دَ يمن ګورنر مقرر کړو ـ ابرهه دَ يمن پۀ علاقه "صنعاء" کښې يو ډېره ښائسته او غټ د عبادت ځائے جوړ کړو ـ د دې دَ جوړولو مقصد دا ؤ چې خلق دَ خانه کعبې پۀ ځائے د دې ګرجې (د عبادت ځائے) عبادت لره راځي ـ دا خبره اهل مکه او د عرب نورو قبائلو ته بلکل ناخوښه وه، لهٰذا پۀ دې وجه خلقو کښې يو کس د ابرهه پۀ عبادت ګاه کښې ګندګي وغورځوله ـ ابرهه لره ډېره غصه ورغله، هغه سوچ اوکړو چې ترڅو پورې خانه کعبه موجوده وي، نو خلق دې ګرجې لره عبادت د نۀ راځي۔

## دَ هاتهي والا فوځ

ابرهه يو لوے فوځ راجمع کړو او يو څو غټ طاقتور هاتهيان ئې دَ ځان سره بوتلل ـ د دې وجې نه دې ته واقعه دَ "اصحاب الفيل" وائي (دَ هاتهيانو والا پۀ نوم باندې ذکر کړے شوه) ـ ابرهه خپل لښکر مکّې مکرّمې طرف ته روان کړو او د دوي اراده (معاذالله) دَ خانه کعبې دَ ورانولو وه ـ مکې ته دَ رسېدلو نه مخکښې ابرهه مکّې ته پېغام اولېږلو چې زمونږ اراده صرف دَ خانه کعبې دَ ورانولو ده او دَ مکې والا سره جنګ کول نۀ غواړو او که چرته دوي دَ لارې بندولو کوشش وکړو، نو هغه به دوئ ټول به برباد کړي ـ

## دَ مکې والو اوښان

کله چې مکې مکرمې ته نژدې راورسېدل، نو دَ ابرهه فوځ دَ مکې والو اوښان او شپونکيان اونيول. په دوي کښې دوه سوه اوښان دَ نبی علیه السلام دَ نيکهٔ عبدالمطلّب هم وو. حضرت عبدالمطلّب دَ قرېشو دَ ټولو نه لوے سردار هم ؤ. هغهٔ دَ ابرهه دَ ملاقات د پاره د هغوی خواله راغلے. ابرهه چې هغه کله اوليدلو، نو ډېر متاثره شو. عبدالمطلب دَ اوچت قد والا، ډېر ښائسته، باوقاره سړيتوب مالك ؤ. حضرت عبدالمطلّب ابرهه ته اوئيل چې تاسو کوم دوه سوه اوښان زما نيولي هغه ما ته واپس کړه،ابرهه په دې خبره حيران شو او وې وئېل چې زما خيال راغلے ؤ چې تهٔ به ما ته دَ خانه کعبې دَ نهٔ ورانولو خبره کوې کله چې تهٔ صرف د اوښانو خبره کوې، نو زهٔ دې مايوسه کړم. حضرت عبدالمطلّب جواب ورکړو چې اوښان زما دي دَ دې وجې نه زهٔ دَ اوښانو خبره کوم. خانه کعبه دَ الله کور دے او هغه به دَ خپل کور حفاظت پهٔ خپله باندې کوي. بيا ابرهه هغهٔ ته خپل اوښان واپس کړل.

## دَ حضرت عبدالمطلب دعا

دَ ابرهه دَ ميلاوېدلو نه واپس راغلو حضرت عبدالمطلّب مکې والو ته دَ غرونو دَ ختلو او ښار خالي کولو حکم اوکړو او پهٔ خپله يې دَ خانه کعبې کنډه اونيوله او دَ الله نه يې دعا اوغوښتله. "اے الله! دَ خپل کور حفاظت اوکړه او ابرهه او دَ هغهٔ لښکر نه خپل عزت والا کور بچ کړه". دَ دهٔ دَ دعا نه وروسته حضرت عبدالمطلّب دَ خپلو ملګرو سره يو طرف او بل طرف ته غرونو ته اوختل.

## دَ هاتهيانو والو پهٔ خانه کعبه باندې حمله

ابرهه دَ خانه کعبې د ورانولو د پاره يو غټ لښکر تيار کړو چې پهٔ دې کښې پهٔ زرګونو فوځ او څو هاتهيان هم وو. هغه هم پهٔ خپله پهٔ يو طاقتور هاتهي سور ؤ او د لښکر سره مکې ته راروان ؤ، چې کله لښکر وادی محسّر ته ورسېدو، نو دَ ابرهه هاتهي پهٔ زمکه کېناستلو، مخکښې نهٔ تلو، ليکن چې کله به ئې دَ مکې نه علاوه مخ اړولو، نو پهٔ تېزئ سره به ئې تېښته شروع کوله.

## دَ هاتهيانو والو انجام

پهٔ دغهٔ دوران کښې ګوري چې پهٔ فضا کښې دَ سمندر دَ طرف نه دَ مرغو سېل راغے او پهٔ ټول لښکر باندې راخور شو. دا وړې وړې مرغۍ وې چې دَ دوي پښو (پنجو) او مښوکو (خولو) کښې کاڼي اوچت کړي وو. دې مرغو دَ الله پهٔ حکم باندې دا کاڼړي دَ ابرهه پهٔ لښکر باندې غورځول شروع کړهٔ. پهٔ چا باندې به چې دا کاڼړے لګېدلو، هغه به خوَريدو او غوښه به ئې دوړېدله او آخر به مړ کېدو. پهٔ پوره

لښکر کښې ګډوډي پرېشاني راغله او ټول کافر هلاك شو ـ پهٔ خپله هم دَ ابرهه غلط انجام شو ، دَ هغهٔ ګوتې ورژېدے شوې او صنعاء ته پهٔ رسېدلو رسېدلو کښې يې حالت خراب شو بيا ئې سينه وچاوده او زړهٔ ئې راوتلو او مړ شو۔ دَ باقی خلقو دَ بدن اجزاء هم دغهٔ رنګې اوغورځېدل لکه خوړلي شوي بوس ـ مکّې والو ټول منظر پهٔ خپلو سترګو اوليدو او ياد يې کړو ـ د دې واقعې د وجې نه دې کال ته "عام الفيل" (د هاتهيانو والو کال) وئيلے شي ـ پهٔ دغه کال ټول کائنات د توحيد پهٔ نور منوّر کونکے زمونږ خوږ نبي خاتم الانبياء سيّدنا محمدﷺ پهٔ مکّه کښې پېدا شو ـ

## ددې قصی نه حاصل شوے سبق

د دې نه مونږ ته دا سبق ميلاو شو ، لکه څنګه چې پهٔ دې واقعه کښې الله رب العزت دَ خپل کور معجزانه طريقه باندې حفاظت اوکړو ـ هغه به آينده هم دَ خپل کور حفاظت کوي ـ

چې کوم خلق دَ الله دَ کور او دين (معاذالله) دَ ختمولو سازشونه کوي، هغه به پهٔ غلطو مقصدونو کښې کامياب نهٔ شی ـ الله به ئې پهٔ دې خراب مقصد کښې کامياب نهٔ کړې ـ دغهٔ رنګې دَ الله د دين دښمنان دَ اللهسُبْحَانَهُوَتَعَالٰی دَ عذاب نه هم ويرولے شو ـ

### آيا تاسو پوهيږئ ؟

وادی محسّر منٰی ته نزدې دَ يو ځائے نوم دے ـ دَ الله تعالٰی د رسولﷺ پهٔ نه ځايونو کښې پهٔ تېزی باندې دَ تيرېدلو معمول ؤ ، چې پهٔ کوم ځائے باندې به عذاب نازل شوے ؤو ـ دغهٔ رنګې نبی عليه السلام پهٔ وادی محسّر هم تېز تېر يدلو ـ

## دَ سيرت النبیﷺ د آخری ۱۰ لسو سورتونوسره تعلق

سورة الفيل: پهٔ دې سورت کښې چې دَ کوم فيل واقعې ذکر دے، دا پهٔ هغهٔ کال مخې ته راغله چې پهٔ کوم کال دَ حضرت نبي کريم ﷺ ولادت باسعادت شوے ؤ.

سورة قريش: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي کريم ﷺ دَ خاندان او قبيلې قرېشو ذکر دے.

سورة الماعون: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي کريم ﷺ دَ دښمنانوکردار بيان شوے دے.

سورة الكوثر: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي ﷺ دَ اوچت شان او پهٔ حضرت نبي کريم ﷺ باندې دَ الله تعالٰي د انعاماتو ذکر دے.

سورة الكافرون: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي کريم ﷺ دَ دعوت توحيد دَ مشرکانه دين لاتعلّقی او پهٔ دين حق باندې دَ ثابت قدمۍ ذکر دے.

سورة النّصر: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي کريم ﷺ دَ فتحې او دَ دين حق دَ غلبې بيان دے.

سورة اللهب: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي کريم ﷺ د دښمنانو انجام ښودلے شوے دے.

سورة الاخلاص: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي کريم ﷺ دعوت حق يعنې توحيد دَ باری تعالی طرف ته دَ رابللو ذکر دے.

سورة الفلق: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي کريم ﷺ پهٔ ذريعه دَ ننه شرونو نه دَ بچ کېدو د دعاء تلقين يعنې دَ الله پهٔ پناه او پهٔ حفاظت دَ راتګ ذکر دے.

سورة الناس: پهٔ دې سورة کښې دَ حضرت نبي کريم ﷺ پهٔ ذريعه دَ دننه شرونو نه دَ بچ کېدو د دعاء تلقين يعنې دَ الله پهٔ پناه او پهٔ حفاظت دَ راتګ ذکر دے.

### اَهمې نکتې

| |
|---|
| |
| |
| |
| |
| |

## سُوْرَتُ الْفِيْلِ

سُوْرَتُ الْفِيْلِ، ټول آياتونه:۵، ټولې رکوع ګانې: ۱

**شانِ نزول او پېژندګلو**: دَ قرآنِ حکيم بعضې سورتونه او بعضې آياتونه پۀ خاص وجوهاتو او حالاتو کښې نازل شوي دي، دَ دغۀ وجوهاتو او حالاتو بيان کولو ته د دې سورت يا آيت شانِ نزول وائي۔ دا سورت دَ ابرهه پۀ خانه کعبه باندې دَ حملې کولو پۀ باره کښې نازل شو۔ دا واقعه دَ حضرت نبي اکرمﷺ دَ پېدائش مبارک نه پنځوس (۵۰) ورځې مخکښې پېښ شوه۔ پۀ سورت الفيل کښې اوښودل شو چې څنګه اللّٰهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ خپل قدرت سره ابرهه او دَ هغۀ لښکر هلاک کړو او دَ خانه کعبې او دَ قريش مکّه حفاظت يې وکړو۔ اللّٰه سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ابرهه او دَ هغۀ پۀ لښکر باندې وړې وړې مرغۍ راولېږلې چې پۀ هغوي يې واړۀ واړۀ کاڼي راوغورځول او پوره لښکر يې تباه کړو۔

| | |
|---|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د اللّٰه پۀ پناه کښې راځم د شيطان رټلي شوي نه | خاص دَ اللّٰه پۀ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډير رحم کولو والا دے |

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِؕ ۰۰۱

اے نبيﷺ! ايا تا و نۀ ليدل چې ستا رب د هاتيانو والو سره څۀ سلوک وکړۀ۔

اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍۙ ۰۰۲ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَۙ ۰۰۳

ايا د هغوي چل (مکر) يې بې کاره او تاوان کښې نۀوګرځولۍ؟ او پۀ دوي باندې يې ډلې ډلې مرغان راخوشې کړل۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| تَرْمِيْهِمْ | بِحِجَارَةٍ | مِّنْ | سِجِّيْلٍ ۙ ۰۰۴ |
| چې دغو (مرغانو) به دوي لره پهٔ داسې کاڼو ویشتل چې د خټو نه جوړ، پهٔ اور پخ شوي وو۔ | | | |
| فَجَعَلَهُمْ | كَعَصْفٍ | | مَّاْكُوْلٍ ۰۰۵ |
| نو دغه (خلق) يې | دَ خوړلي شوو بُسو پهٔ | شان | وګرځول۔ |

**فرمانِ نبوی ﷺ**: "زما دَ امّت نه به اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان بې حسابه جنت ته داخلیږي، دَ هغوي پهٔ صفتونو کښې یو دا هم ده چې هغوي پهٔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی باندې توکّل کولو والا وي۔ (صحيح بخاری، صحيح مسلم)

## دَ علم او عمل خبرې

۱ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ ټولو نه زيات طاقت والا دے ـ هغه دَ خپل کور او دين حفاظت پۀ خپله کولو والا دے ـ (سُوْرَتُ الْفِيْلِ، آيت: ۱)

۲ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ دين خلاف سازشونو والا لره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ عذاب نه وېره پکار ده ـ (سُوْرَتُ الْفِيْلِ، آيت: ۲)

۳ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ دين دښمنان نۀ کاميابېږي ـ (سُوْرَتُ الْفِيْلِ، آيات: ۵،۲)

۴ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ طاقت سره مقابله کولو والا پۀ ظاهره پۀ کمزوري مخلوق سره تباه کول او دَ هغوي غرور دَ خاورو سره مېلاو شوے ـ (سُوْرَتُ الْفِيْلِ، آيات: ۳، ۴)

۵ ـ مونږ لره دَ دين دَ دښمنانو دَ طاقت نه مرعوب کېدل نۀ دي پکار ـ مونږ لره غټه بهروسه پۀ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى باندې پکار ده، ځکه هغه حقيقتًا او مستقلاً مدد کولو والا دے ـ (سُوْرَتُ الْفِيْلِ، آيت: ۵)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې

۱ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) دَ صحيح جملې سره کرښه ولګوئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
| --- | --- |
| ❖ دَ اصحاب الفيل نه مراد | ❖ دَ حضرت نبی کريمﷺ دَ پيدائش کال |
| ❖ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى پۀ اصحاب الفيل باندې | ❖ اصحاب الفيل دَ خوړلو شوو بوسو پشان شو |
| ❖ مرغو پۀ اصحاب الفيل باندې | ❖ دَ هاتيانو والا دي |
| ❖ دَ کاڼو پۀ باران سره | ❖ دَ مرغو سېلونه سېلونه راغلۀ |
| ❖ عام الفيل | ❖ دَ ختو دَ پکرو کاڼي وغورځول. |

۲ ـ دَ لاندې ليکلے شوو الفاظو پهٔ مدد سره خالي ځايونه ډک کړئ:

حضرت آدم ﷺ يمن، عبادت خانه، قريش، حضرت نبی کريم ﷺ، ابرهه، صنعاء، پنځوس، عبادت، سردار

(۱) دَ هاتهيانو والو واقعه________دَ پيدائش مبارک نه________ورځې مخکښې پېښه شوه.
(۲) پهٔ خانه کعبه باندې________حمله وکړه چې________ګورنر ؤ.
(۳) عيسائي ګورنر ابرهه________کښې يو ډېر ښائسته ________ جوړ کړلو.
(۴) خانه کعبه________زماني نه ________ او دَ عزت او احترام ؤ.
(۵) عبدالطلِّب________دَ ټولو نه غټ ________ؤ.


**عملي خبره:** دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی لښکرې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه سيوا څوک نهٔ پيژني چې هغه دَ هغوي نه څه کار اخلي، اګرچې دغه لښکرې پهٔ ظاهري طور باندې کمزورې پهٔ نظر راځي. مونږ لره پکار دي چې پهٔ هرحال کښې دَ خپل خالق او مالک مخې ته پهٔ عاجزۍ او تابعدارۍ سره ښکته شو.

۳ ـ پهٔ لاندې ليکلې شوې جملو باندې صحيح ✓ يا غلط (X) نښه ولګوئ:

| شمار | جملې | صحيح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | پهٔ ګرجاګهر (د عبادت ځائے) باندې مکې والا او نور عرب ډېر زيات خوشحاله وو. | | |
| ۲ | دَ عربو نه يو کس دَ ابرهه پهٔ ګرجاګهر (د عبادت ځائے) کښې ګندګي وکړه. | | |
| ۳ | حضرت دَ عبدالطلِّب پهٔ ملاقات باندې چې ابرهه دا وليدلو نو ډېر غصه شو. | | |
| ۴ | ابرهه يو غټ فوځ جمع کړلو چې پهٔ هغهٔ کښې هاتهيان هم وو. | | |
| ۵ | دَ ابرهه لښکر چې وادي محسّر ته ورسيدلو، نو مخې ته نهٔ تللو. | | |

۴ ـ دَ سورت الفيل متعلق لاندې ليکلے شوي الفاظ پهٔ ښکته خانو کښې وليکئ:

دَ بازانو سېل، دَ وادي محسّر نه مخکښې نهٔ تلل، دَ هاتهيانو والا هلاکت، دَ اوښانو لښکر، دَ يمن ګورنر ابرهه، دَ ګرجاګهر (د عبادت ځائے) تعمير، زلزله او باران، دَ حضرت عبدالمطلّب دعاء، پهٔ وادي طوىٰ کښې قيام، دَ خانه کعبې دَ ورانولو اراده، دَ وړو وړو مرغو راتلل، پهٔ کاڼو ويشتل.



معلوم کړئ: دَ هاتهي والو اصل چال، دَ ابرهه مقصدونه او دَ ابابيل وضاحت دَ خپل استاذانو کرامو نه معلوم کړئ۔

**۵۔دَلاندې ليکلے شؤو سوالونو جوابونهورکړئ۔**

۱۔دَ هاتهيانو والا مکې مکرمې ته ولې راغلي وو؟

---

---

۲۔دَ هاتهي دَ پاڅولو پۀ کوشش څۀ واقعه پېښه شوه؟

---

---

۳۔دَ هاتهيانو والا دَ قيصې نه مونږ ته څۀ سبق ميلاؤ شو يوه خبره وليکئ؟

---

---

۴۔حضرت عبدالمطلِّب دَ خانه کعبې کنډه ونيوله او کومه دعاء يې وکړه؟

---

---

سوچ وکړئ!!! ټول جماتونه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی کورونه دي۔ که چرته تاسو داسي خبره وينئ چې دَ مسجد دَآدابو نه خلاف وي، نو پۀ داسې صورت کښې به تاسو څه کوئ؟

## کورنۍ مشغولتیا


- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته یې واوروئ.
- دَ خانه کعبې مخکنې او نوې تصویران جمع کړئ پۀ چارټ یې ولګوئ.
- دَ خپل کور والو پۀ مدد سره دَ خانه کعبې دَ مختلفو حصو دَ نومونو دَ صحیح نمبر پۀ ذریعه نشادهي وکړئ.

☐ غلافِ کعبه ☐ دَ کعبې دروازه ☐ ملتزم ☐ رکنِ شامی

☐ د اوبو وتلو ځاے ☐ حجرِاسود ☐ حطیم ☐ رکنِ حجرِاسود

☐ مقام ابراهیم علیه السلام ☐ رکنِ عراقی ☐ رکنِ یمانی

☐ دَ ګټو نه جوړ شوی دَ کعبې بنیادونه




د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُوْرَةُ قُرَيْش

سُوْرَةُ قُرَيْش: ۱۰۲ ،ټول اياتونه: ۴، ټولې رکوع ګاني: ۱

شان نزول او پېژندګلو: دا سورت دَ مکي قرېش او پهٔ دوي باندي دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ احساناتو پهٔ باره کښې نازل شوے ـ قرېش دَ محمّدرسول الله خاتم النبيّينﷺ دَ قبيلې نوم دے ـ دَ قريش خلق دَ اسماعيل عليه السلام اولاد دے ـ دَ دې تعلق او دَ بيت الله انتظامات سنبالولو پهٔ وجه دوي ته پهٔ ټول عرب کښې عزت او امن حاصل ؤ ـ دَ دوي تجارتي قافلې به دَ لوټ مار نه محفوظ وې ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ يوې غټې علاقې تجارتي هلې ځلې دَ دوي پهٔ لاس کښې ايښې وې ـ دوي به دَ يخنۍ پهٔ موسم کښې يمن طرف ته تلل چې دا يوه ګرمه علاقه ده او دَ ګرمۍ پهٔ موسم کښې به شام ته تلل چې دا يوه يخه علاقه ده ـ پهٔ دې عظيم نعمتونو باندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ دوي نه دَ شکرکولو ، دَ شرک نه بچ کېدلو او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عبادت کولو حکم کړے دے ـ

فرمان نبويﷺ: الله تعالې پهٔ ټول اولاد اسماعيل عليه السلام کښې کنانه او پهٔ کنانه کښې ئې قرېش او پهٔ قرېشو کښې ئې بني هاشم او پهٔ بني هاشم کښې ئې زهٔ منتخب کړم (صحيح مسلم)

| بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ |
|---|---|
| خاص دَ الله پهٔ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډير رحم کولو والا دے | زهٔ د الله پهٔ پناه کښې راځم د شيطان نه چې ربټلې شوې |

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍۙ ۰۰۱ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِۚ ۰۰۲

دَ قرېشو د يو بل سره د الفت د وجې نه يعنې د ژمي او اوړي پهٔ سفر تجارت سره عادت کړه د دوي

فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِۙ ۰۰۳

نو پکار ده چې دوي د دې کور (خانه کعبه) دَ رب عبادت وکړي

الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ١ۙ

هغه (رب) چې دوی ته يې پهٔ لوږه خوراک ورکړو

وَّ اٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍؒ ۰۰۴

او دوي ته يې د وېرې نه (د ساتلو لپاره) امن (او بې خوفي) ورکړې ده

## آیا تاسو پوهېږئ؟

دَ عربو پهٔ قبائلو کښې قرېش دَ ټولو نه زیات معزّز قبیله وه چې دَ هغې مشر سردار حضرت عبد المطلِّب ؤ ـ دَ قرېش یو شاخ بنی هاشم ؤ ـ دا خاندان ډیر محترم ګڼړلے شو ـ دَ حضرت عبد المطلِّب زوے عبد الله پهٔ کور کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ آخری رسول سیدنا محمّد مصطفیٰ احمد مجتبیٰ ﷺ پېدا شو ـ دَ حضرت نبی کریم ﷺ خاندان ته دَ بیت الله انتظام او دَ حاجیانو دَ خدمت اعزاز هم حاصلوو ـ

### اَهمې نکتې

**عملي خبره**: زمونږ سره چې څۀ دي دا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ فضل دے، د دې وجې نه مونږ لره پکار دي چې همېشه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ احسانات ياد کړو او د دې شکر ادا کول پکار دي۔

## دَ علم او عمل خبري

۱ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ خپل بندګانو لره دَ روزۍ ګټلو سره دَ اشنا کولو الفت ورکړو ـ (سورت قريش،آيت: ۱)

۲ ـ دَ ګرمۍ او يخنۍ تجارتي سفر هم دَ الله فضل دے ـ (سورت قريش،آيت: ۲)

۳ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ پۀ نعمتونو شکر ادا کول هم عبادت دے ـ (سورت قريش،آيت: ۳)

۴ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ زمونږ رب دے او هغه دَ عبادت لائق دے ـ (سورت قريش،آيت: ۳)

## ځان پرې پوهۀ کړئ او حل يې کړئ

۱ ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کرښه ميلاو کړئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| ❖ دَ قريش خلق | ❖ بنوهاشم وو ـ |
| ❖ دَ حضرت نبی کريمﷺ تعلق ـ | ❖ دَ تجارتي سفر سره الفت ورکړو ـ |
| ❖ قريش دَ ګرمۍ او يخنۍ پۀ موسم کښې ـ | ❖ پۀ مکّه مکرّمه کښې آباد وو ـ |
| ❖ دَ قريش قبيلې يو شاخ | ❖ دَ تجارت د پاره به يې سفر کولو ـ |
| ❖ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ قريش ته | ❖ د قريش قبيلې سره وو ـ |

۲ ـ خالي ځايونه ډک کړئ ـ

۱ ـ دَ قريش خلقو د ـ ـ ـ ـ ـ انتظامات سنبالولو پۀ وجه دوي ته پۀ ټول عرب کښې عزت او امن حاصل ؤ ـ

۲ ـ دَ قريش خلق ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ اولاد دے ـ

۳ ـ دَ قريش قافلې به ـ ـ ـ ـ ـ ...نۀ محفوظ وې ـ

۴ ـ دَ قريش خلق به دَ يخنۍ پۀ موسم کښې ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ تلل ـ

۵ ـ دَ قريش خلق به دَ ګرمۍ پۀ موسم کښې ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ تلل ـ

معلوم کړئ: د قرېشو د سفر سره محبت،د خوراک څښکاک کول او د امن ورکولو خصوصي ذکر وضاحت د خپلو استاذانو نه معلوم کړئ.

### ۳. دَلاندې لیکلے شوُو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱. پۀ قرېشو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دوه انعامات ولیکئ.

______________________________________________

______________________________________________

۲. دَعربو خلقو به دَ قرېش قبیلې ولې عزت کولو؟

______________________________________________

______________________________________________

۳. الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی قرېشو ته څه حکم کړے وُ؟

______________________________________________

______________________________________________

سوچ وکړئ!!! که چرته ستا دَ کلاس ملګرے یوه ورځ تا ته دَ خوراک څښکاک څۀ را نۀ وړي، نو پۀ دې صورت کښې به تۀ څۀ کوې؟

## کورنۍ مشغولتیاګانې



- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته یې واوروئ.
- دَ قریشو دَ قبیلې دَ پنځهٔ خاندانونو نومونه دَ یو عالم نه وتپوسئ او وې لیکئ.
- مونږ لره دَ سفر په دوران کښې چې دَ کومو خبرو خیال ساتل پکار دي هغه رنګ کړئ.

| | |
|---|---|
| دعاکول | تکلیف ورکونکے څیز غورځول |
| دَ لارې په مېنځ تلل | دَ الله ذکرکول |
| خلق تنګول | دَ لارې په غاړه باندې تلل |
| دَ خلقو مدد کول | کچره غورځول |
| شورکول | په ماشومانو شفقت کول |

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُوْرَةُ الْمَاعُون

سُوْرَةُ الْمَاعُون ،ټول آياتونه:۷،ټولي رکوع ګانې:۱

شانِ نزول او پېژندګلو: پۀ دې سورت کښې دَ انکار کولو والو کړۀ وړۀ (کردار) بيان شوے دے ـ دَ آخرت دَ انکار دَ وجې نه دَ انسان پۀ کردار کښې ډېرې زياتې خرابۍ پېدا کيږي ـ داسې خلق پۀ يتيمانانو ظلم کوي او دَ غريبانانو پۀ خپله هم مدد نۀ کوي او نورو د هم ترغيب نۀ ورکوي۔ داسې خلق دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ عبادت نه غافله وي ـ که چرته څۀ نېکي هم کوي، نو دَ خلقو دَ ښودلو د پاره يې کوي۔ دا خلق دومره خودغرض وي چې دَ عام استعمال معمولي څيزونه دَ خلقو پۀ غوښتلو هم نۀ ورکوي۔

فرمانِ نبوی ﷺ: "هغه کس مؤمن نۀ شي کېدے چې پۀ خپله پۀ مړه خېټه خوراک کوي ليکن د دې سره نزدې ګاونډي وږے وي۔ (بيهقی)

| | |
|---|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله پۀ پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه | خاص دَ الله پۀ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډېر رحم کولو والا دے |

اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۰۰۱ فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۰۰۲

اے نبي ﷺ! اَيا تا هغه کس ليدلے چې د بدلې ورځ (قيامت) دروغ ګڼي۔ نو همدغه هغه کس دے چې يتيم ته ديکې ورکوي

وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۰۰۳ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۰۰۴

او مسکين ته پۀ خوراک ورکولو (نوروته) ترغيب نۀ ورکوي ـ نو هلاکت دې هغه مونځ کوونکو لره

الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۰۰۵

هغه کسان چې دوی د خپلو مونځونو نه غافله وي

الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۰۰۶ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۰۰۷

هغه کسان چې دوي رياکاري کوي او دوي (د استعمال معمولي څيزونه هم د يو بل نه) منع کوي

## اَيا تاسو پوهېږئ؟

دَ "وَيْلٌ" معنیٰ تباهي، بربادي او هلاکت دے۔ ويل پۀ جهنم کښې يو هېبتناک او دَ ژورې کندې نوم هم دے، چې پۀ دې کښې به قسم قسم عذابونه وي چې دَ دې نه جهنم پۀ خپله هم پناه غواړي۔

## آهمي نکتي

## دَ علم او عمل خبرې

۱. پهٔ آخرت باندې چې څومره ایمان کمزورے وي هغومره انسان دَ نیکو نه لرې وي. (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آیات: ۱ تا ۴)

۲. مونږ د چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی کوم نعمتونه راکړي دي پهٔ دې کښې نور هم شریک کړو. (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آیات: ۲، ۳، ۷)

۳. مونږ دَ غریبانانو او کمزورو سره همدردي او دَ هغوي سره مدد کول پکار دي. (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آیات ۲، ۳)

۴. مونږه دَ مونځ پهٔ حواله سره دَ غفلت نه بچ کېدل پکار دي او ټول مونځونه دَ پوره آدابو سره پهٔ خپل وخت باندې ادا کول پکار دي. (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آیات: ۴، ۵)

۵. پهٔ ریاکارۍ سره نېکې ضائع کیږي. (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آیات: ۲)

**عملي خبره:** مونږ لره دَ وخت پابندي او پهٔ پوره آدابو سره دَ ټولو مونځونو اهتمام پکار دے. پهٔ آدابو کښې دَ طهارت خیال ساتل، پهٔ ښهٔ طریقه اودس کول او پهٔ اطمینان او سکون سره مونځ دَ ارکانو سره ادا کول هم شامل دي.

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ:

### ۱. خالي ځایونه ډک کړئ:

۱. دَ آخرت دَ انکار دَ وجې نه دَ انسان پهٔ ...... کښې ډېرې زیاتې خرابۍ پیدا کیږي.

۲. پهٔ آخرت باندې ایمان انسان پهٔ ......باندې تېزوي.

۳. دَ مونځونو نه غافله انسانانو د پاره ........دے.

۴. مونږ د چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی کوم ..... راکړي دي پهٔ دې کښې نور هم شریک کول پکار دي.

۵. پهٔ ریاکارۍ سره نېکې ......کیږي.

### ۲. دَ لاندې لیکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱. پهٔ دې سورت کښې دَ کومو خلقو غلط انجام بیان شوے دے؟

___________________________________________________________________________

۲- دَ آخرت نه انکار کولو والا دَ یتیم او مسکین سره څه رویّه کوي؟

___________________________________________________________________________

___________________________________________________________________________

۳- دَ کومو مونځونو د پاره دَ هلاکت خراب خبر اورولے شوے دے؟

___________________________________________________________________________

___________________________________________________________________________

۴- دَ آخرت نه انکار کولو والا په کومه اراده نېکي کوي؟

___________________________________________________________________________

___________________________________________________________________________

۵- په آخرت باندې دَ یقین نۀ کولو دَ وجې نه دَ انسان په کردار باندې څه اثر پرېوځي، درې خبرې ولیکئ؟

___________________________________________________________________________

___________________________________________________________________________

معلوم کړئ: یتیم د دِېکې ورکول، په مسکین خوراک نۀ کول، په مونځونو کښې غفلت کولو والو وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ۔

۳- دَ سورت الماعون متعلق لاندې لیکلے شوي الفاظ په لاندې خانو کښې ولیکئ:

دَ آ خرت نه انکار، دَ یتیمانانو سره محبّت، ریاکاري، په مسکین باندې خوراک کول، معمولي څیزونه نۀ ورکول، ګنده صفات، خودغرضي، دَ عبادت نه غافل، په یتیمانانو باندې ظلم، دَ جمعې سره مونځ کول، په کردار کښې خرابي۔

سُوْرَةَ
الْمَاعُوْن

**سوچ وکړئ** !!! که چرته تاسو خپل ملګرے په جلتی جلتی مونځ کولو باندې ولیدلو، نو په دې صورت کښې به تاسو څهٔ کوئ؟

## کورنئ مشغولتیا

- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته ئې واوروئ.
- دَ عام استعمال والا دَ لس څیزونو نومونه ولیکئ چې مونږ یې یو بل ته غوښتلو کښې استعمالول پکار وي
- د خپل کور والا په مدد سره دَ خپلې محلّې په مسجد کښې دَ کیدلو والا ټول فرض مونځونو وختونه ولیکئ او د دې اوقاتو دَ پابندئ سره د مونځ کولو کوشش کوئ.

| مونځ | دَ جَمعې وخت |
|---|---|
| سحر | |
| ماسپخین | |
| مازدیګر | |
| ماښام | |
| ماسخوتن | |
| جمعه | |

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُوْرَةُ الْكَوْثَرِ

سُوْرَةُ الْكَوْثَرِ ، ټول آياتونه۳: ټولي رکوع ګاني:۱

**شانِ نزول او پېژندګلو:** دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ آخري رسول حضرت نبی کريمﷺ پۀ بچو حضرت قاسم او حضرت عبدالله رضی الله عنهما پۀ وفات باندې کافرانو خوشحالي مناو کړه او پۀ حضرت نبی کريم ﷺ باندې دَ ميراتي او بې نامه بې نشانه پېغور ورکړو ـ (معاذالله) پۀ دې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دا سورت نازل کړو ـ پۀ دې سورت کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پۀ خپل خوږ حبيب رسولِ اکرمﷺ باندې خاص فضل او انعامات بيان کړي دي ـ حضرت نبی کريم ﷺ ته يې کوثر "حوضِ کوثر" او "خيرِ کثير" يعنې دَ نعمتونو زياتوالے، بې شماره فضائل او برکاتو ورکولو ذکر کړے دے ـ پۀ دې سورت کښې دَ حضرت نبی کريمﷺ دَ دښمنانو دَ بې نام او بې نشانه کېدلو خبر ورکړے دے ـ پۀ دې عظيم نعمتونو باندې حضرت نبی کريم ﷺ ته د الله شکر ادا کولو د پاره دَ مونځ کول او دَ قربانۍ کولو تلقين کړے دے ـ دا دَ قرآنِ حکيم دَ ټولو نه وړوکے سورت دے، لکه چې سُوْرَةُ بقره دَ ټولو نه غټ سورت دے ـ

> **فرمانِ نبویﷺ:** "اوښايئ که چرته پۀ تاسو کښې دَ چا پۀ دروازه باندې جاري نهر وي چې پۀ دې کښې هره ورځ پنځۀ وخته غسل کوي (لامبي) نو آيا دَ دې پۀ بدن به څۀ خيرے باقي پاتې شي؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړو چې هيڅ (خيرے) به باقي پاتې نۀ شي، حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائل بلکل دغه مثال (دَ پنځۀ) مونځونو هم دے، الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ د دې پۀ ذريعه سره ګناهونه وينځي او ختموي ـ (صحيح بخاری و صحيح مسلم،نهج البلاغه)

| | |
|---|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله پۀ پناه کښې راځم د شيطان رټلي شوي نه | خاص دَ الله پۀ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډير رحم کولو والا دے |

| |
|---|
| اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۰۰۱ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَ انْحَرْ ۰۰۲ |
| اے نبيﷺ! بېشکه مونږ تا ته کوثر درکړے دے ـ نو تاسو دَ خپل رب د پاره مونځ کوئ او قرباني کوئ |
| اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۰۰۳ |
| بېشکه ستاسو دښمن هم هغه بې نسله، (بې نومه او بې نشانه) وي ـ |

## آیا تاسو پوهېږئ؟

"کوثر دَ جنت دَ یو نهر نوم دے چې دَ دې دواړه کنارې (غاړې) دَ سرو زرو دي چې دَ دې اوبهٔ دَ ملغلرو او دَ یاقوتو پهٔ کاڼو باندې بهېږي، دَ دې اوبهٔ دَ شهد (ګبین) نه زیاتې خوږې دي. دَ پیو (شودو) نه زیاتې سپینې او دَ واورې (برف) نه زیاتې یخې دي او دَ مشکو نه زیاتې خوشبوداره دي. (مسند احمد)

## دَ علم او عمل خبرې

١. الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ ټولو نه زیات انعامات پهٔ نبیﷺ باندې کړي دي. (سُوْرَتُ الْكَوْثَر، آیت: ١)

٢. دَ نبیﷺ دَ خصوصي فضائلو نه یو داده چې نبیﷺ ته حوضِ کوثر ورکړے شوے دے. (سُوْرَتُ الْكَوْثَر، آیت: ١)

٣. مونږ د دَ الله پهٔ نعمتونو شکر ادا کول پکار دي. (سُوْرَتُ الْكَوْثَر، آیت: ٢)

۴. مونځ او قربانې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ شکر ګزارۍ ذریعه ده. (سُوْرَتُ الْكَوْثَر، آیت: ٢)

۵. دَ رسول اللهﷺ دښمن او ګستاخ پهٔ دنیا او آخرت دواړو کښې بې نومه او بې نشانه دے. (سُوْرَتُ الْكَوْثَر، آیت: ٣)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل یې کړئ:

١. خالي ځایونه ډک کړئ:

١. الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ ټولو نه زیات انعامات پهٔ . . . . . . . باندې کړي دي.

٢. دَ کوثر نه مراد دَ جنت نهر هم دے او . . . . . . . . هم دے

٣. مونځ او قربانې دَ الله . . . . . . . ذریعه ده.

۴. مونږ د دَ الله پهٔ . . . . . . . . شکر ادا کول پکار دي.

۵. دَ قرآنِ حکیم د ټولو نه غټ سورت . . . . . . . دے.

**معلوم کړئ:** کوثر، د قربانۍ حقیقت او د مونځ اهمیت د خپلو استاذانو نه معلوم کړئ.

**۲ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې ته کرښه راکاږئ:**

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| ❖ دَ نبی کريمﷺ دَ ځامنو پۀ مرۀ کېدلو باندې | ❖ نبی کريمﷺ ته دَ مونځ او قربانۍ حکم کړے شوے دے۔ |
| ❖ کفارو نبیﷺ ته | ❖ د ټولو نه وړوکے سورت دے۔ |
| ❖ پۀ سوت الکوثر کښې پۀ نبیﷺ باندې | ❖ کافرانو خوشحالي مناوهلي (معاذالله) |
| ❖ پۀ سورت الکوثر کښې | ❖ دَ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی د فضل او انعامات بيان دے۔ |

**عملي خبره:** دَ نبی کريمﷺ دَ دور ګستاخ داسې ذليل خوار او تباه برداباد شو چې دَ هغوي نوم او نشان بلکل ختم شو۔ دا خبره واضحه ده چې دَ هر دور دَ ګستاخ سره داسې معامله کېږي چا چې هم دَ نبی کريم ﷺ ګستاخي يا دَ نبی کريمﷺ مخالفت کوي دَ هغۀ د پاره دَ خير نه محرومي مقدّره ده او هغه به ذليله او رسوا وي۔

**۳ـ دَ لاندې ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:**

۱ـ پۀ حديث شريف کښې دَ مونځ پۀ باره کښې څه وئيلے شوي دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۲ـ دَ خير کثير نۀ څه مراد دے؟

________________________________________________

________________________________________________

۳ـ پۀ سورت الکوثر کښې دَ نبی کريمﷺ دَ دښمنانو پۀ باره کښې څۀ خبر ورکړے شوے دے؟

________________________________________________

________________________________________________________________________

**سوچ وکړئ!!!** چې کله ستا دوست دَ قربانۍ ښاروے تنګوي، نو پۀ دې صورت کښې به تۀ څۀ کوې؟

## کورنۍ مشغولتیا

- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته یې واوروئ.
- دَ سیرت النبیﷺ دَ کتاب نه دَ نبی کریمﷺ یو پنځۀ معجزات تالاش کړئ او وې لیکئ.
- دَ یو عالم نه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ راکړے شوو نعمتونو باندې دَ شکر ادا کولو یو پنځۀ طریقې ولیکئ.

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُوْرَةُ الْكَافِرُوْنِ

سُوْرَةُ الْكَافِرُوْنِ ۱۰۹ ،ټول آياتونه: ۶ ،ټولې رکوع ګانې: ۱

**شان نزول او پېژندګلو:** دَ مکې کافرانو چې کله نبی کريمﷺ ته دَ زباني او جسماني زورني باوجود دَ توحيد دَ دعوت نه منع نهٔ کړو، نو دوي دَ سودے بازئ پېشکش وکړو چې يو کال به مونږ ستا دَ معبود يعني دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى عبادت کوو او يو کال به تهٔ زمونږ دَ بتانو عبادت کوې (معاذالله). د دې خبرې پهٔ جواب کنبې دا سورت نازل شو. پهٔ دې سورت کنبې دَ نبی کريمﷺ پهٔ ذريعه کافرانو ته توحيد (دَ يو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ عبادت) دعوت ورکړے شوے دے. دغهٔ رنګې دَ بت پرستئ او دَ شرک صفا انکار شوے دے. نبی کريمﷺ چې دا سورت کله کافرانو ته واورولو، نو هغوي د دې خبرې نه مايوسه شو چې نبی کريمﷺ هيڅ کله دا خبره نهٔ مني.

**آيا تاسو پوهېږئ ؟**

چې دَ نبی کريمﷺ دَسحر پهٔ سنتو، دَ ماښام او دَ طواف نه بعد پهٔ دوه رکعتو کنبې پهٔ اول رکعت کنبې او دَ وترو پهٔ دويم رکعت کنبې او دَ شپې دَ اودهٔ کېدلو نه مخکنبې دَ سورت الکافرون دَ تلاوت معمول وهٔ.

| بِسْمِ | اللّٰهِ | الرَّحْمٰنِ | الرَّحِيْمِ |
|---|---|---|---|
| خاص دَ الله پهٔ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډير رحم کولو والا دے | | | |

| اَعُوْذُ | بِاللّٰهِ | مِنَ | الشَّيْطٰنِ | الرَّجِيْمِ |
|---|---|---|---|---|
| زهٔ د الله پهٔ پناه کنبې راځم د شېطان نه | | | | |
| رټلي شوي | | | | |

قُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۰۰۱ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۰۰۲ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ

اے نبيﷺ ته اووايه: اے کافرانو! زهٔ د هغو (بتانو) عبادت نهٔ کوم چې تاسو يې عبادت کوئ. او نهٔ تاسو د هغهٔ ذات عبادت کونکي ئې وئ

مَآ اَعْبُدُ ۰۰۳ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۰۰۴

د کوم الله چې زهٔ عبادت کوم. او زهٔ بيا وايم نهٔ زهٔ د هغهٔ شي عبادت کونکے يم چې تاسو يې عبادت کړے دے.

وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۰۰۵ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۰۰۶

او نهٔ تاسو د هغهٔ ذات عبادت کونکي ئې وئ د کوم الله چې زهٔ عبادت کوم. تاسو دپاره ستاسو دين دے او زما دپاره زما دين دے.

**فرمانِ نبویﷺ**

"چې پهٔ کوم انسان کنبې دا درې خبرې وي دا به دَ دې پهٔ وجه دَ ايمان لذّت بيامومي.

- اول دا چې هغه ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى او دَ هغهٔ دَ رسولﷺ محبت دَ دنيا دَ ټولو څيزونو نه زيات وي.
- دويمه دا چې دَ يو بنده سره د دې محبت صرف دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى ( د رضا) د پاره وي.
- دريمه دا چې دا الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ کفر نه ويستلے او ايمان ئې ورته نصيب کړے دے، نو اوس ورته دَ اسلام نه دوباره تلل دومره ګران وي لکه چې اور ته اچولے شي. (صحيح بخاری وصحيح مسلم)

# اَهمي نکتي

**عملي خبره:** مونږ لره دَ هر داسې عمل نه بچ کېدل پکار دي چې دَ کوم نه چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی او دَ هغهٔ رسولﷺ منعه کړې ده. د دې سره سره مونږ د کوشش کول پکار دے چې دَ دین پهٔ تعلیماتو او احکاماتو کښې باطل او ناحق خبرې بلکل شاملولو لره ور نهٔ کړو.

## دَ علم او عمل خبرې

۱. مونږ لره دَ دین دعوت بلکل واضح طور باندې پېش کول پکار دي. (سُوْرَتُ الْکَافِرُوْنِ، آیت: ۱)

۲. دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عبادت انکار کول کفر دے. (سُوْرَتُ الْکَافِرُوْنِ، آیات: ۵، ۳، ۱)

۳. دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ عبادت کښې هیڅ چالره شریک کول نهٔ دي پکار. (سُوْرَتُ الْکَافِرُوْنِ، آیت: ۴، ۲)

۴. د دین پهٔ معامله کښې د حق او باطل ملګرتیا ممکن نهٔ ده. (سُوْرَتُ الْکَافِرُوْنِ، آیت ۲)

۵. دَ لغت پهٔ اعتبار باندې دَ دین معنٰي او مفهوم دے "قانون او طریقه" او پهٔ اصطلاحی اعتبار باندې دَ دین مفهوم دادے چې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ مخلوق د پاره ورکړے شوے قانون او دَ زندګی طریقه. (سُوْرَتُ الْکَافِرُوْنِ، آیت: ۲)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

۱. خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱) مونږ لره دَ_________ دعوت بلکل واضح طور باندې پېښ کول پکار دي.

(۲) د مکې کافرانو نبي کريمﷺ لره _______________ دَ دعوت نه منع نۀ کړے شو.

(۳) دَ دين لغوي معنيٰ ده _______________

(۴)دَ دين پۀ معامله کښې دَ حق او باطل_________________ ممکن نۀ ده.

(۵) نبی کريمﷺ دَ وترو مونځ پۀ دويم رکعت کښې__________به تلاوت کولو.

## ۲ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کرښه ولګوئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
| --- | --- |
| ❖ ستا د پاره ستا دين او . | ❖ د بتانو عبادت کولو . |
| ❖ دَ الله سره بل چا د عبادت کولو ته . | ❖ شرک نۀ قبلول پکار دي. |
| ❖ کفّارِ مکه | ❖ دَ بت پرستئ او شرک نه صفا انکار |
| ❖ پۀ سورت الکافرون کښې | ❖ شرک وايي. |
| ❖ مونږ لره پۀ هيڅ قيمت | ❖ زما د پاره زما دين. |

### معلوم کړئ:

کافر چا ته وايي؟

کافرانو ته نبیﷺ ولې وئيلي وو چې" او نۀ تاسو عبادت کوئ د کوم (الله) چې زۀ عبادت کوم".او "ستاسو د پاره ستاسو دين دے او زما د پاره زما دين دے" د دې نه څۀ مراد دي؟

د دې سوالونو وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ.

سوچ وکړئ!!! تاسو خپل ټول کار پۀ ښۀ طريقه کوې، ټول خلق ستا نه خوشحاله هم دے ليکن ستا يو د کلاس ملګري کله تۀ پۀ خپل ښۀ کار د پريښودو او دَ يو غلط کار باره کښې اووايي چې پۀ هغه سره خلق ناراضه کېږي، نو پۀ دې صورت کښې به تۀ څه کوې؟

۳.دَ لاندې لیکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱.پۀ دې سورت کښې چې کوم آیت دوه پېرېراغلے دے د دې ترجمه ولیکئ.

______________________________________________

______________________________________________

۲.پۀ دې سورت کښې دَ قرېشو سردارانو دَ الله دَ رسولﷺ نه څۀ مطالبه وکړله؟

______________________________________________

______________________________________________

۳.پۀ دې سورت کښې نبی کریمﷺ دَ چا دَ عبادت نۀ انکار کولو؟

______________________________________________

______________________________________________



## کورنۍ مشغولتیا

- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ خپل کور والو ته یې واوروئ.
- دَ یو عالم نه معلومات وکړئ غېر مسلمو ته دَ دین دَ دعوت ورکولو دوه طریقې ولیکئ.
- د الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ عبادت ظاهرولو والو څۀ اتۀ (۸) اعمال پۀ لاندې خانو کښې ولیکئ.

# عبادت

استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُوْرَةُ النَّصْرِ

## سُوْرَةُ النَّصر ۱۱۰، ټول آیاتونه: ۳، ټولې رکوع ګانې: ۱

شانِ نزول او پېژندګلو: دا سورت دَ نبی کریمﷺ دَ حیاتِ مبارکه په آخري دور کښې نازل شوے دے. په دې کښې ښودلے شوي دي چې دَ ایمان والو دَ فتح مکّه سره سره به نور فتوحات هم حاصلېږي. دَ الله دین غالب شوے. خلق په غټ تعداد کښې دَ الله په دین کښې داخل شولو. په دې سورت کښې دَ نبی کریمﷺ مشن یعنې دَ دینِ اسلام غالب کېدلو ذکر دے. په آخر کښې نبی کریمﷺ ته دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ تسبیح او دَ حمد وثنا کولو او اِستغفار وئیلو تلقین شوے دے. امّ المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائي "چې نبی کریمﷺ به په خپل رکوع او سجدو کښې ډېره دا دعاء وئیله. سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي" اے زمونږه ربه ستا ذات پاک دے او ستا دَ حمد سره مونږ هم تسبیح بیانوو، اے الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ته مونږه اوبخښه. (صحیح بخاری، صحیح مسلم)

> فرمان نبويﷺ: هر تسبیح (سبحان الله) وئېل صدقه ده، هر تکبیر (الله اکبر) وئېل صدقه ده، هر تحمیده (الحمد لله) وئېل صدقه ده، هر تهلیل (لااله الا الله) وئېل صدقه ده. (صحیح بخاري، صحیح مسلم)

| | |
|---|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زهٔ د الله په پناه کښې راځم د شیطان رټلي نه شوي | خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډیر رحم کولو والا دے |

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۱۰۰ وَرَاَيْتَ النَّاسَ

اے نبيﷺ! کله چې د الله مدد او فتح راشي. او تهٔ خلق وینې

يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۲۰۰ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

چې د الله په دین کښې ډلې ډلې داخلېږي. نو تهٔ پاکي بیانوه د خپل رب د ستاینې سره غواړه

وَاسْتَغْفِرْهُ ۱ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۳۰۰

او د دهٔ نه مغفرت طلب که بېشکه هغه ډېرزیات توبه قبلونکے دے

## آیا تاسو پوهیږئ؟

دَ فتح مکّه واقعه د رمضان المبارک سن ۸ هجری (بمطابق جنوری ۶۳۰ ء) وه۔ کله چې نبیﷺ دَ لس زره صحابه کرامو رضی الله عنهم لښکر مکې مکرمې ته ورسولو۔ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی مسلمانانو د بغیر دَ غټې جنګ نه عظیمه فتحه ورکړه۔

# اَهمې نکتې

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ ځرنګه چې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ خپل خوږ نبی خاتم النبيين احمد مجتبیٰﷺ مدد کړے ؤ دغه رنګې چې پۀ نبیﷺ باندې چا ايمان راوړے دے دَ هغوي هم مدد کوي۔ (سُوْرَةُ النَّصْر، آيت: ۱)

۲ ـ الله دَ دين دَ محنت کولو والو ته پۀ دنيا کښې هم فتح ورکوي۔ (سُوْرَةُ النَّصْر، آيت: ۲)

۳ ـ دَ دين غلبه دَ خلقو د پاره دَ دين دَ قبلولو ذريعه ده۔ (سُوْرَةُ النَّصْر، آيت: ۲)

۴ ـ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی پۀ خپلو بندګانو ډير مهربانه دے هغه دَ دوي توبې قبلولو والا دے۔ (سُوْرَةُ النَّصْر، آيت: ۳)

۵ ـ مونږ لره دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی تسبيح، حمد او پۀ کثرت سره دَ استغفار اهتمام کول پکار دے۔

**عملي خبره:** چې کله الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی انسان پۀ خپل مقصد کښې کامياب کړي، نو هغۀ لره پکار دي چې دَ کاميابۍ د پوهې پۀ ځائے دا د الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی فضل وګڼي۔ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی شکر هم ادا کړي او دَ خپلو ګناهونو دَ بخښلې سوال دې هم کوي۔

### ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**۱ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کړبنه ولګوئ:**

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| پۀ سُوْرَةُ النَّصْر کښې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی مدد | دَ لس زره صحابه کرام رضی الله عنهم لښکر سره مکې مکرمې ته ورسولو۔ |
| پۀ سُوْرَةُ النَّصْر کښې دَ نورو فتوحاتو سره | د دينه دَ مغفرت غوښتلو حکم شوے دے |
| دَ فتح مکې نه وروسته خلق دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی | او دَ فتح خوشخبري ورکړے شوې ده |
| پۀ سُوْرَةُ النصر کښې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ تسبيح کولو | خاص طور باندې دَ فتح مکه ذکر دے |
| | پۀ دين کښې ډلې ډلې داخل شو۔ |

## ۲ـ خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱)الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى دَ دين دَ اشاعت د پاره کوشش کولو والو ته________________ کښې هم فتح ورکوي.

(۲)الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى د خپلو بندګانو توبه ډيره زياته__________________ والا دے.

(۳)دَ فتح مکه واقعه___________________هجري ده.

(۴) دَ دين___________________ خلقو د پاره دَ دين دَ قبلولو ذريعه ده.

(۵) سورت النصر دَ نبيﷺدَ حيات ِمبارکه پۀ ______________ کښې نازل شوے دے.

**معلم کړئ:** دَ دين الله ،حمد ،تسبيح،استغفار ،توبې وضاحت دَ خپلو استاذانو نه وکړئ.

## ۳ـ د لاندې ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ـ چې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى انسان پۀ يو مقصد کښې کامياب کړي، نو دۀ له څه کول پکار دي؟

____________________________________________________________________________

____________________________________________________________________________

۲ـ دَ سورت النصر متعلق څۀ درې خبرې وليکئ.

____________________________________________________________________________

____________________________________________________________________________

۳ـرسول اللهﷺ به پۀ رکوع او سجدو کښې به ډير څۀ لوستل؟

____________________________________________________________________________

____________________________________________________________________________

**سوچ وکړئ**: که چرته تا پهٔ یو غټ پروګرام کښې دَ ټولو نه زیاتې نمبرې حاصل کړلې او کامیابي دې حاصله کړله، نو پهٔ دې صورت کښې به مقابله کښې شریک دَ نورو طلباء سره ستا رویه څنګه



## کورنۍ مشغولتیا

- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته ئې واوروئ.
- دَ مکې مکرمې څو نوې او زاړهٔ تصویران جمع کړئ او چاټ باندې یې ولګوئ.
- دَ کور والو پهٔ مدد سره دَ فتح مکې واقعه دَ سیرت النبيﷺ دَ یو کتاب نه ولولئ او خپلو دوستانو ته یې واوروئ.

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُوْرَةُ اللّهَبِ

## سُوْرَةُ اللّهَبِ ١١١،ټول آياتونه :٥،ټولې رکوع ګانې:١

**شانِ نزول او پېژندګلو**: پۀ دې سورت کښې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ حبيبﷺ دَ دښمنانو انجام بيان شوے دے۔او دوي ته پۀ دنيا او آخرت کښې د ناکامۍ خبر ورکړے شوے دے۔چې کله نبيﷺته الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ علانيه اسلام دعوت ورکولو حکم وکړو، نو نبیﷺ دَ صفا غونډۍ (غر) ته وختلو ۔ نبیﷺ دَ هغۀ دور د طريقې مطابق خلق پۀ آواز سره راجمعه کړل چې خلق جمعه شو، نو نبيﷺ اوفرمائيل "اے خلقو که چرته زۀ تاسو ته داسې اووايم چې د دې غر نه اخوا يو فوځ دے او پۀ تاسو حمله کوي، نو آيا تاسو به زما خبرې رښتينې ګڼئ؟ خلقو جواب ورکړو آو مونږ بغير د شک ستا دَ خبرې تصديق کوو ځکه چې تۀ رښتونے يې، نو نبيﷺ اوفرمائل "خلقو! دَ يو الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی عبادت وکړئ ،زۀ دَ الله رسول يم او تاسو دَ آخرت دَ انجام نه ويروم ۔پۀ دې باندې دَ نبيﷺترۀ ابولهب ناراضه شو او وې وئېل ستا د پاره دې هلاکت وي (معاذالله) تا مونږ د دې د پاره راجمع کړو ۔دَ ابولهب دَ طرف نه دَ نبيﷺ پۀ ګستاخۍ کولو باندې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دا سورت نازل کړو چې پۀ دې کښې دَ ابولهب او دَ هغۀ دَ بی بی امِّ جميل سخت بدوالے بيان شوے دے۔امِّ جميل به دَ نبيﷺ پۀ لاره کښې غنې اچولې او پۀ چغلي کولو سره به ئې نبيﷺ ته تکليفونه رسول۔الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ابولهب او دَ هغۀ بی بی دواړو ته پۀ دنيا او آخرت دَ سخت عذاب خبر واورولو۔

| بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ |
|---|---|
| خاص دَ الله پۀ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډير رحم کولو والا دے | زۀ د الله پۀ پناه کښې راځم د شيطان رټلي شوي نه |

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ١٠٠ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ٢٠٠

د ابولهب دواړه لاسونه دې مات شي او هغه دې هلاك شي۔د دۀ هيڅ پۀ کار رانغلے د دۀ مال او (نۀ) هغه څه چې ده ګټلي وو

سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ٣٠٠ وَّامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ٤٠٠

زر ده چې دے به لمبې وهونکي اور وسوځوي۔او د دۀ ښځه هم پۀ اور کښې به وي، د لرګو اوچتونکې (ګرځيدلو والا

فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ٥٠٠

د دې پۀ غاړه کښې د کجورې د پټ ښلے شوې رسۍ وي ۔

**عملي خبره**: دنياوي مال او دولت ،عزت ،شان وشوکت دَ نجات ذريعه نۀ دي ګڼڑل پکار بلکې ياد ساتل پکار دي چې ايمان او نيک اعمال دَ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالیٰ پۀ فضل سره د نجات ذريعه جوړيږي.

**فرمانِ نبويﷺ**: پۀ جهنم والو کښې به دَ ټولو نه کم عذاب دَ هغۀ چا وي چې دَ هغۀ به دَ اور پېزار دَ تسمو سره اغوستے وي چې د دې نه به يې دماغ داسې خوټ کيږي، څرنګه چې پۀ کټوۍ کښې اوبۀ جوش وهي او هغه داسې ګڼي چې دۀ ته د ټولو نه غټ عذاب ورکړے شوے دے، حالانکه هغۀ ته به دَ ټولو نه کم عذاب ورکړے شوے وي ۔(صحيح مسلم)

## اَهمې نکتې

آیا تاسو پوهیږئ: دَ قرآنَ حکیم دا پیشن ګوئي چې نبیﷺ ته به غلبه حاصلیږي او دَ نبی ﷺ دښمن به بې نومه، بې نشان وي، ټکي پۀ ټکي صحیح شوه ـ نن پۀ دنیا کښې دَ ابولهب دَ نوم اخستلو والا هیڅوک نشته البته پۀ دۀ باندې دَ لعنت سلسله جاري ده ـ مسلمان چې کله هم پۀ مونځ کښې سورت اللهب تلاوت کوي، نو دې دښمن او پۀ ګستاخِ رسولﷺ باندې دَ لعنت سلسله جاري وي۔

## دَ علم او عمل خبرې

١ ـ د الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی او دَ رسول اللهﷺ دښمن پهٔ دنیا او آخرت کښې تباه او بربادېدلو والا دے۔ (سُوْرَتُ اللّهَبِ،آیت: ١)

٢ ـ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ خپل رسول اللهﷺ دَ ګستاخانو ته پهٔ خپله جواب او عبرتناکه سزا ورکوي۔ (سُوْرَتُ اللّهَبِ،آیت: ١)

٣ ـ دَ ایمان والو نیک اعمال او دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالیٰ پهٔ لاره کښې ورکړے شوے مال پهٔ آخرت کښې ېکار راځي۔ (سُوْرَتُ اللّهَبِ،آیت: ٢)

۴ ـ دَ انبیاء کرام او بالخصوص دَ نبی کریمﷺ دَ توهین کولو والو د پاره دَ جهنم دَ اور عذاب دے۔ (سُوْرَتُ اللّهَبِ،آیات: ٣، ۴)

۵ ـ دَ دینِ اسلام نهٔ قبلولو والو او دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی پهٔ لاره کښې رکاوټ غورځولو والا د پاره ډیر خراب انجام دے۔ (سُوْرَتُ اللّهَبِ،آیت: ٣تا۵)

٦ ـ پهٔ آخرت کښې دَ انسان انجام د دهٔ دَ عقیدې او عمل مطابق وي۔ (سُوْرَتُ اللّهَبِ،آیت: ٣تا۵)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل یې کړئ

### ١ ـ خالي ځایونه ډک کړئ:

(١) پهٔ سُوْرَتُ اللّهَبِ کښې دَ نبي کریمﷺ دَ_____________انجام بیان شوے دے۔

(٢) پهٔ آخرت کښې دَ انسان انجام دَ هغهٔ ________________ مطابق وي۔

(٣) نبیﷺ دَ اسلام دَ دعوت ورکولو د پاره________________ پهٔ غر باندې تشریف ویوړلو۔

(۴) دَ انبیاء کرام او بالخصوص دَ نبی کریمﷺ دَ توهین کولو والا د پاره به دَ________عذاب وي۔

(۵) امِّ جمیل دَ نبیﷺ پهٔ لاره کښې_____________________غورځولې۔

معلوم کړئ: دَ ابولهب معنیٰ ، دَ ابولهب کُته وته ، دَ لرګو اوچتولو والا او دَ بڼلي شوې رسۍ وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ.

۲ ـ دَ لاندې ليکلي شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سورت اللهب ولې نازل کړلو؟

---

---

۲ ـ پۀ ابولهب باندې به دَ لعنت سلسله څنګه جاري ده؟

---

---

۳ ـ دَ مکې والو ته دَ نبیﷺ دَ خطاب نه يو دوه خبرې وليکئ؟

---

---

۴ ـ دَ خپلو اساتذه کرامو نه دَ ابولهب او دَ اُمِّ جميل پۀ باره کښې معلوم کړئ دَ دواړو پۀ عبرتناک انجام باندې يو مضمون وليکئ.

---

---

---

---

---

---

---

---

سوچ وکړئ !!! که چرته تاسو یو کس په محلّه یا اسکول کښې تنګوي، مثلاً کچره غورځوي یا دهکې درکوي، نو په دې صورت کښې به تاسو څۀ کوئ؟

## کورنۍ مشغولتیا

- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته یې واوروئ.
- دَ یو صاحبِ علم نه معلوم کړئ دَ رسول اللهﷺدَ درې دښمنانو نومونه او دَ هغوي انجام ولیکئ.
- دَ الله په لار کښې رسېدلو والا تکلیفونو باندې د نبيﷺ او د صحابه کرام رضی الله عنهم څۀ رویه وه. څۀ پېنځۀ خبرې معلوم کړئ او وې لیکئ.

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُوْرَةُ الاِخْلَاصِ

سُوْرَةُ الاِخْلَاصِ۱۱۲، ټول آیاتونه: ۴ ټولې رکوع ګاني: ۱

شانِ نزول او پېژندګلو: دا سورت پهٔ نبیﷺ باندې دَ مکي زندګۍ پهٔ ابتدائی دور کښې نازل شوے. یهودیانو او عیسایانو خپل انبیاء کرام علیهم السلام دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی زوے جوړول او دَ مکې مشرکانو ملائک دَ الله لوڼه جوړې کړې وې. دَ مکې والو دَ نبي ﷺ نه د الله تعالي د خاندان پهٔ باره کښې تپوسونه کول، د دې ټولو غلطو خبرو پهٔ باره کښې پهٔ دې سورت کښې جواب اوشو. وروسته دَ عربو نورو خلقو هم دَ نبي کریمﷺ نه دغه رنګې سوال کولو ،کله به دَ مدینې طیّبې یهودو دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی د صفاتو پهٔ باره کښې سوال کولو چې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی څهٔ شے دے؟ د دهٔ هم جنس څهٔ دے؟ آیا دا د سرو زرو، سپینو زرو یا پیتل نهٔ جوړ شوے دے؟ آیا دا څهٔ خوري او څښکي ؟ الله ته دَ دنیا وراثت د چا نه میلاو شوے او دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نه وروستو به د دنیا وارث څوک وي؟ کله به نصاراوو دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ تعارف پهٔ باره کښې تپوس کولو. چونکه د دې ټولو سوالونو پهٔ جواب کښې نبیﷺ دا سورت اخلاص ولوستلو او وې اورولو. پهٔ دې سورت کښې دَ توحید بیان دے یعني دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی تعارف شوے دے او دا ښودلے شوي دي چې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی یو دے، نهٔ دَ هغهٔ څوک پلار شته او نهٔ څوک اولاد او نهٔ دَ هغهٔ څوک پهٔ هیڅ اعتبار سره شته.

| اَعُوْذُ | بِاللّٰهِ | مِنَ | الشَّيْطٰنِ | الرَّجِيْم |
|---|---|---|---|---|
| زهٔ | د الله پهٔ | پناه | کښې راځم | د شیطان نه |
| رټلي | | شوي | | |

| بِسْمِ | اللّٰهِ | الرَّحْمٰنِ | الرَّحِيْمِ |
|---|---|---|---|
| خاص دَ الله پهٔ نوم شروع کوم | چې لوے | مهربان او ډیر رحم | کولو والا دے |

| قُلْ | هُوَ | اللّٰهُ | اَحَدٌ ۚ۱ | اَللّٰهُ | الصَّمَدُ ۚ۲ | لَمْ | يَلِدْ ۙ۱ | وَلَمْ | يُوْلَدْ ۙ۳ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|

اے نبيﷺ! تهٔ (دوی ته) اووایه چې دغه الله یک یو دے. دا الله بې نیازه دے. نهٔ د چا پلار دے او نهٔ هغه د چا زوے دے.

| وَلَمْ | يَكُنْ | لَّهٗ | كُفُوًا | اَحَدٌ ۴ |
|---|---|---|---|---|
| او د | دهٔ | هیڅوك | برابر | نشته. |

**فرمانِ نبویﷺ**: نبي ﷺ سورت اخلاص دَ دریمې حصې دَ قرآن برابر ګرځولے دے. (صحیح بخاري، صحیح مسلم)

آيا تاسو ته پته شته؟: دَ نبي ﷺ دَ سحر دَ سنتو ،دَ ماښام دَ سنتو او دَ طواف نه وروسته دَ دوو رکعاتو نه دويم،دَ وترو دريم رکعت او دَ شپې دَ خوب نه مخکښې دَ سورت اخلاص دَ تلاوت معمول ؤ۔

## اَهمې نکتې

## دَ علم او عمل خبرې

(۱) مونږ د صرف دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عبادت کول پکار دے ځکه هغه رښتوني معبود دے. (سُوْرَة الاخلاص، آیت: ۱)

(۲) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ خپل توحید بیان دَ خپل نبی محمد رسول الله ﷺ خاتم النبیین په ژبه مبارکه باندې کوي. (سُوْرَةُ الاِخْلاص، آیت: ۲)

(۳) دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی زمونږ عبادت ته هیڅ ضرورت نشته دے. دَ هغهٔ دَ عبادت فائده مونږ ته ده. (سُوْرَةُ الاِخْلَاص، آیت: ۲)

(۴) ټول مخلوق الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ته محتاجه دے او هغه چا ته محتاجه نهٔ دے. (سُوْرَةُ الاِخْلَاص، آیت: ۲)

(۵) هیڅوک پهٔ هیڅ اعتبار د الله تعالي برابر نهٔ دے. (سُوْرَةُ الاِخْلَاص، آیت: ۴)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

۱. دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملې سره کړښه ولګوئ:

**کالم (الف)**

- نبی ﷺ سورت اخلاص لره
- پهٔ سورت اخلاص کښې
- دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عبادت
- څوک پهٔ هر اعتبار باندې
- دَ مدینه طیّبې یهودو د نبی ﷺ سره

**کالم (ب)**

- دَ الله برابر څوک نهٔ دے
- فائده به یې مونږ ته وي.
- دَ الله دَ صفاتو پهٔ باره کښې به سوال وکړو
- دَ یوې دریمې حصې دَ قرآن برابر یې ګرځولے دے
- دَ توحید بیان دے.

## ۲ـ خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱) دَ صمد معنیٰ ________________ده.

(۲) يهوديانو او عيسايانو خپل _______________ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی زامن ګرځولي وو.

(۳) دَ اولاد ضرورت څو _______________ ته وي.

(۴)دَ مکې مشرکانو___________________ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی لورياني ګرځولي وي.

(۵) ټول ______________________ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی محتاجه دي.

عملي خبره: پۀ کائنات کښې پۀ هر لحاظ باندې هر څوک وي دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره برابر نشته. دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حق دے چې د هغۀ عبادت وکړے شي او خلق پوره زندګي دَ نبي کريمﷺ اتباع کولو سره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ احکاماتو باندې عمل وکړي.

معلوم کړئ: دَ صمد (بې نيازه) وضاحت او د دې سورت يو دريمه برخه ګرځول دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ.

## ۳ـ د لاندې ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ـ پۀ مونږ باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی څۀ حق دے؟

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

۲ـ دَ مدينې يهودو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ صفاتو پۀ باره کښې چې کوم سوالونه کړي وو دَ هغو نه درې وليکئ؟

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

۳ـ نبی کريمﷺ دَ سورت الاخلاص دَ تلاوت معمول څۀ ؤ؟

________________________________________________________________________

________________________________________________________________________

**سوچ وکړئ!!!**

که چرته یو غېر مسلم ستاسو نه دَ الله دَ پېژندګلو په باره کښې سوال وکړي، نو په دې صورت کښې به تاسو دوي ته څۀ وایې؟



## کورنۍ مشغولتیا

- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته یې واوروئ.
- دَ خپل کور والو په مدد سره دَ لفظ "قُلْ" نه شروع کولو والو دَ پنځۀ سورتونو نومونه اوښایئ.
- دَ یو عالم نه دَ سورت الاخلاص درې نومونه معلوم کړئ.

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# سُوْرَةُ الْفَلَقِ او سُوْرَةُ النَّاسِ

تعارف: دَ قرآنِ حکيم پۀ آخر کښې دوه سورتونه دي چې هغوي ته" مُعَوَّذَتَيْنِ" يعني دوه دَ پناه ورکونکي سورتونه وايي.دا سورتونه دَ جادو ، شېطان، جنّات (پيران) او دَ هر قسم شر نه دَ بچ کېدلو د پاره ډير اهم دي . د دې سورتونو پۀ ذريعې سره مونږ د الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى نه پناه حاصلوو . پۀ سورت الفلق کښې زمونږ دَ بهر بديانو شرونو لکه توره شپۀ ،جادو ، حسد وغيره بدی او نقصان نه دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى نه پناه حاصلولو والا دعاګانې ښودلے شوي دي . پۀ سورت الناس کښې زمونږ دَ دننه بديانې شرونه لکه شېطان او دَ هغۀ دَ وسوسې دَ بدوالي او نقصان نه دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى دَ پناه حاصلولو دعاګانې ښودلې دي.نبی کريمﷺ به دا دواړه سورتونه دَ هر فرض مونځ نه وروسته او دَ شپې دَ اودۀ کېدلو نه مخکښې لوستل .نور دا چې دَ نبیﷺطبيعت ناسازی پۀ موقعه به هم نبیﷺ دا دوه سورتونه لوستل او ځان به يې پرې دمولو .

فرمانِ نبوی ﷺ: د حسد نه بچ شئ ځکه حسد نېکيانې داسې خوري لکه چې ځرنګه پۀ اور سره لرګي سوځي.(سن ابی داؤد)

## سُوْرَةُ الْفَلَقِ

سُوْرَةُ الْفَلَقِ ۱۱۳ ،ټول آياتونه :۵،ټولې رکوع ګانې:۱

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

زۀ د الله پۀ پناه کښې راځم د شيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص دَ الله پۀ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډير رحم کولو والا دے

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۱۰۰ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۲۰۰

اے نبيﷺ تاسو اووائې: زۀ د سبا درب پۀ پناه کښې راځم.د هر هغه شي د شر نه چې هغه الله پېدا کړي دي.

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۳۰۰ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ۴۰۰

او د تيارې شپې د شر نه کله چې توره (او خوره) شي.او د شره د هغو (جادوګرو) چې پۀ غوټو کښې پوکې وهونکې دي.

وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۵۰۰

او د حسد کونکي د شر نه کله چې د ے حسد (شروع او ښکاره) کړي.

# آهمي نکتي

# سُوْرَةُ النَّاس

سُوْرَةُ النّاسِ ۱۱۴ ،ټول آیاتونه: ۶ ټولې رکوع ګانې: ۱

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اَعُوْذُ | بِاللّٰهِ | مِنَ | الشَّيْطٰنِ | الرَّجِيْم | بِسْمِ | اللّٰهِ | الرَّحْمٰنِ | الرَّحِيْمِ |

زۀ د الله پۀ پنا ه کښې را ځم د شيطان رټلي شوي نه

خاص دَ الله پۀ نوم شروع کوم چې لوے مهربان او ډير رحم کولو والا دے

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۰۰۱ مَلِكِ النَّاسِ ۰۰۲ اِلٰهِ النَّاسِ ۰۰۳

اے نبي ﷺ تۀ اووايه: زۀ د خلقو د رب پۀ پناه کښې راځم۔ چې د خلقو بادشاه دے۔ د خلقو معبود دے۔

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۰۰۴ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۰۰۵

د شره د وسوسې اچوونکي، پۀ شاه تلونکي (دشيطان) دشرنه۔ هغه چې د خلقو پۀ سينو کښې وسوسې اچوي۔

مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۰۰۶

چې (برابره خبره ده) که د پيريانو نه وي او که د انسانانو نه وي۔

> **آيا تاسو پوهيږئ؟**
>
> دَ قرآنِ حکيم آغاز هم دَ دعاء يعني دَ سورت الفاتحه نه شوے او پۀ اختتام باندې هم پۀ دې دوو سورتونو کښې دعاء ښود لے شوې ده۔ دَ دې نه معلومه شوه چې دَ هدايت دَ حاصلولو او دَ هر شر نه دَ بچ کيدلو د پاره هم دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى نه مستقل دعاء غوښتل پکار دي۔

> **عملي خبره:** د دې سورت پۀ برکت سره فيض او شفا حاصليږي، نظر، جادو او منتر نه د بچ کيدلو د پاره مونږ ته دَ نبي اکرم ﷺ سنت طريقه اختيارول پکار دي۔ امّ المؤمنين عائشه صدّيقه رضي الله عنها فرمايي چې کله به نبي ﷺ بسترې ته تشريف راوړلو، نو پۀ خپلو دواړو لاسونو به يې قل هو الله احد او معوّذتين ولوستل او پوک به يې کړل او بيا به يې پۀ خپل مخ او پۀ بدن چې کوم ځائے ته به يې لاس رسيدل راخښکل۔ (صحيح بخاري)

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ ټولو نه لوے محافظ دے۔ (سُوْرَةُ الْفَلَقِ،آیت: ۱او سُوْرَةُ النّاسِ آیات: ۱)
۲ ـ مونږ له دَ هر څیز دَ بدوالي دَ بچ کیدلو نه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ پناه کښې راتلل پکار دي ـ (سُوْرَةُ الفلق آیات، : ۱تا ۲)
۳ ـ دَ شېطان دَ حملو دَ بچ کیدلو نه دَ اللّٰه سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ پناه کښې راتلل پکار دي ـ (سُوْرَةُ النّاسِ آیات، : ۱تا ۳)
۴ ـ اللّٰه سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ هر څیز خالق دے، هغه دے چې دَ هر شي دَ ښهٔ والي او نقصان نه ښهٔ خبردار دے ـ (سُوْرَةُ الفلق آیات، : ۲)
۵ ـ جادو حرام دے ـ جادو کول یا پهٔ چا کول الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نهٔ خوښوي ـ (سُوْرَةُ الفلق آیات، : ۴)
۶ ـ شېطان زمونږ د ټولو نه غټ دښمن دے ـ (سُوْرَةُ النّاسِ آیت، : ۴)
۷ ـ مونږ له دَ حسد کولو والا دَ شر او بدی نه دَ بچ کیدلو دعاء کول پکار ده ـ (سُوْرَةُ الفلق آیت: ۵)
۸ ـ مونږ له حسد نهٔ کول پکار دي ـ (سُوْرَةُ الفلق،آیت: ۵)
۹ ـ شېطان دَ خلقو پهٔ زړونو کښې دَ ګناه خیالات غورځوي ـ (سُوْرَةُ النّاسِ آیت، : ۵)
۱۰ ـ خراب انسانان او خراب جنّات (پیران) دَ شېطان د وستان جوړېږي ـ (سُوْرَةُ النّاس

## ځان پرې پوهٔ کړئ او حل یې کړئ:

۱ ـ خالي ځایونه ډک کړئ:

(۱) زمونږ دَ دننه شرونو نه دَ پناه غوښتلو طریقه _____________ کښې ښودلې شوې ده ـ
(۲) زمونږ دَ بهر شرونو نه دَ پناه غوښتلو طریقه_____________ کښې ښودلې شوې ده ـ
(۳) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ هر څیز دَ ښهٔ والي او _____________ نه ښهٔ خبردار دے ـ
(۴) اللّٰه سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ هر څیز_________________ دے ـ


(۵) مونږ لره دَ حسد کولو والا دَ شر او بدۍ نه دَ بچ کیدلو_______________ کول پکار ده .

**۱۔دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کړښه ولګوئ:**

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| ❖ سورت الفلق او سورت | ❖ حرام دے۔ |
| ❖ جادو | ❖ د شيطان دوستان جوړېږي |
| ❖ اللهسُبْحَانَهُوَتَعَالٰی دَ تپول | ❖ نبیﷺ معوذتين نوم ورکړے دے۔ |
| ❖ خراب انسانان او غلط | ❖ دَ ګناه خيالات غورځوي۔ |
| ❖ شيطان دَ خلقو په زړو | ❖ محافظ دے۔ |


**۳۔دَ سورت الفلق متعلق لاندې ليکلے شوي الفاظ په لاندې خالي ځايونو کښې وليکئ:**

دَ مونځونو حکم، دَ رب په پناه کښې راتلل،دَ تيارو نه ويستلو والا، دَ يتيمانانو سره سلوک، په رنړا کښې راوستلو والا رب،دَ بهر بدئ نه پناه غوښتل، دَ فتح خبر، دَ جادو مذمت ، دَ حاسدانو دَ شر او بدئ نه پناه غوښتل۔



**۴ـ دَ سورت الناس متعلق لاندې ليکلے شوي الفاظ پهٔ لاندې خالي ځايونو کښې وليکئ:**

دَ قرباني حکم، دَ خلقو معبود او بادشاه،دَ شېطان وسوسه اچول، دَ آخرت دروغژن کولو والا، شېطان بار بار حملې کولو والا، دَ رب پناه، دَ دننه شرونو نه پناه غوښتل، دَ تيارو نه پناه، پهٔ انسانانو او جنّاتو (پيرانو) کښې دَ شيطان دوستان




**۵ دَ لاندې ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:**

۱ ـ دَ نظر، جادو او منتر نه دَ بچ کيدلو د پاره نبیﷺ څهٔ طريقه ښودلې ده؟

________________________________________________

________________________________________________

۲ ـ دَ بهر شرونو بدو نه څهٔ مراد دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۳ ـ دَ دننه شرونو نه څهٔ مراد دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۴ ـ دَ حسد پهٔ باره کښې پهٔ حديث شريف کښې څه ښودلے شوي دي؟

________________________________________________

________________________________________________

۵ـ دَ قرآنِ حکيم پهٔ شروع او اختتام باندي پهٔ موجود سورتونو کښې دعاګانې ښودلې شوي ده، د دې نه څهٔ معلوم شو؟

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

۶ـ رسول اللهﷺ به معوّذتين کله کله تلاوت کول؟

______________________________________________________________________

______________________________________________________________________

معلوم کړئ: شاته تللو والا، حسد، پهٔ غوټو کښې پوکي کونکي او دَ شپې دَ شرونو بدوالي وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ.

سوچ وکړئ!!! که چرته ستا د کلاس يو ملګرې پهٔ امتحان کښې ستا نه زياتې نمبرې حاصل کړې، نو پهٔ دې صورت به ستا څه رويّه وي؟

## کورنی مشغولتيا

- ❖ دا سورت دَ ترجمې سره ياد کړئ او خپل کور والو ته يې واوروئ.
- ❖ دَ يو عالم نه دَ حسد غبطې (رشک) فرق معلوم کړئ.
- ❖ دَ خپل کور والا پهٔ مدد سره دَ سورت الفيل نه تر سورت الناس پورې راروان نومونه پهٔ لاندې ليکلے شوو مکالمو کښې تقسيم کړئ.

| دَ سُورَةَ نوم | دَ اللّٰهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نوم | دَ څيزونو نومونه | دَ موسم نوم | دَ شخصياتو نومونه | دځناورونومونه |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

د استاد لاس ليک سره د تاريخ ______ د مور پلار لاس ليک/د مشر لاس ليک سره د تاريخ ______

# دَ آدم علیه السلام قصّه

## پېژندګلو او مقام و مرتبه

آدم عَلَيْهِ السّلام دَ ټولو نه اولنے انسان او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی چنړ نبی دے ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السّلام دَ خټې نه پيدا کړو ـ بيا يې دَ آدم عَلَيْهِ السّلام پۀ جسم کښې دَ خپل طرف نه (خاص) روح پوک وهلو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ آدم عَلَيْهِ السّلام د پاره دَ هغۀ بي بي حوّا عَلَيْهَا السّلام پيدا کړله ـ دغۀ شان دَ آدم عَلَيْهِ السّلام پۀ ذريعه يې دَ نسلِ انساني آغاز وکړلو ـ د دې وجې نه آدم عَلَيْهِ السّلام ته "ابوالبشر" يعنې دَ ټولو انسانانو پلار او حوّا عَلَيْهَا السّلام ته دَ ټولو انسانانو مور وئيلے شي ـ دَ آدم عَلَيْهِ السّلام لقب "صفي الله" هم دے چې د دې معنٰي ده "چنړ شوے منتخب شوے" ـ

## دَ ملائکو مکالمه (خبرې اترې)

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ ملائکو مخې ته دَ آدم عَلَيْهِ السّلام دَ پيدا کولو ذکر وکړو چې زۀ پۀ زمکه کښې نائب پيدا کوم ـ ملائکو عرض وکړو "آيا تۀ داسې مخلوق پيدا کوې چې پۀ زمکه کښې به فساد کوي او وينې به تويه وي ـ ملائکو دا خبره د دې وجې وکړه چې دَ انسانانو نه مخکښې جنّات (پيران) پيدا شوي وو ليکن هغوي پۀ زمکه کښې ډير فساد کولو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی اوفرمائيل "چې پۀ کوم څه زۀ پوهيږم تاسو پۀ هغې نۀ پوهېږئ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السّلام ته دَ ټولو څيزونو نومونه يعنې دَ دوي دَ حقيقتونو علم اوښودلو ـ بيا يې دغه څيزونه دَ ملائکو مخې ته پيش کړل ـ ملائکو د دغه څيزونو نومونه و نۀ ښودل ـ آدم عَلَيْهِ السّلام د دغۀ ټولو څيزونو نومونه وښودل ځکه چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السّلام دَ علم پۀ لحاظ باندې پۀ ملائکو فضيلت ورکړے ؤ ـ دا واقعه پۀ سُوْرَةَ البقره آيات: ۳۰ تا ۳۹ کښې بيان شوې ده ـ

## دَ شيطان تکبّر (لوئي)

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ملائکو ته دَ سجدې کولو حکم وکړو ـ ټولو ملائکو آدم عَلَيْهِ السّلام ته سجده وکړه ليکن شيطان و نۀ کړله ـ شيطان دَ جنّاتو (پيرانو) نه وو ليکن الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عبادت ګزارۍ پۀ وجه پۀ ملائکو کښې شامل کړے ؤ مګر شيطان تکبّر (لوئي) وکړلو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ شيطان نه تپوس وکړلو چې تا زما دَ حکم نافرماني ولې وکړله ؟ شيطان اوئيل چې زۀ دَ آدم عَلَيْهِ السّلام نه غوره يم ـ تا زۀ دَ اور نه پيدا کړے يم او آدم عَلَيْهِ السّلام دې دَ خټې نه پيدا کړے دے ـ د دې وجې زۀ نۀ کوم دۀ ته سجده ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی اوفرمائيل چې تا ته هيڅ کله دا حق نشته چې تۀ دلته تکبّر وکړې ـ د دې وجې

تهٔ د دې ځائے نه ذليل او رسوا اوځه ـ شېطان دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه دَ قيامت دَ ورځې پورې اجازت وغوښتلو د دې د پاره چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی بندګان دَ الله سُبْحَانَهُ وَ تَعَالٰی دَ سيدها لارې نه واړوې، نو دَ بندګانو دَ ازمائش د پاره دې ته دا مهلت ورکړلو مګر دا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی چنې شوي بندګان دَ سيدها لارې نه نهٔ شي اړولے ـ

**فرمان نبوي ﷺ: حياء او ايمان د يو بل ملګري دي، کهٔ يو ختم شي، نو بل هم ختمېږي ـ (جامع ترمذي)**

## دَ حضرت آدم عَلَيْهِ السّلام او دَ مور حوّا عليها السلام ازمائش

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ آدم عَلَيْهِ السّلام د پاره حوّا عَلَيْهَا السّلام پېدا کړله او دا دواړه يې پهٔ جنّت کښې داخل کړل ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دوي ته اجازت ورکړو چې پهٔ جنّت کښې دَ کوم ځائے نه خوراک او څښکاک کوي، نو کولے يې شي ليکن دَ يوې ونې نه يې منعه کړل ـ شېطان دې دواړو ته اوئيل چې " آيا تاسو دواړو ته داسې يوه ونه و نهٔ ښايم چې د دې ونې دَ خوراک پهٔ وجه به ستاسو نه ملائک جوړ شي او تاسو ته به داسې بادشاهي ميلاو شي چې هيڅ کله به ختم نهٔ شي ـ هغهٔ قسمونه وکړهٔ چې " زهٔ ستاسو دَ دواړو خېرخواهي غواړم ـ اګر چې حضرت دَ آدم عَلَيْهِ السّلام او حضرت حوّا عَلَيْهَا السّلام د دې لغزش اراده نهٔ وه ليکن دَ شېطان پهٔ وسوسه باندې دې دواړو پهٔ هېره سره د دغهٔ ونې مېوه وخوړله ـ دَ مېوې دَ خوراک سره د دې دواړو جنّتي لباس پاتې نهٔ شو او دوي دَ جنّت پهٔ پاڼو باندې خپل بدنونه پټول شروع کړل ـ

## دَ حضرت آدم عَلَيْهِ السّلام او دَ مور حوّا عَلَيْهَا السّلام توبه او دعا

حضرت آدم عَلَيْهِ السّلام او حضرت حوّا عَلَيْهَا السّلام ته فوراً دَ خپل هېر سخت احساس وشو ـ بيا دواړو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه معافي وغوښتله چې" اے زمونږه ربه ! مونږ دَ خپل ځان نقصان کړے دے کهٔ چرته تهٔ مونږ و نهٔ بخښې او پهٔ مونږه باندې رحم و نهٔ کړې، نو مونږ به ضرور نقصان اوچتونکي شو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پهٔ دوي باندې رحم وکړلو او توبه يې ورلره قبوله کړله ـ

## دَ آدم عَلَيْهِ السّلام اعزاز

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السّلام ته پهٔ زمکه باندې دَ خپل نائب يعني دَ "خليفة الله" اعزاز ورکړو او نبی يې جوړ کړلو ـ چې کله الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السّلام او حوّا عَلَيْهَا السّلام زمکې ته راوليږل ـ بيا د دې دواړو پهٔ ذريعه سره ډېر انسانان پېدا کړل چې د دوي دَ هدايت د پاره يې دَ نبوّت او رسالت

سلسله جاري کړله۔ دغۀ رنګې آدم عَلَيْهِ السَّلام ته دَ "اولني نبی" او امام الانبياء سيدنا محمّد مصطفیٰ ﷺ ته "دَ آخري نبی" کيدلو اعزاز حاصل شو۔

## دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه دَ انسانانو د پاره لارښودنه

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ ټولو انسانانو ته هدايت ورکړو چې شېطان ستاسو دښمن دے تاسو د دۀ نه هوښيار اوسئ۔ دا تاسو دهوکه او ذليله کوي۔ تاسو زما پناه اختيار کړئ او زما دَ راليږلي شوي هدايت تابعداري وکړئ۔ پۀ دي صورت کښې به پۀ تاسو څه وېره او غم نۀ وي۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ پۀ سيدها لاره باندي تلونکي به پۀ خپل رحمت سره پۀ جنّت کښې داخل کړي ليکن چې کوم خلق دَ شېطان پۀ دهوکه کښې راغلل او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ پۀ هدايت باندي عمل نۀ کوي، نو هغه به دَ شېطان سره پۀ جهنّم کښې غورځولے شي۔

## د دې قيصې نه حاصلېدلو والا سبق

مونږ لره ياد ساتل پکار دي چې شېطان زمونږ دښمن دے چې کومې وسوسې اچوي، نو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ نافرمانۍ طرف ته بوتلل غواړي۔ مونږ لره دَ شېطان دَ شر نه دَ بچ کېدو د پاره "تعوّذ" يعني اعوذ بالله من الشيطن الرّجيم وئيلو سره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ پناه غوښتل پکار دي۔ که چرته څه غلطي وشي، نو پښېمانه کيدل او فورًا د اَلله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ نه معافي غوښتل پکار دي ځکه چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ معافي خوښوي او دَ دوي غلطياني معاف کوي۔ دَ غرور او تکبّر کولو والا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ رحمت نه جدا کيږي۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ لوئي کونکے نه خپل ورکړلے شوے ښۀ حالت او نعمت واپس اخلي۔ نبی کريم ﷺ فرمايي: "چې دَ چا پۀ زړۀ کښې دَ اوري دَ دانې برابر هم تکبّر وي، نو هغه جنّت ته نۀ شي تللے۔ (صحيح مسلم)

## قصه دَ حضرت آدم عَلَيۡهِ السّلام

سورة الاعراف ۷،آيت ۱۱، ۱۷

وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖ

او يقيناً مونږ تاسو پيدا کړئ، بيا مو ستاسو صورتونه جوړ کړل، بيا مونږ فرښتو ته اوئيل: تاسو ټول د آدم ته سجده وکړئ،

فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ لَمْ يَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ۰۰۱۱ قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ

نو هغوی سجده وکړه سېوا د ابليس نه، هغه د سجده کوونکو نه نۀ ؤ۔ اوئيل (الله) تۀ څه شي منع کړې، چې سجده دې و نۀ کړه

اِذْ اَمَرْتُكَ ؕ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ۰۰۱۲

کله چې ما تا ته حکم وکړو؟ اوئيل (شېطان): زۀ د هغه نه غوره يم، تا زۀ د اوره پيدا کړے يم او هغه دې د خټې پيدا کړے دے۔

قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا

(الله) اوئيل: نو تۀ له دې (جنت) نه کوز شه، پس تا ته دا حق نشته چې تۀ په دې (جنت) کښې تکبر وکړې،

فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ۰۰۱۳ قَالَ اَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ

نو تۀ اوځه، بېشکه تۀ د ذليلو نه يې۔ اوئيل (ابليس چې اے الله!) تۀ ما ته (دژوندپاره) مهلت راکړه، تر هغې ورځې پورې۔

يُبْعَثُوْنَ ۰۰۱۴ قَالَ اِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ۰۰۱۵

چې خلق به را ژوندي کولے شي ۔ اوئيل (الله): بېشکه تۀ د مهلت ورکړے شوو نه يې

قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ ۰۰۱۶

(ابليس) اوئيل: نو په سبب د هغه چې تا زۀ ګمراه کړم زه به (هم) خامخا ضرور دوي ته کېنم ستا په نېغه لار کښې

ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ؕ

بيا به خامخا زۀ دوي ته راځم د دوی د مخې نه او د دوی د شا نه او د دوی د ښيو اړخونو نه او چپو اړخونو نه

وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ۰۰۱۷

او تۀ به د دوی اکثره شکر ګذاره و نۀ مومې۔

## قصه دَ حضرت آدم عَلَيۡهِ السّلام

سورة الاعراف ۷،آيت ۱۸، ۲۲

قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ؕ لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

اوئيل (الله): اوځه تۀ د دې ځائے نه ، چې ذليل رسوا کړے شوے، رټلے شوے يې، يقيناً په دوی کښې چې چا ستا تابعداري وکړه

لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۰۰۱۸ وَيٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا

نو خامخا به زۀ د تاسو ټولو نه جهنم ډک کوم۔ او اے آدمه تۀ او ستا بي بي په جنت کښې اوسئ، نو تاسو خوراک کوئ د کوم ځائے نه چې مو خوښه شي ستاسو دواړو

وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ٠٠١٩ فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ

او دې ونې ته مۀ نږدې کېږئ (ګني) د نقصان او چتونکونه به شئ - نو دوی دواړو ته پۀ زړۀ شېطان وسوسه واچوله،

لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَاوٗرِيَ عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ

د دې دپاره چې هغه (شېطان) دې دواړو ته هغه لاڅونه ورښکاره کړي چې د دوی نه پټ وو، چې د دوی د شرم ځايونه دي - او ابليس وئيل:

مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ

تاسو دواړه (ادم او حوّا) ستاسو رب د دې ونې نه نۀ ئې منع کړي مګر د دې وجې چې تاسو دواړه به ملائك شئ،

اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ٠٠٢٠ وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ٠٠٢١

يا چې شئ به د تل پاتې کېدونکو نه - او هغۀ دې دواړو ته پوخ قسم وکړو چې بېشکه زۀ تاسو دپاره يقينًا د خېرخواهي کونکو نه يم -

فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ

نو هغۀ دې دواړو ته پۀ دهوکې سره مېوې خوړو ته طمع ورکړه، نو کله چې دوی هغه ونه (د مېوې نه) وڅښکله،

بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ۭ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ

دوی ته دَخپل شرم ځايونه ښکاره شول او دواړه لګيا شول چې پۀ خپلو ځانونو بې د جنت پاڼې ښلولې او دوی ته خپل رب اواز وکړو

اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ٠٠٢٢

چې آيا ما تاسو دواړه د دې ونې نه نۀ وئ منع کړي او تاسو ته مې نۀ وو وئيلي چې بېشکه شېطان تاسو دواړو دپاره ښکاره دښمن دے؟ -

## اَهمې نکتې

# قصه دَ حضرت آدم عَلَيۡهِ السّلام

## سورة الاعراف ۷،آیت ۲۳، ۲۷

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَاۤ اَنۡفُسَنَا٘ وَاِنۡ لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُوۡنَنَّ

دوی دعا وکړه اے زمونږه ربه ! مونږه پۀ خپلو ځانونو تاوان وکړو او که چرې تۀ مونږ و نۀ بخښې او کۀ پۀ مونږ رحم و نۀ کړې - (نو) مونږ به خامخا

مِنَ الۡخٰسِرِيۡنَ۝۲۳ قَالَ اهۡبِطُوۡا بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمۡ فِي الۡاَرۡضِ مُسۡتَقَرٌّ

د تاوانیانو نه شو اوئیل (الله): تاسو ټول ځئ ستاسو ځینې به د ځینو نورو دپاره دښمنان وي او تاسو دپاره پۀ زمکه کښې استوګنه ده

وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيۡنٍ۝۲۴ قَالَ فِيۡهَا تَحۡيَوۡنَ وَفِيۡهَا تَمُوۡتُوۡنَ

او تر یو وخته پورې د زندګۍ فائده اخستل دي - (الله) اوئیل: پۀ همدې (زمکه) کښې به تاسو ژوندون کوئ او پۀ همدې کښې به تاسو مرئ

وَمِنۡهَا تُخۡرَجُوۡنَ۝۲۵ يٰبَنِيۡۤ اٰدَمَ قَدۡ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسًا يُّوَارِيۡ سَوۡاٰتِكُمۡ

او د همدې نه به تاسو راوبښکلے کېږئ د قیامت پۀ ورځ - اے د آدم اولاده! یقینًا مونږ تاسو ته لباس نازل کړے دے چې ستاسو د شرم ځایونه پټوي

وَرِيۡشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقۡوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيۡرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُوۡنَ۝۲۶

او د زینت ذریعه جامې (مو نازلې کړې دي) او د پرهېزګارۍ لباس، دغه ډېر غوره دي، دا د الله د نښو نه دي، د دې دپاره چې دوی نصیحت حاصل کړي -

يٰبَنِيۡۤ اٰدَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ الشَّيۡطٰنُ كَمَاۤ اَخۡرَجَ اَبَوَيۡكُمۡ مِّنَ الۡجَنَّةِ

اے د آدم اولاده! تاسو لره دې شیطان هیڅکله پۀ فتنه کښې وا نۀ ارچوي، لکه څنګه چې یې ستاسو مور او پلار (ادم او حوا علیهما السلام) د جنت نه ویستل،

يَنۡزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ يَرٰىكُمۡ هُوَ وَقَبِيۡلُهٗ

چې دۀ د هغوی نه یې د هغوی لباس وبښکلو، د دې دپاره چې هغوی ته خپل د شرم ځایونه اوښایي، بېشکه هغه او د هغۀ قبیله تاسو د هغه ځایهویني

مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡ ؕ اِنَّا جَعَلۡنَا الشَّيٰطِيۡنَ اَوۡلِيَآءَ لِلَّذِيۡنَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ۝۲۷

چې تاسو یې نۀ وینئ، بېشکه مونږ شیطانان د هغو خلقو دپاره دوستان جوړ کړي دي چې ایمان نۀ راوړي-

**عملي خبره:** شیطان ته د قیامت پورې دَ مهلت ورکولو یو مقصد دا دے چې دَ بندګانو امتحان واخستلے شي چې دا دَ الله تابعداری کوي یا پۀ سرکش شیطان پسې ورپسې کېږي-

### اَهمې نکتې

| |
|---|
| |
| |
| |

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ملائکو ته آدم علیه السلام ته دَ سجده کولو پهٔ وجه پهٔ باقي مخلوقات باندې دَ انسان دَ فظیلت اظهار وکړلو ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ،آیت:۱۱)

۲ ـ نافرماني او تکبر الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ته هیڅ کله خوښ نهٔ دے ـ مونږ لره دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی تابعداري کول پکار دي ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ،آیت:۱۲تا۱۳)

۳ـ خپله غلطي نهٔ منل او نور د دې ذمه وار ګرځول دَ شېطان عادت دے ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ،آیت:۱۲)

۴ـ شېطان زمونږ سخت دښمن دے چې پهٔ مونږ باندې پهٔ مختلف طرف سره حملې کوي ـ مونږه لره د دې نه هر وخت بېدارېدل پکار دي ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ،آیت:۱۷،۲۲،۲۷)

۵ ـ د شېطان پېروي کولو والا به الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ شېطان سره اور ته غورځوي ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ،آیت:۱۸)

۶ ـ شېطان دَ انسان دَ ګمراه کولو د پاره د دهٔ پهٔ زړهٔ کښې مختلفې وسوسې اچوي او دَ دروغو قسمونه ورته خوري ـ لهٰذا پهٔ دروغه قسمونه کول شېطاني طریقه ده ـ د دې نه مونږ د بچ کېدل پکار دي ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ،آیات:۲۰،۲۱)

۷ ـ شرم او حیاء پهٔ فطرت کښې شامله ده ـ مونږ لره همېشه د دې خیال ساتل پکار دي ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ،آیت:۲۲)

۸ ـ که دَ چا نه هېر اوشي مایوسه کېږي دې نهٔ،بلکه خپله غلطي دې اومني کړي او فوراً دې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نه معافي اوغواړي ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ،آیت:۲۳)

۹ ـ انسان دنیا ته دَ امتحان د پاره رالېږلے شوے دے ـ مونږ لره فکر کول پکار دي چې مونږ د دې امتحان د پاره څومره تیارے کوو ؟ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ،آیت:۲۴،۲۵)

۱۰ـ لباس دَ حیا دَ حفاظت د پاره یو اهمه ذریعه ده او پهٔ دې کښې تقویٰ لره زیات اهمیت حاصل دے ـ مونږ لره دَ لباس پهٔ باره کښې پهٔ اسلامی تعلیماتو باندې عمل کول پکار دي ـ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ

## آیا تاسو پوهېږئ؟

پهٔ قرآنِ حکیم کښې شیطان ته ابلیس (مایوس کېدلو والا) هم وئیلے شوے دے چې د دې خپل نوم عزازیل دے ـ دا رجیم یعني رټلے شوے د دې وجې نه شو چې دې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نافرماني او تکبّر

وکړلو ـ دَ آدم عليه السلام په مقابله کښې خپل ځان افضل وګڼړلو ،نو الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی هغهٔ دَ خپل دربار نه ذليل او رسوا ويستلو ـ

## ځان پرې پوهه کړئ او حل يې کړئ:

### خالي ځايونه ډک کړئ :

(۱)آدم عليه السلام اول ____________ او __________________ وو ـ

(۲)دَ ابليس معنیٰ __________________ ده چې دَ هغهٔ اصل نوم ____________ دے ـ

(۳)الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی آدم عليه السلام د ________ نه جوړ کړے دے او هغهٔ له يې ________ لقب ورکړے دے ـ

(۴) شيطان دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نه _______________ دَ ورځې پورې _____________________ وغوښتله ـ

(۵)الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ________ او ____________ دَ پيدا کولو نه وروسته په جنّت کښې وساتل ـ

### ۲ ـ دَ لاندې جملو سره په جوړو شوو خانو کښې دَ قيصې دَ ترتيب په لحاظ سره نمبر

{ } الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی حضرت آدم عليه السلام او حضرت حوّا عليها السلام معاف کړل او زمکې ته يې راولېږل ـ

{ } الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی آدم عليه السلام او حضرت حوّا عليها السلام دواړه په جنت کښې وساتل ـ

{ } دَ شيطان نه سيوا ټولو حضرت آدم عليه السلام ته سجده وکړه ـ

{ } الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ملائکو ته حکم وکړو چې آدم عليه السلام ته سجده وکړئ ـ

{ } الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی حضرت آدم عليه السلام ته دَ ټولو څيزونو نومونه وښودل ـ

{ } الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی شيطان ته اوفرمائل چې ذليل او رسوا د دې ځائے نه اوځه ـ

{ } شيطان دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نافرماني او دَ حضرت آدم عليه السلام ګستاخي وکړه، تکبّر يې وکړو د دې وجې نه هغه اورټلے شو او همېشه د پاره لعنتي اوګرځولے شو ـ

{ } الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ خټې نه دَ حضرت آدم عليه السلام پېدائش وکړلو ، دَ هغهٔ په جسم کښې دَ خپل طرف نه خاص روح پوک کړو ـ

﴿ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى حضرت آدم ﷵ ته په زمکه باندې خپل نائب يعنې دَ"خليفة الله" اعزاز ورکړو او نبي يې جوړ کړو.
﴿ حضرت آدم ﷵ او حضرت حوّا عليها السلام ډير زر دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى نه معافي وغوښتله.

**۳.دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کړښه ولګوئ:**

| کالم (ب) | کالم (الف) |
| --- | --- |
| ❖ آدم ﷵ اولنے | ❖ دَ ټولو څيزونو نومونه وښودل |
| ❖ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى په هر قوم کښې | ❖ جن (پيرے) ؤ. |
| ❖ شيطان ورتلے شو | ❖ انبياء کِرام عَلَيْهِم السّلام راليږلي |
| ❖ شيطان د دې وجې نه مردود شو چې | ❖ نبی ؤ. |
| ❖ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى آدم ﷵ ته | ❖ هغه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى نافرماني او تکبّر وکړو دَ نبی په مقابله کښې خپل ځان |

**۴.رائځ مونږ خپله جائزه واخلو:**

| شمېره | اعمال | آوجي | کافي حده پوري | دَ څۀ حده پوري | اراده ده |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| 1. | آيا مونږ دَ شرم او حياء خيال ساتو؟ | | | | |
| 2. | آيا مونږ شيطان خپل دښمن ګڼو؟ | | | | |
| 3. | آيا مونږ دَ غلطۍ نه فوراً توبه اوباسو؟ | | | | |
| 4. | آيا مونږ دَ خپلو مور پلار او استاذانو خبره منو؟ | | | | |
| 5. | آيا مونږ دَ لوئي نه بچ يې وو؟ | | | | |
| 6. | آيا مونږ داسې خلق دوستان جوړوو چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى تابعدار دي؟ | | | | |
| 7. | آيا مونږ نور دَ خپل ځان نه بهتر ګڼو؟ | | | | |
| 8. | آيا مونږ دَ انبياءکرام عليهم السلام احترام او اعمال صالحه دَ جنت دَ حصول د پاره کوو؟ | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 9. | آيا مونږ دَ شېطاني وسوسو نه دَ بچ کېدلو کوشش کوو؟ | | | | |
| 10. | آيا مونږ دَ شېطان نه دَ بچ کېدلو د پاره دَ اعوذبِالله دَ وئيلو اهتمام کوو؟ | | | | |
| 11. | آيا مونږ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ انبياءکرام عليهم السلام او مقدّسو هستو احترام کوو؟ | | | | |
| 12. | آيا مونږ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی او دَ هغهٔ دَ رسول ﷺ اطاعت کوو؟ | | | | |

**معلوم کړئ:** نه دَ ځنو دښمن، تکبّر، شکر، قسم او دَ وسوسې وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ۔

**۵ دَلاندې جملو پهٔ باره کښې اووايئ چې دا دَ چا وينا ده:**

| شمېره | جملې | الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی | حضرت آدم عليه السلام | شېطان |
|---|---|---|---|---|
| 1. | يقيناً مونږ تاسو پېدا کړي او مونږ ستاسو صورتونه جوړ کړي دي ۔ | | | |
| 2. | اے زمونږه ربه! مونږ خپل نقصان کړے دے،کهٔ تهٔ مونږه و نهٔ بخښې او پهٔ مونږه باندې رحم و نهٔ کړې،نو مونږ به تاوان اوچتولو والا شو۔ | | | |
| 3. | يقيناً شېطان ستاسو دواړو ښکاره دښمن دے۔ | | | |
| 4. | زهٔ دې دَ اور نه پېدا کړے يم او دا دې دَ ختې نه پېدا کړے دے | | | |
| 5. | تاسو دې ونې ته مهٔ نزدې کيږئ کنې دَ تاوان والا نه به شئ۔ | | | |

سوچ وکړئ !!! که چرته تاسو دَ خپل کور والا او استاذانو دَ مرضۍ نه خلاف یو کار وکړئ، نو پهٔ دې صورت کښې به تاسو څه کوئ؟



## کورنۍ مشغولتیا

- دَ حضرت آدم علیه السلام او حضرت حوّا علیها السلام دعا (چې پهٔ سورت الاعراف۷، آیت ۲۳ کښې به راشي) دَ ترجمې سره یاد کړئ او پهٔ یو چاټ باندې پهٔ ښائسته خط باندې ولیکئ او دَ کور پهٔ یو ښهٔ ځائے ولګوئ۔
- دَ آدم علیه السلام قصّه دَ سورت البقره آیات ۳۰ تا ۳۹ کښې هم بیان شوې ده، دا دَ ترجمې سره اوواییٔ او د دې پهٔ رنړائي کښې دَ آدم علیه السلام دوه غټې فضیلتونه ولیکئ۔
- یوه خپله واقعه خپلو خوېندو وروڼو او دوستانو ته واوروئ کله چې تاسو دَ شېطان پهٔ وسوسې هم یو نیک کار نهٔ وي پرېښے۔

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ـــــــ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ـــــــ

# قصّه دَ حضرت نوح علیه السلام

## تعارف

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ خلقو دَ هدايت د پاره پهٔ هر دور کښې رسول او نبی (عليهم السلام) رالیږلي دي چې پهٔ دي باندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى وحي نازلوي۔ دَ دغه رسولانو نه يو حضرت نوح عَلَيْهِ السّلَام هم ؤ چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى اولنے رسول ؤ۔ دَ حضرت آدم عَلَيْهِ السّلَام دَ اولاد نه وروسته ډيرې مودې پورې دَ هغهٔ اولاد دَ توحيد پهٔ عقيده باندې قائم ؤ۔ بيا پهٔ رو رو پهٔ دغه خلقو کښې خراب والے پيدا شو او پهٔ شرک کښې مبتلا شو چې کله پهٔ زمکه باندې بت پرستي عام شوه، نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى خپل نزدې بنده او خپل رسول حضرت نوح عَلَيْهِ السّلَام دغه مشرک قوم ته راوليږلو۔ دا قوم دَ عراق پهٔ علاقه باندې آباد وو۔

## پهٔ دنيا کښې دَ بت پرستۍ آغاز

شيطان دَ انسان ازلي دښمن دے، دهٔ دَ اول ورځې نه دَ انسان دَ دهوکه کولو او گمراه کولو قسم خوړلے دے. دا دَ خلقو پهٔ ذهن کښې مختلف خيالات او وسوسې پيدا کړې چې دا ستوري، سپوږمۍ، اور، ونې او انسانان وغيره تاسو ته فائده درکوي ستاسو خدايان هم دوي کېدے شي او ستاسو دَ عبادت مستحق هم دوي دي، تاسو دَ دوي عبادت کوئ او دوي خوشحاله کړئ۔ دا به تاسو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ عذاب نه بچ کوي۔ دغهٔ رنگې پهٔ خلقو کښې دَ بت پرستۍ تصوّر پيدا شو او دوي دَ انسانانو سره دَ قدرت مظاهره او دَ مختلفو څيزونو مجسّمې جوړې کړې او دَ هغوي تعظيم (عبادت) يې شروع کړو۔ دا پهٔ اصل کښې دَ دوي خيالي تصورّ ؤ چې د دي دَ حقيقت سره هيڅ تعلق نۀ ؤ۔ دَ حضرت نوح عليه السلام پهٔ زمانه کښې دَ توحيد نظريه ورکه شوې وه او دَ حضرت نوح عليه السلام پهٔ قوم کښې بت پرستي اخر حد ته رسېدلې وه، هغوي خپل پنځهٔ مشهور بتان جوړ کړي وو چې پهٔ قرآن حکيم کښې دَ هغوي دا نومونه راغلي دي: وَدّ، سُوَاع، يَغُوْث ، يَعُوْق او نَسْر۔

## دَ شرک تعريف

دَ شرک مطلب دا دے چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى سره څوک پهٔ ذات او صفات کښې شريک کول او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى پشان مستقل صفات پهٔ چا کښې منل۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى شرک ډېر غټ ظلم گرځولے دے۔

## دَ توحيد دعوت

حضرت نوح علیه السلام دَ نهه نیم سوه کاله (۹۵۰) پورې خپل قوم دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی عبادت ته دعوت ورکړلو . حضرت نوح علیه السلام خپل قوم دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی سره د شرک کولو او دَ بتانو دَ عبادت او تعظیم نه منع کړل . دوي علیه السلام دَ خپل قوم افراد ځانله ځانله هم پوهه کړل او دَ ټولو مخې ته هم، دَ ورځې هم پوهه کړل او په شپه کښې هم، لیکن قوم دَ هغهٔ خبره نهٔ منله . قوم حضرت نوح علیه السلام ته قِسما قِسم تکلیفونه ورسول او ټوقې مسخرې یې پسې وکړلې .

## دَ قوم ردِّ عمل

دَ قوم دَ څو غریبانانو خلقو نه علاوه پهٔ حضرت نوح علیه السلام باندې هیچا هم ایمان را نهٔ وړلو . دَ قوم سردارنو اوئیل چې اے نوحه! ستا منلو والا پهٔ مونږ کښې غریب خلق دے. تهٔ دوي د خپل ځان نه جدا کړه . حضرت نوح علیه السلام دَ ایمان والا دَ جدا کولو نه انکار وکړلو . قوم حضرت نوح علیه السلام ته اوئیل چې مونږ ستا پهٔ وینا سره خپل بتان نهٔ شو پرېښودے، تهٔ چې مونږ دَ کوم عذاب نه وېروي هغه راوله . حضرت نوح علیه السلام دَ دوي پهٔ بار بار انکار کولو دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی پهٔ دربار کښې عرض وکړلو "چې اے زما ربه ! مهٔ پرېږده پهٔ مخ دَ زمکه باندې دَ کافرانو یو کس اوسېدونکے . بې شکه که چرته تهٔ دوي پرېږدې، نو ستا بندګان ګمراه به کوي .

## دَ کشتۍ جوړولو حکم

چې کله قوم دَ مسلسل نافرمانۍ او دَ دوي دَ عذاب طلب کولو باندې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دې کافر قوم لره دَ انجامَ پورې دَ رسولو اراده وکړله، نو حضرت نوح علیه السلام طرف ته وحې وشوله چې ستا دَ قوم مزید خلق ایمان نهٔ راوړي . بیا حضرت نوح علیه السلام ته دَ یوې کشتۍ جوړولو حکم وشو، نو حضرت نوح علیه السلام دا کشتۍ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی پهٔ حکم او د هدایت مطابق دَ لرګو دَ تختو نه او دَ میخونو نه جوړول شروع کړل . چې کله حضرت نوح علیه السلام دا کشتۍ جوړوله، نو کافر قوم به پسې ټوقې، مذاق او مسخرې کولې . دَ دوي خیال ؤ چې هر طرف ته خشکي او خشکي ده، دا کشتۍ به چرته چلیږي لیکن حضرت نوح علیه السلام دَ دوي دَ خبرو پرواه کولو نه بغیر دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی پهٔ حکم باندې عمل جاري ساتلو او کشتۍ یې جوړه کړه .

## پهٔ کافرانو باندې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی عذاب

چې کله پۀ کافرانو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب وخت راغلے، نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نوح علیه السلام ته پۀ کشتۍ کښې خپل کور والا، ایمان والا او دَ حیواناتو (څناورو) دَ یوې یوې جوړې سورولو حکم وکړلو ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پۀ حکم سره دَ زمکې نه اوبۀ راوتل شروع شو او دَ اسمان نه باران شروع شو او پۀ لیدلو لیدلو اوبۀ طوفان جوړ شو او دَ غَر پشان اوچتې چپې اوچتې شوې ـ

## دَ "یام" انجام

دَ حضرت نوح علیه السلام درې۳ زامن : حضرت حام ، حضرت سام او حضرت یافث. دَ دې سره پۀ کشتۍ کښې سوارۀ وو. بس یو زوے "یام" یې دَ کشتۍ نه بهر ؤ ـ حضرت نوح علیه السلام یام ته آواز وکړلو چې" اے زما زویه! پۀ کشتۍ کښې سور شه ـ هغۀ اوئیل زۀ به غر ته وخېژم هغه به ما بچ کړي ـ حضرت نوح علیه السلام اوفرمائیل " نن دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نه سېوا بل څوک بچ کولو والا نشته دے ـ اچانک یوه چپۀ راغله او دَ هغوي علیه السلام زوے یې هم دَ نورو کافرانو سره ډوب کړو ـ الله دَ حضرت نوح علیه السلام سره پۀ کشتۍ کښې سوارۀ ټول ایمان والا محفوظ کړل ـ

## دَ طوفان ختمېدل

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ زمکې ته دَ اوبو راښکلو حکم وکړلو او اسمان ته یې د اوبو دَ بندولو حکم وکړلو، نو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالی پۀ حکم باندې طوفان ختم شو او دَ طوفان اوبۀ وچې کړے شوې ـ دَ حضرت نوح علیه السلام کشتۍ دَ "ارارات" دَ غرونو پۀ سلسله کښې د یو غر"جودي" باندې ودرېدله ـ ارارات دَ ترکي او آرمینیا سرحد ته نزدې دے ـ دا علاقه دَ آرمینیا دَ سطح مرتفع نه شروع کېږي پۀ جنوب کښې تر کردستان پورې ده ـ دا غر نن هم د " جودی" پۀ نوم باندې مشهور دے ـ

## دَ نسلِ انساني تسلسل

پۀ کشتۍ کښې بچ کېدونکې خلقو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ شکر ادا کړلو او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پۀ فرمان برداری کښې زندګي تېروله ـ دَ حضرت نوح علیه السلام نه وروسته دَ هغۀ دَ ایمان والا درې بچو نه یعنې حضرت حام، حضرت سام او حضرت یافث نه دَ انسانانو نسل روان شو، د دې وجې نه نوح علیه السلام ته "آدم ثاني" هم وائي ـ

## د دې قیصې نه حاصلېدلو والا سبق


شرک یو لویه ګناه ده چې دَ دې نه مونږ د پخپله هم ضرور بچ کېدل پکار دي او نورو لره هم دَ بچ کولو دعوت ورکول پکار دي۔ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی او دَ هغهٔ دَ رسولانو اطاعت کولو والا پهٔ دنیا او آخرت کښې کامیاب دي۔

فرمان نبوي ﷺ: "چې پهٔ چا کښې امانت داري نهٔ وي پهٔ هغهٔ کښې هیڅ ایمان نشته" (بهیقي)

## حضرت نوح عَلَیْهِ السَّلام او دَ حضرت نوح علیه السلام دَ قوم مقام

نوح علیه السلام

- پهٔ جنوبي عراق کښې دَ نوح علیه السلام دَ قوم علاقه چې چرته نن کوفه آباده ده۔
- دَ جودي غر د (ترکی) هغه مقام چې چرته دَ نوح علیه السلام کشتی دَ طوفانِ نوح نه وروسته ولاړه وه۔



# قصّه حضرت نوح عليه السلام

## سُوْرَةَ الاعراف۷، آيت: ۵۹ تا ۶۴

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

خاص د الله په فناه کښې راځم دشيطان رټلى شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله د نوم نه شروع کوم چې لوي مهربان ا ود يررحم

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

يقينًا مونږ نوح عليه السلام خپل قوم ته لېږلې ؤ، نو هغوي اوئيل: اے زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ،

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ۹ ۰۰۵

تاسو دپاره د هغهٔ نه سېوا (بل) هېڅوک معبود نشته، بېشکه زهٔ پهٔ تاسو وېرېږم د لوے ورځې د عذاب نه۔

قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖٓ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ۰ ۰۰۶ قَالَ يٰقَوْمِ

د هغهٔ د قوم سردارانو اوئيل: بېشکه مونږ تا لازمًا پهٔ ښکاره ګمراهۍ کښې وينو ۔ نوح اوئيل: اے زما قومه!

لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ۱ ۰۰۶ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ

پهٔ ما کښې هېڅ ګمراهي نشته او لېکن زهٔ رسول يم د رب دمخلوقاتو ۔ زهٔ تاسو ته د خپل رب پېغامونه در رسووم

وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ۲ ۰۰۶ اَوَ عَجِبْتُمْ

او تاسو ته نصيحت کوم او زهٔ د الله د جانبه پهٔ هغهٔ څهٔ پوهېږم چې تاسو پرې نهٔ پوهېږئ۔ آيا تاسو پهٔ دې تعجب کوئ

اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ

چې تاسو ته نصيحت راغے د خپل رب د جانبه پهٔ داسې سړي چې دا هم ستاسو نه دے، ددې دپاره چې تاسو وېروي

وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ۳ ۰۰۶ فَكَذَّبُوْهُ فَاَنْجَيْنٰهُ

او د دې دپاره چې تاسو د الله د نافرمانۍ نه بچ شئ او د دې دپاره چې پهٔ تاسو رحم وکړے شي ۔نو خلقو دروغژن وګڼړلو، نو مونږ هغهٔ ته، نجات ورکړو

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِيْنَ۴ ۰۰۶

اوهغو کسانو ته چې د دهٔ سره پهٔ کشتۍ کښې وو او هغه کسان مو غرق کړل چې زمونږ اياتونه يې دروغ ګڼړلي وو، بېشکه هغوی ړاندهٔ خلق وو۔

# قصّه حضرت نوح علیه السلام

## سُوْرَةُ هود ١١، آیت: ٢٥تا٢٩

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖۤ ۙ اِنِّيْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۙ ٠٠٢٥

او یقینًا مونږ نوح علیه السلام لیږلےؤ خپل قام ته ، (ورته وې وئیل) بېشکه زۀ ستاسو دپاره ښکاره وېرونکے یم

اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ٠٠٢٦

چې تاسو صرف د الله عبادت کوئ، بېشکه زۀ پۀ تاسو باندې وېرېږم د ډېرې دردونکې ورځې د عذاب نه.

فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ

نو د هغۀ د قوم کافرشوو مشرانو اوئیل: مونږ تا نۀ وینو مګر زمونږ پۀ شان یو بشر (انسان) او مونږ نۀ وینو تا چې تابعداري کوي ستا

اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ

مګر هغو کسانو چې دوي زمونږ د ټولو لاندې خلق دي ، پۀ سرسري فکر سره، تاسو دپاره مونږ پۀ خپل ځان باندې هيڅ بهتري (غوره والے) نۀ وینو.

بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ٠٠٢٧ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰي بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ

بلکې مونږ پۀ تاسو باندې د دروغژنو ګمان کوو. : اے زما قومه ! تاسو ماته خبر راکړئ که زۀ یم پۀ هغه څرګند دلیل باندې چې زما درب د طرفه

وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ۭ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا

او هغۀ ماته د خپل جانبه رحمت راکړے وي، بیا پۀ تاسو باندې هغه پټ کړے شوي وي، آیا مونږ پۀ هغه باندې تاسو مجبوره کولے شو،

وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ٠٠٢٨ وَيٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔــلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَي اللّٰهِ

پۀ دې حال کښې چې تاسو هغه لره بد ګڼونکي ئې وئ. او اے زما قومه! زۀ د تاسو نه پۀ دغه (تبلیغ) باندې مال نۀ غواړم، زما اجر يوائې پۀ الله باندې دے

وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ٠٠٢٩

او زۀ د هغو کسانو شړونکے نۀ یم چې ایمان یې راوړے دے بېشکه دوي د خپل رب سره ملاقات کونکي دي او لیکن زۀ تاسو وینم داسې قوم چې جهالت کوئ

## اَهمې نکتې

## قصّه حضرت نوح عليه السلام

سُوْرَةٌ هود ١١، آيت: ٣٠تا٣٥

وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ٠٠٣٠

او اے زما قومه! د الله په مقابله کښې به زما څوک مدد اوکړي که زۀ دوي وشړم؟ اٰيا نو تاسو نصيحت ولې نۀ قبلوئ.

وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ

او زۀ تاسو ته (دا) نۀ وايم چې زما سره د الله خزانې دي او نۀ دا (وايم) چې زۀ په خپله غيبو پوهېږم او نۀ (دا) وايم چې بېشکه زۀ مَلَك يم

وَّلَآ اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْٓ اَعْيُنُكُمْ لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا ؕ

او نۀ زۀ د هغو کسانو په حق کښې چې ستاسو سترګې يې سپک ګڼي دا وايم چې الله به دوي ته د سره څۀ خېر ور نۀ کړي،

اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۚ اِنِّيْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ٠٠٣١

الله ښۀ عالم دے په هغو (خبرو) چې د دوي په نفسونو کښې دي. بېشکه زۀ به په دغه وخت کښې خامخا د کمي کونکو نه شم.

قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ

دوي اوئيل: اے نوحه! يقيناً تا زمونږ سره بحث وکړه، نو زمونږ (سره) بحث دې ډېره زياته کړه، لهٰذا ته مونږ ته هغه (عذاب) راوړه چې ته يې زمونږ سره وعده کوې،

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ٠٠٣٢ قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ

که ته د رښتنو نه يې. نوح اوئيل: يواځې الله هغه (عذاب) راولي که وي غواړي

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ٠٠٣٣ وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ

او تاسو عاجزه کونکي نۀ يئ (الله لره). او زما نصيحت تاسو ته نفع نۀ در رسوي که زۀ تاسو ته د نصيحت کولو اراده وکړم،

اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ هُوَ رَبُّكُمْ ۟ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ؕ٠٠٣٤

که چرې الله اوغواړي نو هغه به تاسو ستاسو د ضد د و جې نه ګمراه کړي ،هم هغه ستاسو رب دے او خاص هغۀ ته به ورګر ځولے شئ

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ

ولې دا مشرکين وائي: دۀ ځانه دا (قرآن) جوړ کړے رسول الله، ته اووايه: بالفرض! که ما داد ځانه جوړ کړے وي،

فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ٠٠٣٥

نو خاص په ما باندې دے (انجام) زما (د) جرم او زۀ بري يم د هغو جرمونو نه چې تاسو يې کوئ.

# قصّه حضرت نوح عليه السلام

سُوْرَۃ هود ۱۱، آيت: ۳۶ تا ۴۰

وَاُوْحِيَ اِلٰى نُوْحٍ اَنَّهٗ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ

او نوح عليه السلام ته وحي وکړے شوه چې بېشکه شان دا دے چې ستا د قوم به (څوک هم) ايمان را نۀوړي غېر د هغو کسانو نه چې ايمان يې راوړے دے،

فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۰۰۳۶ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا

نو مۀ غمژن کېږه په هغو کارونو (کفر) چې دوي يې کوي۔ او بېړۍ جوړه کړه زمونږ د سترګو په وړاندې او زمونږ د وحي مطابق۔

وَلَا تُخَاطِبْنِيْ فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ۰۰۳۷ وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ ۙ

او ز ما سره خبرې مۀ کوه د هغو کسانو په باره کښې چې ظلم (شرك) يې کړے دے، بېشکه دوي غرقېدونکي دي۔ او هغه (نوح عليه السلام) بېړۍ جوړوله،

وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ سَخِرُوْا مِنْهُ ؕ قَالَ اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا

په داسې حال کښې چې کله به هم تېرېدل په دۀ باندې د دۀ د قوم څۀ مشران (نو) په دۀ پورې به يې مسخرې کولې هغۀ اوئيل: که تاسو په مونږ پورې مسخرې کوئ،

فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُوْنَ ؕ ۰۰۳۸ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ

نو بېشکه مونږ به هم په ستاسو د مسخرو جواب درکړو لکه څنګه چې تاسو مسخرې کوئ۔ نو زر به تاسو هغه څوك وپېژنئ چې په چا عذاب راځي چې هغه به رسوا کړي

وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ۰۰۳۹ حَتّٰى اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ

چې هغه به رسوا کړي او په دۀ باندې به دائمي عذاب راکوز شي۔ تر هغه پورې چې کله زمونږ حکم راغے او تنور را وخوټکېدۀ،

قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا

مونږ اوئيل: په دې (بېړۍ) کښې سوار ۀ کړه

مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ

د هر قسمه نه جوړه دوه دوه (نر او ماده) او خپل اهل هم (خو) د هغه چا نه علاوه چې په هغۀ باندې ،مخکښې حکم شوے دے۔

وَمَنْ اٰمَنَ ؕ وَمَا اٰمَنَ مَعَهٗ اِلَّا قَلِيْلٌ ۰۰۴۰

او هغه څوك هم (سوارۀ کړه) چې ايمان يې راوړے دے او د دۀ سره ايمان نۀ وُ راوړے مګر ډېرو لږو (خلقو)۔

# قصّه حضرت نوح علیه السلام

## سُوْرَةَ هود ۱۱،آیت : ۴۱ تا ۴۴

وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا ۭ

او نوح علیه السلام اوئیل: تاسو ټول په دې کښې سوارۀ شئ (او وايئ) د الله په نامه سره د دې روانېدل او د دې ودرېدل دي،

اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۴۱ وَهِيَ تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ ۣ

بېشکه زما رب يقيناً ډېر بخښونکے، بې حده رحم کونکے دے۔ دې بېړۍ به دوي ورل په داسې چپو کښې لکه غرونه

وَنَادٰى نُوْحُۨ ابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ۴۲

نوح علیه السلام خپل زوے ته اواز وکړو په داسې حال کښې چې هغه په يوې غاړه کښې: اے زما بچوړيه! زمونږ سره راسور شه او د کافرانو سره مۀ کېږه

قَالَ سَاٰوِيْٓ اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَاۗءِ ۭ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ

هغۀ اوئيل: زر به زۀ د داسې غرۀ په سر کښې ځائے ونيسم چې ما به د اوبو نه بچ کړي، نوح (علیه السلام) اوئيل: نن ورځ هيڅوک ساتونکے (بچ کوونکے) نشته

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ۴۳

د الله د حکم نه مګر هغه چې دغه (الله) پرې رحم وکړي او د دواړو په مېنځ کښې چپه حائله شوه، نو دے شه د غرق کړے شوو نه۔

وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَاۗءَكِ وَيٰسَمَاۗءُ اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَاۗءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ

او اوئيل شو: اے زمکې! خپلې اوبۀ راکاږه (جذب کړه) او اے اسمانه! اوبۀ ورول بند کړه او اوبۀ وچې کړے شوې او فيصله شولو کار

وَاسْتَوَتْ عَلَي الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۴۴

او هغه (بېړۍ) په جودي غر ودرېده او اوئيل شو لرې والے دې وي (له رحمت نه) د ظلم کوونکو خلقو دپاره۔

# اَهمي نکتي

## آیا تاسو پوهیږئ؟

چې هر رسول نبی وي لیکن هر نبی رسول نهٔ وي. رسول عموماً هغه خاص بنده وي چې هغهٔ ته الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نوے کتاب یا شریعت (احکامات) ورکړي وي.

## قصّه حضرت نوح علیه السلام

سُوۡرَۃ هود ۱۱،آیت :۴۵تا۴۹

وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ مِنْ اَهْلِيْ

او نوح ﷺ خپل رب ته اواز (سوال) وکړو، نو وې وئیل: اے زما ربه! بیشکه زما زوے دا زما د اهله دے

وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ۰۰۴۵ قَالَ يٰنُوْحُ

او بیشکه هم ستا وعده حقه ده او ته د ټولو ښهٔ فیصله کونکے یې . وې وئیل: اے نوحه!

اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ١ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ١ۖۗ فَلَا تَسْـَٔلْنِ

بیشکه هغه (ستا زوے) ستا د (مؤمن) اهله نهٔ دے، بیشکه هغه (خاوند د) ناکاره عمل دے، نو زما نه د هغهٔ څیز سوال مهٔ کوه

مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ١ؕ اِنِّيْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ۰۰۴۶

چې تا ته د هغهٔ په باره کښې څهٔ علم نهٔ وي،بیشکه زهٔ تا ته د دې نه نصیحت کوم چې ته نهٔ شې د ناپوهو نه۔

قَالَ رَبِّ اِنِّيْۤ اَعُوْذُبِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ

نوح ﷺ اوئیل: اے زما ربه! بیشکه زهٔ په تا پورې پناه نیسم د دې نه چې ستا نه د هغهٔ څهٔ سوال وکړم

مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ١ؕ وَاِلَّا تَغْفِرْلِيْ وَتَرْحَمْنِيْۤ

چې ما ته د هغهٔ په باره کښې څه علم نهٔ وي او که ته ما ته بخښنه و نهٔ کړې او په ما رحم و نهٔ کړې

اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ۰۰۴۷ قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ

(نو) شم به زهٔ د تاوانیانو نه اوئیل شو: اے نوحه! کوز شه په سلامتۍ سره زمونږ د طرفه او سره د هغو برکتونو چې په تا باندې دي

وَعَلٰۤى اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ١ؕ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ۰۰۴۸

او په خو ډلو باندې د هغو نه چې ستا سره دي او نورې ډلې دي چې زر به مونږ هغوی ته نفع ورکړو، بیا به هغوی ته زمونږ د جانبه ډېر دردونکے عذاب ورسېږي

تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَاۤ اِلَيْكَ١ۚ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَاۤ اَنْتَ

دغه قیصه د غیبو د خبرونو نه ده چې مونږ یې تا ته وحې کوو، نهٔ ته پهٔ دې پوهه وې

وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا١ؕۛ فَاصْبِرْ١ؕۛ اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَؒ۰۰۴۹

او نهٔ ستا قوم د دې نه مخکښې ، نو صبر کوه، بیشکه ښهٔ انجام د پرهیزګارانو دپاره دے ۔

# اَهمې نکتې

# قصّه حضرت نوح علیه السلام

## سُوْرَةُالشعراء۲۲،آیت:۱۰۵تا۱۱۵

كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ الْمُرْسَلِيْنَ ۰۰۱۰۵ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۰۰۱۰۶

د نوح علیه السلام قوم د رسولانو دروغژن وګرځول ـ کله چې دوي ته د دوي ورور نوح علیه السلام اوئیل: اٰیا تاسو نۀ وېرېږئ؟

اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۰۰۱۰۷ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۰۰۱۰۸

بېشکه زۀ تاسو ته امانتګر رسول يم ـ نو تاسو د الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ

وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۰۰۱۰۹

او زۀ ستاسو نه پۀ دې (تبليغ) باندې هيڅ اجر (عوض) نۀ غواړم، نۀ دے اجر زما مګر پۀ رب دټولومخلوقاتو باندې ـ

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۰۰۱۱۰ قَالُوْا اَنُؤْمِنُ لَكَ

نو تاسو د الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ هغوی اوئيل: اٰيا مونږ پۀ تا ايمان راوړو؟ ـ

وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ۰۰۱۱۱ قَالَ وَمَا عِلْمِيْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۰۰۱۱۲

حال دا چې ستا تابعداري د ټولونه رذيلو خوارو خلقو کړې ده نوح علیه السلام اوئيل: او ما ته څه علم دے پۀ هغۀ څه چې دوي به کوي ـ

اِنْ حِسَابُهُمْ اِلَّا عَلٰى رَبِّيْ لَوْ تَشْعُرُوْنَ ۰۰۱۱۳ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۰۰۱۱۴

نۀ دے د دوی حساب مګر زما پۀ رب باندې، که تاسو پوهېږئ ـ او زۀ د سره دې مومنانو لره شړونکے نۀ يم ـ

اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۰۰۱۱۵

زۀ نۀ يم مګر ښکاره وېرونکے

**عملي خبره:**

مونږ د دا کوشش کول پکار دي چې دَ خپل اصلاح سره سره دَ خپل اهل وعيال او دَ دوستانو احبابو پورې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى پېغام خيرخواهی دَ جذبې سره ورسوو او د دې سره دا يقين کول چې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى تابعداري او دَ هغۀ دَ رسول صلی الله علیه وسلم پۀ اطاعت او اتباع کښې دَ دواړو جهانو کاميابي ده ـ

# قصّه حضرت نوح علیه السلام

سُوْرَةالشعراء۲۲،آیت: ۱۱۲تا۱۲۲

قَالُوْا لَىِٕنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰنُوْحُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمَرْجُوْمِيْنَ ؕ۰۰۱۱۶

دنوح علیه السلام قوم اوئیل: اے نوحه! قسم دے کۀ تۀ ددې تبلیغ نه بندنۀ شوې (نو) خامخا به تۀ وګرځې سنګسارکړے شوو خلقو نه.

قَالَ رَبِّ اِنَّ قَوْمِيْ كَذَّبُوْنِ ۚۖ ۰۰۱۱۷ فَافْتَحْ

نوح علیه السلام اوئیل: اے زما ربه! بېشکه زما قوم زۀ دروغژن وګڼړلم. نو تۀ فېصله

بَيْنِيْ وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَّنَجِّنِيْ وَمَنْ مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ۰۰۱۱۸

وکړه زما په مېنځ کښې او د دوی په مېنځ کښې واضحه فېصله او تۀ ما ته نجات راکړه او هغۀ چا ته چې زما سره کوم مؤمنان دي.

فَاَنْجَيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ۚ۰۰۱۱۹

نو مونږ نجات ورکړو هغۀ ته او هغۀ چا ته چې د دۀ سره په ډکه کشتۍ کښې وو.

ثُمَّ اَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبٰقِيْنَ ؕ۰۰۱۲۰ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ۱

بیا مونږ د دې نه پس باقي خلق غرق (ډوب) کړل. بېشکه په دې کښې خامخا د عبرت نښې دي،

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ۰۰۱۲۱ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۧ۰۰۱۲۲

او د دوی زیاتره مؤمنان نۀ وو. او بېشکه ستا رب خامخا همغه ډېر غالب، بې حده رحم کونکے دے.



# دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ رسول دَ قومونو دَ هدایت د پاره لیږلے شي د دې د پاره چې خلق دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب نه بچ شي ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت: ۵۹ ،سُوْرَة هود ،آیت :۲۵)

۲ ـ ټول انبیاء کِرام علیهم السلام دَ یو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عبادت طرف ته بلل کول او دَ شرک نه یې منع کوله ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۵۹ ،سُوْرَة آیت : ۲۲)

۳ ـ عام طور باندې به دَ قام دَ اصلاح کار په بهتر انداز سره د دې قام یو فرد کولے شي ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۵۹تا۶۳ ،سُوْرَة الشعراء آیت:۱۰۶)

۴ ـ رسولانو همېشه د پاره دَ خلقو مخالفت برداشت کړلو ، لیکن دَ حق دَ خبرې نه وا نهٔ اوړېدل ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آیات: ۶۰ تا ۶۱)

۵ ـ دَ کافرو سرداران دَ خپل ځان سره خپل پېروي کونکي هم ډوبې او نیکان دَ خپلو پېروي کونکو دَ جنت دَ بوتللو سبب جوړېږي ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۶۴ ،سُوْرَة هودآیت: ۳۲)

۶ ـ قومِ نوح، نوح علیه السلام لره دروغژن کړلو ، نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ دروغو والو لره د دوي ټول خلق دَ طوفان پهٔ عبرتناک عذاب سره هلاک کړل او مونږ ته د دوي دَ غلط انجام نه سبق حاصلول پکار دي ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آیات:۶۴ ،سُوْرَة الشعراء،آیت: ۱۲۱)

۷ ـ کافر پهٔ مالي اعتبار سره پهٔ کمزورو ایمان والو پسې همېشه ټوقې کوي ـ (سُوْرَة هود ، آیت:۲۷ ، سُوْرَة الشعراء،آیت: ۱۱۱)

۸ ـ مونږ لره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ احکام او دینِ اسلام طرف ته رابلونکي دَ هغهٔ محبوب او مقرّب بندګانو قدر کول پکا ر دي ـ (سُوْرَة هود ، آیت:۱۰۸تا ۱۱۰)

۹ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پهٔ نزد اصل اهمیت دَ ایمان او پرهېزګارۍ دے مونږه لره دا د دې ټولو نه قیمتي دولت ګنړل پکار دي ـ (سُوْرَة هود ، آیت: ۳۱، ۳۰)

۱۰ ـ کافرانولره دَ یو نېک کس رشته داري یا تعلق دَ الله دَ عذابه نهٔ شي بچ کولے او مسلمانانو لره دَ نیکو خلقو تعلّق او رشته داري فائده رسوي ـ (سُوْرَة هود ، آیت:۴۶،۴۳ ،۴۰)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

### ۱ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کرښه ولګوئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
| --- | --- |
| ❖ پهٔ دنيا کښې دَ بت پرستۍ آغاز | ❖ کافر سوارۀ نهٔ شو |
| ❖ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نوح عليه السلام ته | ❖ څو خلقو ايمان راوړلو |
| ❖ دَ نو ح عليه السلام پهٔ کشتۍ کښې | ❖ دَ کشتۍ جوړولو حکم وکړلو |
| ❖ دَ نوح عليه السلام پهٔ دعوت باندې | ❖ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نه ويريږ ئ او زما اطاعت وکړئ |
| ❖ نوح عليه السلام خپل قوم دَ عذاب نهٔ دَ بچ کولو د پاره اوفرمائل چې | ❖ دَ نوح عليه السلام دَ قام نه شوے. |

### ۲ ـ خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱)حضرت نوح عليه السلام اولنے___________________________.

(۲) دَ حضرت آدم عليه السلام نه وروسته ډېر وخته پورې دَ هغه اولاد_______________ قائم ؤ.

(۳) دَ نوح عليه السلام قام پنځهٔ _____________جوړ کړهٔ او پهٔ خپلو عبادت ګاهونو کښې يې کېښنودل
.

(۴)حضرت نوح عليه السلام پهٔ قام باندې_____________پهٔ صورت کښې عذاب راغلے.

(۵)الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ حضرت نوح عليه السلام پهٔ کشتۍ کښې سوارۀ ټول ____________ محفوظ کړل
.

### ۳ـ دَ لاندې ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ـ دَ نوح عليه السلام متعلق څهٔ درې خبرې وليکئ.

---------------------------------------------------------------------------

---------------------------------------------------------------------------

۲ .رسول چا ته وائي؟

---------------------------------------------------------------------------

---------------------------------------------------------------------------

۳ .شرک څهٔ ته وائي؟

---------------------------------------------------------------------------

---------------------------------------------------------------------------

۴ .دَ نوح علیه السلام قوم چې کوم بُتان جوړ کړي وو دَ هغو نومونه وليکئ؟

---------------------------------------------------------------------------

---------------------------------------------------------------------------

۵ .دَ نوح علیه السلام قام دَ نوح علیه السلام ګستاخي وکړه څهٔ وئيلي وو ؟

---------------------------------------------------------------------------


---------------------------------------------------------------------------

۴.پهٔ لاندې ليکلې شوې جملو باندې صحيح(✓) يا غلط (X) نښه ولګوئ:

| شمېره | جملې | صحيح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | نوح علیه السلام خپل قام صرف پهٔ شپهٔ کښې پوهه کولو . | | |
| ۲ | دَ ټولو نه مخکښې پهٔ دنيا کښې دَ بت پرستۍ شروع دَ هود علیه السلام قوم کړے وهٔ | | |
| ۳ | الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ نو ح علیه السلام درې زامن دَ عذاب نه بچ کړل | | |
| ۴ | دَ نوح علیه السلام نه وروسته انساني نسل دَ هغهٔ دَ درې زامنو نه روان شو د دې وجې نه نوح علیه السلام ته "آدم ثاني" وائي . | | |

**۵ دَ نوح علیه السلام دَ قیصې متعلق لاندي لیکلي شوي الفاظ پهٔ لاندي خانو کښې ولیکئ:**

آدم ثاني، دري بتان، دَ جودي غر شوکه، دوه زامن، دَ بتانو تعظیم (عبادت)، نهه سوه پنځوس (۹۵۰) کاله،عراق، دعوت دِین، دَ کاڼو باران، یمن، دَ خلقو مذاق توقې کول، دَ مرغو جوړې، غریب ایمان والا




**معلوم کړئ:** دردناکه ورځ، واضح دلیل، رحمت نهٔ لیدلے کیدل، دَلویې ورځې عذاب او دَ دروغژنولو وضاحت دَ خپلو اساتذه کِرامو نه معلوم کړئ.

## راځئ!چې خپله جائزه واخلو:

| شمېره | اعمال | آوجي | کافي حده پورې | څهٔ حده پورې | اراده ده |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | آیا مونږه دَ شرک د الله نه دَ بچ کیدلو کوشش کوو؟ | | | | |
| ٢ | آیا مونږه نورو لره دین طرف ته دعوت ورکوو؟ | | | | |
| ٣ | آیامونږه خلقو لره دَ ګناه نه دَ بچ کولو کوشش کوو؟ | | | | |
| ۴ | آیا مونږه دَ خلقو پهٔ راکونکو تکلیفونو باندې صبر کوو؟ | | | | |
| ۵ | آیا مونږه دَ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ نبی ﷺ پهٔ نافرمانۍ باندې دَ عذابِ الٰهی نه ویرېږو؟ | | | | |
| ۶ | آیا مونږه پهٔ خپلو معاملاتو کښې دَ امانتدارۍ خیال ساتو؟ | | | | |
| ٧ | آیامونږه دَ دین پهٔ دعوت کښې د دې خبرو لحاظ لرو چې کومې انبیآءکِرام علیهم السلام اختیار کړي وي؟ | | | | |
| ٨ | آیا مونږه داسې خلق بدګڼو چې پهٔ ښهٔ کار کولو والا پسې ټوقې کوي؟ | | | | |
| ٩ | آیا مونږه دَ انبیآء کِرام علیهم السلام پهٔ سیرت باندې دَ عمل کولو کوشش کوو؟ | | | | |
| ١٠ | آیا مونږه نیک کار صرف دَ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ راضي کولو د پاره کوو؟ | | | | |

سوچ وکړئ!!! تاسو پهٔ څه پرېشانۍ کښې اخته شوے یې، که دَ ټولو کوششونو باوجود هغه پرېشاني لرې نۀ شي، نو پهٔ داسې صورت کښې به تهٔ څه کوې؟



### کورنۍ مشغولتیا

- دَ نوح علیه السلام واقعه خپلو خوېندو او ورونړو ته واوروئ پهٔ حاصل شوي سبق باندې خبرې اترې وکړئ۔
- پهٔ طوفان کښې دَ غورځولې شوې دَ یوې کِشتۍ خاکه جوړه کړئ او د دې پهٔ باره کښې کم ازکم پنځهٔ جملې ولیکئ۔
- پهٔ قرآنِ حکیم کښې دَ ډېرو ځناورو نومونه راغلي دي دَ هغوي نه دَ پنځهٔ حېواناتو نومونه تالاش کړئ او دَ هغو جوړې ولیکئ۔

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# قصّه دحضرت هود عليه السلام

## د حضرت هود عليه السلام او د قام عاد پېژندګلو

حضرت هود عليه السلام دَ حضرت نوح عليه السلام زوے دَ سام دَ نسل نه دے۔ دَ قام نوم"عاد" ؤ چې د دې شروع دَ حضرت نوح عليه السلام پۀ قام باندې پۀ راتلونکې طوفان کښې بچ شوو خلقو نه ؤ۔ دا قام دَ سمندر پۀ غاړه باندې دَ شګو پۀ ډېرکو والا علاقه پۀ "احقاف" کښې آباد وو۔ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دوي ته غټې اوږدۀ بدنونه، ډېر مال او اولاد ورکړے ؤ۔ هغو دَ اوږدو اوږدو ستنو والا محلونه جوړول۔ دوي ته "قام ارم" هم وائي، دوي دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی شکر ادا کولو پۀ ځائے تکبر وکړلو او وئيل يې چې زمونږ نه دَ زيات طاقت او قوّت والا به بل څوک وي؟ دا خلق دَ يو الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی عبادت کولو والا وو ليکن پۀ قلاره قلاره پۀ شرک کښې مبتلا شو او د بتانو عبادت يې شروع کړلو۔

## دعوت توحيد

الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ قام عاد دَ اصلاح د پاره حضرت هود عليه السلام رسول راولېږلو۔ حضرت هود عَلَيْهِ السَّلام خپل قام ته دَ يو الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ عبادت کولو دعوت ورکړلو۔ حضرت هود عليه السلام خلق دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی سره دَ شرک نه منع کړل۔

## دَ قام ردّ عمل

دَ حضرت هود عليه السلام پۀ دعوتِ توحيد باندې دَ قام کافرو سردارانو حضرت هود عليه السلام ته اوئيل چې "ته پۀ کم عقل والو کښې يې او مونږ تا دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی رسول نۀ منو (معاذالله)۔ دَ هود عليه السلام قام حضرت هود عليه السلام دَ عام انسان پشان ګڼړلو۔ څۀ خاص او مقدّس انسان ئې نۀ ګڼړلو۔ ګويا دَ دوي پۀ خيال کښې انسان رسول نۀ کېدلو، نو دې خلقو دَ هود عليه السلام دَ رسالت نه انکار وکړلو او دَ خپل ځان سره يې خپل قام هم ګمراه کړلو۔

## پۀ کافرانو باندې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی عذاب

د هود عليه السلام دَ ډېر پوهه کولو باوجود هم چې کله قام عاد دَ خپلو بدو او کفر نه واپس نۀ شو او دوي دَ هود عليه السلام خبره و نۀ منله، نو الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی پۀ دوي باندې دَ وريځې پۀ صورت کښې عذاب راولېږلو۔ قام چې کله وريځ وليدله، نو خوشحاله شو او وئېل يې چې اوس به باران وشي۔ هود عليه السلام اوفرمائل چې دا دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی عذاب دے ليکن قام د دې وريځ پۀ ليدلو باندې

خوشحالي مناوولە، تردې پورې چې دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ عذاب سخت طوفان راغلے چې اتۀ ورځو او اووۀ شپو پورې مسلسل چلېدلو ۔ ټول کافر قام پۀ دې طوفان کښې هلاک شو ۔ دغه تېزه هوا چې پۀ کوم څيز باندې به ورغله، نو هغه به يې ريزه ريزه کولو ۔ دې تېزې هوا دوي داسې اوچت کړل او ګوزار يې کړل لکه دَ کهجورو دَ تنو پشان ۔ دغۀ رنګې د دوي دَ تکبر او کفر دَ وجې نه پۀ دنيا کښې پۀ دوي باندې عذاب نازل شو او پۀ آخرت به هم دوي ته سزا ورکړے شي ۔

## پۀ ايمان والو باندې رحمت

الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی حضرت هود عليه السلام او پۀ هغۀ باندې ايمان راوړلو والا پۀ خپل خاص فضل او رحمت سره دَ تېزې هوا دَ عذاب نه بچ کړل ۔ دَ عذاب نه بچ کېدلو والا دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی شکر ادا کړلو او دَ خپل قام پۀ غلط انجام باندې افسوس وکړلو ۔ دا ټول خلق بيا دَ شام او مَديَن پۀ درمياني علاقې ته راغلل آباد شو ۔

**فرمانِ نبوی** صلی الله علیه وسلم: "مسلمان دَ مسلمان ورور دے،دا به نۀ پۀ دۀ باندې ظلم کوي او نۀ به يې پۀ هلاکت کښې غورځوي ۔ کوم مسلمان چې دَ بل مسلمان ورور ضرورت پوره کړي، نو الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی به د دۀ ضرورت پوره کړي ۔ (صحيح بخاری،صحيح مسلم)

## دَ حضرت هود عليه السلام او دَ قام عاد مقام

نقشه



## قصّه دحضرت هود علیه السّلام

سُوْرَۃ الاعراف۷،آیت:۶۵تا۶۹

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم
زۀ د الله پۀ فناه کښې راځم دشیطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم
د الله د نوم نه شروع کوم چې لوی مهربان او ډیر رحم والا دے

وَاِلٰی عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۭ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ
او (مونږ لیږلے ؤ) عاد (قام) ته دهغوی وروړ هود علیه السلام، هود علیه السلام اوئیل: اے زما قامه! تاسو دالله عبادت کوئ،

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ۰۰۶۵ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖٓ
تاسو دپاره د هغۀ نه سیوا (بل) هیڅ معبود نشته، اٰیا نو تاسو نۀ وېرېږئ؟ د هغۀ د قوم کافرو سردارانو اوئیل

اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ سَفَاهَةٍ وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۰۰۶۶
بېشکه مونږ خامخا تا پۀ بېوقوفۍ کښې وينو او بېشکه مونږ خامخا پۀ تا ګمان کوو د دروغژنو نه ـ

قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ سَفَاهَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۰۰۶۷
هود علیه السلام اوئیل: اے زما قومه! پۀ ما کښې هیڅ بېوقوفي نشته او لیکن رسول یم زۀ د ټولو جهانونو د رب ـ

اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ۰۰۶۸ اَوَعَجِبْتُمْ
زۀ تاسو ته د خپل رب پېغامونه در رسوم او زۀ ستاسو دپاره خېرخواه، امانت دار یم ـ اٰیا تاسو پۀ دې تعجب کوئ

اَنْ جَاۗءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰي رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ۭ
چې راغلے نصیحت تاسو ته د خپل رب د جانبه داسې سړي ته چې دے هم ستاسو نه دے، د دې دپاره چې تاسو وېروي

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاۗءَ مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ
او تاسو هغه وخت را یاد کړئ کله چې یې تاسو خلیفه ګان (ځائے ناستي) جوړ کړئ د نوح د قام نه پس او تاسو ته یې پۀ پیدائش کښې زیات فراخوالے درکړو،

فَاذْكُرُوْٓا اٰلَاۗءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۰۰۶۹
نو تاسو د الله نعمتونه یاد کړئ، د دې دپاره چې تاسو کامیاب شئ ـ

## دقصّه هود علیه السّلام

سُوْرَۃ الاعراف۷،آیت: ۷۰تا۷۲

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ
قام عاد اوئیل: اٰیا تۀ د دې دپاره مونږ ته راغلے یې چې مونږ د یو الله عبادت وکړو او هغه معبودان پرېږدو

مَا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَاۗؤُنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا

چي زمونږ پلارونو يې عبادت کولو، نو هغه (عذاب) راوله چې تهٔ مونږ پهٔ هغهٔ سره وېروې.

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ٠٠٧٠ قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّ غَضَبٌ ؕ ١

که چرې تهٔ د رښتينو نه يې هود عليه السلام اوئيل: يقيناً پهٔ تاسو باندې ثابت شو دخپل رب د جانبه عذاب او غضب

اَتُجَادِلُوْنَنِيْ فِيْٓ اَسْمَآءٍ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَ اٰبَآؤُكُمْ

،ايا تاسو زما سره ـ پهٔ هغو نومونو کښې جګړه کوئ چې هغه تاسو پخپله او ستاسو پلارانو پهٔ دروغه جوړ کړي دي،

مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ ١ فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ٠٠٧١

الله د هغو پهٔ باره کښې هيڅ دليل نهٔ دے نازل کړے نو تاسو انتظار کوئ، بېشکه زهٔ تاسو سره د انتظار کوونکو کښې يم.

فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا

نو مونږ هغه (هود عليه السلام) ته نجات ورکړو او هغو کسانو ته چې د دهٔ سره يې ايمان راوړے وُ ، پهٔ خپل رحمت سره نجات ورکړو

وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَمَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ٠٠٧٢

او جرړه (بيخ) مو غوڅه کړه د هغو کسانو چا چې زمونږ اياتونه دروغ ګڼړلي وو او هغوي د سره مؤمنان نهٔ وو.

## آيا تاسو پوهېږئ

شداد بن اوس دَ قام عاد بادشاه وُ. هغه دَ جنت ذکر واورېدلو، پهٔ خپله ئې دَ جنت دَ جوړولو فېصله وکړله. لېکن چې کله د دې تعمير مکمّل شو، نو د دې لېدلو نه مخکښې الله دا او د دې ټول فوځ هلاک کړلو او د دې خلقو شاندار محلات يې هم هلاک شول.

## قصّه دحضرت هود عليه السّلام

سُوْرَةَ هود ۱۱، آيت: ۵۰ تا ۵۵

وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ؕ ١ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او (مونږ لېږلے وُ) قام عاد ته د هغوي د وروولي، کس هود عليه السلام، هود عليه السلام، اوئيل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ ١ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ٠٠٥٠ يٰقَوْمِ لَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ ١

ستاسو دپاره د هغهٔ نه غير هيڅ حق معبود نشته، نهٔ يې وئ تاسو مګر دروغ تړونکي. اے زما قامه! زهٔ د تاسو نه پهٔ دې (تبليغ) باندې څهٔ مزدوري نهٔ غوارم،

اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى الَّذِيْ فَطَرَنِيْ ؕ ١ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ٠٠٥١ وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ

زما اجر نهٔ دے مګر پهٔ هغهٔ ذات چې زهٔ يې پيدا کړے يم، اٰيا نو تاسو د عقل نه کار نهٔ اخلئ. او اے زما قامه! د خپل رب نه مغفرت اوغواړئ،

ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ

بيا هغهٔ ته توبه اوباسئ، هغه به پهٔ تاسو باندې باران راوروي، چې پهٔ شيبو شيبو به وربدونکے وي او ستاسو پهٔ قوت کښې به زياتوالے وکړي

وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ٠٠٥٢ قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ

او تاسو (د ايمان او توبې نه) مخ مهٔ ګرځوئ، پهٔ دې حال کښې چې مجرمان ئې وئ. هغوی اوئيل: اے هوده! تا مونږ ته څه واضح دليل نهٔ دے راوړے

وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ٠٠٥٣

اوستا د وينا د وجې مونږ هيڅ کله هم خپل خدايان پرېښودونکي نهٔ يو او هيڅ کله هم مونږ پهٔ تا ايمان راوړونکي نهٔ يو.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اِنْ | نَّقُوْلُ | اِلَّا | اعْتَرٰىكَ | بَعْضُ | اٰلِهَتِنَا | بِسُوْٓءٍ ؕ | قَالَ |

(ستا پهٔ باره کښې) مونږ يواځې هم دا وايو چې تا ته زمونږ ځينې خدايانو دماغي نقصان در رسولے دے، هود عليه السلام اوئيل:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اِنِّيْٓ | اُشْهِدُ | اللّٰهَ | وَاشْهَدُوْٓا | اَنِّيْ | بَرِيْٓءٌ | مِّمَّا | تُشْرِكُوْنَ ۙ ٠٠٥٤ |

بېشکه زهٔ الله ګواه کوم او تاسو (هم) ګواه شئ چې يقيناً زهٔ د هغو (خدايانو) نه بېزاره يم چې تاسو يې شريکان کوئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مِنْ | دُوْنِهٖ | فَكِيْدُوْنِيْ | جَمِيْعًا | ثُمَّ | لَا | تُنْظِرُوْنِ ٠٠٥٥ |

غېر د هغه (الله) نه، نو تاسو ټول ما ته تدبيرونه جوړ کړئ، بيا ما ته مهلت مهٔ راکوئ.

## اَهمي نکتي

# قصّه دحضرت نوح علیه السلام

سُوْرَةَ هود ۱۱، آیت: ۵۲ تا ۶۰

اِنِّيْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ ؕ مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَا ؕ

بېشکه ما پۀ الله باندې توکل کړے دے چې زما رب دے او ستاسو رب دے، د هر ژونده سري د تندي وېښتۀ د هغۀ پۀ قبضه کښې دي،

اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۰۰۵۶ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ؕ

بېشکه زما رب پۀ نېغه لاره میلاوېږي. نو که تاسو مخ واړوئ، نو یقیناً ما تاسو ته هغه (پیغام) در ورسولو چې زۀ پۀ هغۀ سره تاسو ته رالیږلے شوے یم،

وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّيْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ رَبِّيْ

او زما رب به راولي ستاسو نه غیر بل خلیفه او تاسو به هغه (الله) ته هیڅ ضرر و نۀ رسولے شئ، بېشکه زما رب

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ۰۰۵۷ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

پۀ هر شي باندې بنۀ نګران او ساتونکے دے. او کله چې زمونږ حکم (عذاب) راغے (نو) مونږ هود ﷺ ته خلاصے ورکړو او هغو کسانو ته چې د هغۀ سره یې ایمان راوړے ؤو

بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۰۰۵۸ وَتِلْكَ عَادٌ ۠ جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ

د خپل طرف نه پۀ رحمت سره نجات ورکړو او مونږه دوی د ډېر سخت عذاب نه خلاص کړل. او دا قام عاد خلق دي چې د خپل رب د ایاتونو نه یې انکار وکړو

وَعَصَوْا رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ۰۰۵۹ وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً

او د هغه (الله) د رسولانو نافرماني یې کړې وه او د هر سرکشه عنادي د حکم پسې شوے. او پۀ دوی پسې پۀ دې دنیا کښې لعنت ولګولے شو

وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ

او د قیامت پۀ ورځ به هم ولګولے شي، خبردار شئ! بېشکه عادیان پۀ خپل رب سره کافران شوي دي،

اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ۰۰۶۰

خبردار شئ چې (د الله د رحمت نه) لرې والے دے، عادیانو ته چې د هود ﷺ قام

**عملي خبره**: مونږ لره دَ استغفار او توبې پۀ ډېر اهتمام کول پکار دي. پۀ دې دنیا کښې به هم پۀ رزق کښې خېر و برکت او خوشحالي راځي چې د دې دَ ټولو نه لویه فائده داده چې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى د دې بنده نه راضي کېږي.

## اَهمې نکتې

## قصّه حضرت هود علیه السلام

سُوْرَةَ الشعراء ۲۲، آیت: ۱۲۳ تا ۱۳۱

كَذَّبَتْ عَادُ ٱلْمُرْسَلِيْنَ ۚ ۝۱۲۳ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۚ ۝۱۲۴

د عاد قام رسولان دروغژن کړل . کله چې دوی ته د دوی وروری کس (هود علیه السلام) اوئیل: اٰیا تاسو د نارفرمانئ نه نهٔ وېرېږئ؟

اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۙ ۝۱۲۵ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۚ ۝۱۲۶

بېشکه زهٔ تاسو ته امانتګر رسول یم . نو تاسو د الله د نافرمانئ نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ .

وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰي رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۲۷

او زهٔ د تاسو نه پهٔ دې (تبلیغ) باندې هېڅ اجر (عوض) نهٔ غواړم، زما اجر نهٔ دے مګر د ټولو جهانونو رب پهٔ ذمه باندې .

اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ رِيْعٍ اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ۝۱۲۸ وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ۚ ۝۱۲۹

اٰیا تاسو پهٔ هر اوچت ځائے یو نښه (لوړ کورونه) جوړوئ، پهٔ داسې حال کښې چې عبثیات کوئ او تاسو لوئي لوئي عمارتونه جوړوئ، بناېي چې تاسو به پهٔ دنیا کښې (تل) اوسېږئ .

وَاِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ۚ ۝۱۳۰ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۚ ۝۱۳۱

(نو) نیول کوئ، پهٔ داسې حال کښې چې ظلم کونکي ئې وئ . نو تاسو د الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ .

### اَهمې نکتې

## قصّه حضرت هود علیه السلام

سُوْرَةَ الشعراء ۲۲، آیت: ۱۳۲ تا ۱۴۰

وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ۚ ۝۱۳۲ اَمَدَّكُمْ

او هود علیه السلام اوئیل تاسو د هغه ذات نه وېرېږئ چې ستاسو مدد یې کړے دے پهٔ هغه څهٔ سره چې تاسو پرې پوهه ئې وئ . هغه ستاسو مدد کړے دے

بِاَنْعَامٍ وَّبَنِيْنَ ۙ ۝۱۳۳ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۚ ۝۱۳۴ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝۱۳۵

په ښارويو او زامنو سره. او باغونو او چينو سره. بېشکه زه وېره کوم په تاسو باندې د ډېرې لويې ورځې د عذاب نه.

قَالُوْا سَوَآءٌ عَلَيْنَا اَوَ عَظْتَ اَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِيْنَ ٠٠١٣٦

قام د عاد اوئيل: مونږ ته يو شان ده، آيا که ته نصيحت (وعظ) کوې، يا ته نه کېږې د وعظ کونکو نه.

اِنْ هٰذَآ اِلَّا خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ ٠٠١٣٧ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ٠٠١٣٨

نه دے دا ستا (وعظ کول) مگر عادت د پخوانو خلقو. او مونږ د سره په عذاب راکړے شوي کښې مبتلا کېدونکي نه يو.

فَكَذَّبُوْهُ فَاَهْلَكْنٰهُمْ ١ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ١

نو دوی هغه دروغژن وګڼړلو، نو مونږه دوی هلاك کړل، بېشکه په دې کښې خامخا لويه نښه ده

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ٠٠١٣٩ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ٠٠١٤٠

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ دَ حق په لاره تلونکو باندې مختلف الزامات لګولے شي ليکن هغوي په غتې حوصلې او همّت سره دَ حق خبره خلقو ته رسوي. (سُوْرَةَ الاعراف،آيت : ۲۲تا۲۸ )

۲ ـ دَ انبياءکِرام عَلَيْهِم السّلام تابعداري کولو په وخت مونږ لره هم په مشکل وخت کښې دَ دعوت حق په خاطر دَ ثابت قدمۍ مظاهره کول پکار دي. (سُوْرَةَ الاعراف،آيت: ۲۲ ،سُوْرَةَ هود ،آيات: ۵۳،۵۴ )

۳ ـ انبياءکرام عَلَيْهِم السّلام قامونو طرف ته د دې د پاره لېږلے شوي وو چې هغوي خلق دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عذاب نه ويروي. (سُوْرَةَ الاعراف،آيت: ۲۵ سوره الشعراء،آيت: ۱۲۲)

۴ ـ دَالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ په نعمتونو باندې شکر ادا کول، د دې صحيح استعمال کول او په فضول کارونو کښې نه ضائع کول په دنيا او آخرت کښې دَ کاميابۍ ذريعه ده ـ (سُوْرَةَ الاعراف،آيت : ۲۹، سُوْرَةَ الشعراء،آيات: ۱۳۲تا۱۳۴ )

۵ ـ مونږ لره پخپله دننه خپل ځان کښې اخلاص کېښودل پکار دي او دَ حق دين اشاعت او په دعوت باندې دَ اجر امېد صرف دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ نه لرل پکار دي. (سُوْرَةَ هود آيت: ۵۱ سُوْرَةَ الشعراء،آيت: ۱۲۷ )

۶ ـ په ګناهونو باندې په معافي غوښتلو باندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ معافي هم کوي او په دنيا کښې نور زيات نعمتونه هم ورکوي. (سُوْرَةَ هود ،آيت: ۵۲)

۷ ـ مونږ لره دَ دين دَ مخالفت کونکو دَ چلونو نه وېرېدل نه دي پکار، بلکه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ په مدد باندې کامله بهروسه لرل او دَ دين په لاره باندې روانېدل پکار دي. (سُوْرَةَ هود ،آيت: ۵۵تا ۵۶ )

۸ ـ امانت داري دَ رسولانو دَ اوچت صفاتو نه يو دے ـ مونږ لره په هره معامله کښې دغه اختيارول پکار دي ـ (سُوْرَةَ الشعراءآيت: ۱۲۵ )

۹ ـ دَ دنيا هر څيز فاني دے ـ آخرت پاتې کېدونکے دے ـ مونږ لره آخرت ښائسته کول پکار دے ـ (سُوْرَةَ الشعراء،آيت: ۱۲۹، ۱۲۸ )

۱۰ـ دَ هود عَلَيْهِ السّلام دَ دروغژن کولو دَ وجې نه ټول قام هلاک شو ـ د دې دَ انجام نه دا سبق حاصلول چې دَ نبي کريم ﷺ اطاعت او اتباع کولو والا دَ هلاکت نه ځان بچ کولے شي ـ (سُوْرَةَ الشعراء،آيت: ۱۳۹)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل يې کړئ

### ۱. خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱) هود عَلَيْهِ السّلام د -------------------- دَ زوے -------------- نسل نه ؤ.

(۲) دَ قام عاد سردارانو هود عَلَيْهِ السلام ته اوئېل چې ستا سره--------دي مونږ تاسو------ نۀ منو.

(۳) پۀ قام عاد باندې-------------- پۀ صورت کښې-------------- راغلے.

(۴) دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عذاب تېزه هوا----------ورځو او----------- شپو پورې مسلسل چلېدله.

(۵) تيزې هوا ---------- لره اوچت کړلو داسې وغورځول لکه-----------------وي.

### ۲. دَ لاندې ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ

۱ ـ دَ حضرت هود عَلَيْهِ السّلام پۀ باره کښې يو درې خبرې وليکئ.

---

---

۲ ـ قام عاد لره پۀ بل کوم نوم سره بللے شي؟

---

---

۳ ـ حضرت هود عَلَيْهِ السّلام خپل قام ته څۀ دعوت وکړو او دَ کومې خبرې نه يې منعه کول؟

---

---

۴ ـ دَ قام سردارانو دَ هود عَلَيْهِ السّلام دَ دعوت څۀ جواب ورکړو؟

---

---

۵ ـ دَ عذاب نه بچ شوي مؤمنان چرته آباد شو؟

---

---

## ۳.دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملې سره کرښه ولګوئ:

**کالم (الف)**

- هود عَلَيْهِ السَّلَام لره
- قام عاد
- الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ ټول ایمان والا لره
- دَ قام عاد جرم
- دَ قام عاد علاقه

**کالم (ب)**

- دَ نوح ﷺ دَ قام نه وروسته راغلے دے.
- شرک او دَ نبی نه دروغژن ګرځول
- احقاف وه.
- قام عاد طرف ته لیږلے شوے ؤ.
- دَ عذاب نه بچ کړل.

۴.دَ لاندې لیکلے شوو جملو پهٔ باره کښې اوښائې چې دا دَ چا وینا دے:

| شمېره | جملې | دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ | دَ هود ﷺ | دَ قام |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | زهٔ تاسو ته دَ خپل رب پېغامات رسوم. | | | |
| ۲ | زمونږ نه غټ قوّت او طاقت والا څوک دے؟ | | | |
| ۳ | او مونږ دوي ته دَ سخت عذاب نه نجات ورکړو. | | | |
| ۴ | دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ (نافرمانی) نه ویرېږئ او زما اطاعت وکړئ | | | |
| ۵ | تا لره زمونږ پهٔ معبودانو کښې چا پهٔ دماغي خرابۍ کښې مبتلا کړے یې. | | | |

راځئ!!! مونږ خپله جائزه واخلو:

| شمېره | اعمال | آوجي | کافي حده پورې | دَ کوم حده پورې | اراده ده |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آیا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ دَ نعمتونو دَ شکر ادا کولو کوشش کوو؟ | | | | |
| ۲ | آیا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ پۀ نعمتونو باندې دَ لوئي نه بچ یې وو؟ | | | | |
| ۳ | آیا مونږ نېک اعمال دَ دې د پاره کوو چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ راضي شي؟ | | | | |
| ۴ | آیا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ دَ خفګان والا دَ کارونو نه بچ کېږو؟ | | | | |
| ۵ | آیا مونږ پۀ نیک کارونو کښې دَ نورو سره شریک کېږو؟ | | | | |
| ۶ | آیا مونږ دَ دروغو نه بچ یو؟ | | | | |
| ۷ | آیا مونږ دَ صبر سره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ مدد انتظار کوو؟ | | | | |
| ۸ | آیا مونږ دَ خپل ځان سره نورو لره یقین ورکولے شو چې ځا ته هم الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ ورکړلے شوي قدرت او اختیار نه بغېرمونږ ته نفع او نقصان نۀ شي رارسولے- | | | | |
| ۹ | آیا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نعمتونه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ مرضۍ مطابق استعمالوو؟ | | | | |
| ۱۰ | آیا مونږ دَ خلقو د پاره دَ ښائسته مثال جوړېدلو کوشش کوو؟ | | | | |

**معلوم کړئ:** دَ عاد وئیلو وجه، دَ هود عَلَیْهِ السّلام دَ وروروليٰ دَ یو کس وئیلو وجه، لعنت، پۀ وعظ او نصیحت کښې دَ فرق وضاحت دَ خپلو عزتمندو استاذانو نه معلوم کړئ.

۲. دَ هود عَلَیْهِ السّلام دَ قصې سره متعلق لاندې لیکلے شوې الفاظ په لاندې خانو کښې ولیکئ:

دَ حضرت سام نسل، پنځه ورځې او اووه شپې، احقاف، دَ استغفار حکم، اوګد او غټ جسم ، دَ اولاد ډیروالے، دَ وربخ په لیدلو ژړل، قام ارم، دَ بوتانو عبادت، دَ وړوکې قد والا خلق، دَ قام تېوقې کول، په عراق کښې آبادېدل.

احقاف



سوچ وکړئ!!! هودعلیه السلام دَ خپل قام په نافرمانیانو باندې دَ استغفار کولو تلقین وکړلو او د دې فائدې یې ذکر کړلې۔ که چرته ستاسو نه څه غلطي اوشي، نو په دې صورت کښې به تاسو څه کوئ؟

## کورنی هلې ځلې

- هودعلیه السلام قام ته دعوت ورکړلو چې"دَ یو الله تعالیٰ عبادت وکړئ، دَ هغه دَ نافرمانۍ نه بچ شئ او زما اطاعت وکړئ، دا الفاظ په یو چارټ باندې په خوشخطۍ سره ولیکئ او رنګ یې کړئ -
- دَ تیزې سیلۍ خاکه جوړه کړئ یا دَ قام عاد دَ کنډراتو څو تصویرونه ولټوئ او په چاټ یې ولګوئ۔
- زمونږ دَ خوږ نبي صلی الله علیه وسلم دَ امانتدارۍ څه قصّه دَ خپل کور والو نه معلوم کړئ۔

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# قصّه حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام

## دَ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام او دَ قام ثمود تعارف (پېژندګلو)

دَ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام تعلق دَ حضرت نوح عَلَيْهِ السّلام دَ نسل سره ؤ۔ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام دَ عربو دَ مشهور قبيله ثمود نه ؤ۔ دَ قام ثمود شروع دَ قام عاد دَ هغه خلقو نه وشوه چې پۀ هود عَلَيْهِ السّلام باندې ايمان راوړے ؤ او چې کوم الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ تيزې سيلۍ دَ عذاب نه بچ کړي وو۔ قام ثمود ته "عادِ ثاني" هم وائي۔ دا قبيله دَ حجاز او شام پۀ يو مېنځنۍ علاقه "الحجر" کښې آباده شوي وو، د دې وجې نه دې ته "اصحاب الحجر" هم وايي۔ دا ځائے نن هم دَ "الحجر" پۀ نوم باندې موجود دے۔ دې ته "مدائنِ صالح" هم وئيلے شي۔ الله تعالیٰ دې قام ته ډېر صلاحيتونه ورکړي وو، دوي به غرونه تراشل او شاندار محلات به يې جوړول۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دوي ته ښاروي، زامن، باغونه او دَ چينو پشانته بهترين نعمتونه ورکړي وو۔

## دَ قام ناشکري او شرک

قام ثمود دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ د دې عظيم نعمتونو باندې دَ شکر ادا کولو او دَ عبادت کولو پۀ ځائے کفر، شرک او سرکشي اختيار کړله۔ دوي پۀ خپل طاقت او دَ نعمتونو پۀ ډيروالي باندې سرکشي او تکبر وکړلو۔

## دعوت توحيد

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالی قام ثمود ته دَ نېغې لارې ښودلو د پاره حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام رسول راولېږلو۔ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام خلق دَ يو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ طرف ته دَ عبادت کولو دعوت ورکړلو او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پۀ ورکړے شوو نعمتونو باندې دَالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ شکر ادا کولو نصيحت وکړلو۔ صالح عَلَيْهِ السّلام دوي دَ شرک کولو او دَ بتانو دَ عبادت او عبادت کولو نه منع کول۔

## دَ قام ردِّ عمل

قام ثمود دَ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام مخالفت وکړو او دَ دعوتِ توحید منلو نه یې انکار وکړلو ـ دې خلقو پهٔ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام باندې مختلف اعتراضونه کول شروع کړل ـ د دې قام کافرانو سردارانو خپل قام گمراه کړلو او غریبان مؤمنان یې دَ سیدها لارې نه دَ خطا کولو ډېر کوشش وکړلو ـ

## دَ قام مطالبه

قام ثمود دَ صالح عَلَيْهِ السّلام نه یو داسې مطالبه اوکړه چې دَ هغې پوره کول ناممکن پهٔ نظر راتلل ـ دوي صالح عَلَيْهِ السّلام ته اوئیل که چرته تهٔ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رِښتونے رسول یې، نو څهٔ نښانه راوړه ـ دَ دوي دا مطالبه وه چې دَ سترگو مخامخ دَ غر نه څهٔ یو ژوندۍ اوښه راوباسه چې بچے پېدا کړي، نو بیا به صالح عَلَيْهِ السّلام دَالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رسول اومني ـ

## دَ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام معجزه

حضرت صالح علیه السلام دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نه دعا وغوښتله، نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ هغهٔ ته دغه معجزه ورکړه، دغهٔ رنگې الله سبحانه و تعالی د هغه خلقو دا مطالبه پوره کړے شوې اوښودله او دَ غر نه یوه ژوندۍ اوښه راووتله چې پهٔ قرآنِ حکیم کښې ورته "د الله اوښه (ناقة الله)" وائي ـ دا اوښه د دوي د پاره دَ یو ازمائش پهٔ بناء رالېږلے شوې وه چې پهٔ دومره لویه معجزه لیدلو باندې ایمان راوړي او که نه ـ مگر د دې معجزې دَ لیدلو نه وروسته هم دَ قام یو څو خلقو پهٔ صالح باندې ایمان راوړلو ـ

## قام ته نصیحت

حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام قام لره ویرولو ورته وې فرمائيل چې دا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ اوښه ده ـ تاسو خلق دې ته نقصان مهٔ رسوئ ـ که تاسو دې ته نقصان ورسوئ، نو پهٔ تاسو به دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب نازل شي ـ دَ قام ثمود د پاره دَ اوبو ځائے یو کوهے ؤ چې د دغهٔ ځائے خلقو او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ اوښې به ترې اوبهٔ څښکلې ـ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام دَ قام او دَ اوښې پهٔ مابین کښې یوه ورځ مقرر کړله ـ حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام اوفرمائيل چې یوه ورځ دَ قام او دَ دوي دَ څاروو څښکلو د پاره او یوه ورځ دَ الله دَ اوښې د پاره د دوي نه اوبهٔ څښکې ـ

## دَ اوښې سره دَ قام سلوک

دَ قام خلقو د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ اوښه دَ يو څو ورځو د پاره برداشت کړله ليکن بيا دې کافرانو پۀ خپل مېنځ کښې مشوره وکړه چې دا اوښه مړه کړے شي. بيا دَ دوي نه يو غلط انسان د دې اوښې ښپې کټ کړلې، اوښه پۀ چغو شوه او پۀ زمکه پرېوتله او مړه شوه.

## پۀ کافرانو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب

حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام قام ته اوفرمائيل چې ستاسو د پاره درې ورځې مهلت دے، تاسو نورې هم مزې اوکړئ، بيا به دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب تاسو راګير کړي. درې ورځې وروسته دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب يو تيز آواز او دَ زلزلې پۀ صورت کښې راغلو چې ټول کافر يې هلاک کړل. پۀ خپل طاقت او سرکشئ او غرور کولو والا دا خلق پۀ خپل کورونو کښې انتهائي دَ بې وسئ پۀ حالت کښې مړۀ پراتۀ وو.

## دَ قام ثمود دَ اوچتو محلاتو حال

دَ قام ثمود ښائسته کورونه او اوچت محلات چې پۀ کومو باندې دوي ناز او نخرې کولې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پۀ عذاب سره کنډرات او ويران شول، ګويا چې پۀ دې کښې څوک نۀ وو اوسېدلي. دَ قام ثمود دَ عمارتونو کنډرات دَ "الحجر" پۀ علاقه کښې پۀ زرګونو ايکړه رقبه باندې نن هم موجود دي چې دَ خلقو د پاره دَ عبرت نشان دے. دَ غزوه تبوک پۀ موقع باندې چې کله دَ نبیﷺ تيرېدل دَ"الحجر" پۀ مقام باندې وشو، نو نبیﷺ صحابه کرامو ته اوفرمائيل چې دا هغه کلے علاقه ده چې پۀ کوم باندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب نازل کړے ؤ، مۀ دلته ايساريدونکي شئ او مۀ د دې دَ څيزونو نه فائده واخلئ او مخې ته ځئ پۀ بل ځائے کښې ايسار شئ،هسې نۀ چې تاسو پۀ څۀ مصيبت کښې مبتلا شئ. (مسند احمد)

## پۀ ايمان والو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رحمت

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پۀ خپل خاص رحمت او فضل سره حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام او دَ هغۀ سره ټول ايمان والا د دې عذاب نه بچ کړل. حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام پۀ خپل هلاک شوي قام باندې افسوس کولو وې فرمائيل چې" يقينًا ما تاسو ته دَ خپل رب پيغام ورسولو او ما ستاسو خېرخواهي کوله ليکن تاسو خېرخواهان نۀ خوښوئ.

### آيا تاسو پوهېږئ؟

قام ثمود ته ورکړے شوې دَ الله اوښه، عامه اوښه نۀ وه بلکې دومره دَ غټ جسم والا وه چې کله به پۀ زنګل کښې ګرځېدله، نو نور ځناور به ترې ويرېدل او تښتېدل به. هغې به پۀ خپل نمبر کښې چې کله دَ کوهي اوبۀ څښکلې، نو خالي کولو به يې. ګويا د دې پۀ بدله طريقه سره دَ پېدائش پۀ شانته خوراک څښکاک هم بدل وو.

## د دې قیصې نه حاصل شوے سبق

دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ نافرماني کونکي، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ رسول حضرت صالح عَلَیْهِ السّلَام نه دروغژن ګرځول او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ ورکړلے شوو نعمتونو قدر نۀ کولو والا، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ غضب او عذاب مستحق کیږي۔ مونږ لره پکار دي چې دَ داسې خلقو دَ غلط انجام نه سبق حاصلول پکار دي۔

## مدائن حضرت صالح عَلَیْهِ السّلَام



## قصّه حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام

سُوْرَةَ الاعراف۷،آيت:۷۳تا ۷۴

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زۀ د الله پۀ فناه کښې راځم دشيطان رټلي شوي نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
خاص د الله د نوم نه شروع کوم چې لوي مهربان او ډير رحم والا دے

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا١ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او ثموديانو ته مو (ليږلے ؤو) دَ هغوی د ورورولۍ کس صالح ﷺ ، هغۀ اوئيل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ،

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ١ قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ١

تاسو دپاره د هغۀ نه سيوا (بل) هيڅ حق معبود نشته، يقينًا تاسو ته د خپل رب د جانبه ښکاره دليل راغلي ده

هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ

دا د الله اوښه ده ستاسو لپاره، چې نښه ده، نو تاسو دا پريږدئ چې د الله پۀ زمکه کښې وخريږي

وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ۰۰۷۳ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ

او دې ته پۀ غلطه طريقه لاس مۀ وروړئ (کنې) نو تاسو لره به ډير دردونکے عذاب ونيسي۔ او تاسو هغه وخت ياد کړئ چې هغه (الله) تاسو خليفه ګان (ځائے ناستي، نائبان) جوړ کړئ

مِنْۢ بَعْدِ عَادٍ وَّبَوَّاَكُمْ فِي الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا قُصُوْرًا

روسته د عاديانو نه او تاسو ته يې پۀ زمکه کښې ځائے درکړو، چې تاسو د دې (زمکې) پۀ نرمو هوارو ځايونو کښې ماڼۍ جوړوئ

وَّتَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ بُيُوْتًا١ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ۰۰۷۴

او تاسو غرونه د کورونو جوړولو دپاره توږئ (کنئ) نو تاسو د الله نعمتونه ياد کړئ او پۀ زمکه کښې وراني کونکي مۀ ګرځئ، چې فساديان شئ۔

## قصّه حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام

سُوْرَةَ الاعراف۷،آيت:۷۵تا۷۹

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِمَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ

اوئيل د هغۀ پۀ قام کښې تکبر کونکو مشرانو هغو کسانو ته چې کمزوري ګڼلے شو، هغه چا ته چې د دوی نه يې ايمان راوړے ؤو،

اَتَعْلَمُوْنَ اَنَّ صٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّنْ رَّبِّهٖ١ قَالُوْٓا

آيا تاسو پوهيږئ چې بيشکه صالح د خپل رب د جانبه رالېږل شوے (رسول) دے؟ ايمان والو اوئيل:

اِنَّا بِمَآ اُرْسِلَ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ۰۰۷۵ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا

بيشکه مونږ پۀ هغۀ څۀ ايمان لرونکي يو چې پۀ هغۀ سره هغه (صالح) رالېږل شوے دے۔ تکبر کوونکو کسانو اوئيل:

اِنَّا بِالَّذِيْٓ اٰمَنْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ۰۰۷۶ فَعَقَرُوا النَّاقَةَ

بيشکه مونږ پۀ هغۀ څه چې تاسو پرې ايمان راوړے دے انکارکونکي يو۔ نو هغوی د اوښې ښپې پرې کړلې

وَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوْا يٰصٰلِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ

او د خپل رب د حکم نه يې سرکشي وکړه او وې وئيل: اے صالحه! پهٔ مونږ راوړه هغه (عذاب) چې تهٔ مونږ پهٔ هغهٔ سره وېروې،

اِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ٠٠٧٧ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ٠٠٧٨

که چرې تهٔ د رسولانو نه يې. نو دوی سختې زلزلې ونيول، نو شول دوی پهٔ خپلو کورونو کښې شو پړمخې مړهٔ پراتهٔ.

فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّيْ

صالح عليه السلام هغه خلقو طرف ته مخ کړو، وئيل اے زما قامه! يقيناً ما تاسو ته د خپل رب پېغام در ورسولو

وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ٠٠٧٩

او ستاسو خېرخواهي مې وکړه او لېکن تاسو نصيحت (خېرخواهي) کونکي نهٔ خوښوئ.

## اَهمې نکتې

# قصّه حضرت صالح عَلَيْهِ السّلام

## سُوْرَةَ هود ۱۱، آیت: ۶۱تا۶۳

وَاِلٰی ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا۱ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او (مونږ لیږلې ؤ) ثمودیانو ته دهغوی د وروروليې یو کس صالح علیه السلام، صالح علیه السلام (دوی ته) اوئیل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ،

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ۱ هُوَ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا

ستاسو دپاره د الله نه غیر (بل) هیڅوک معبود نشته، هم هغهٔ تاسو د زمکې نه پیدا کړئ او پهٔ دې کښې یې تاسو اوسولي ئي وئ،

فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْۤا اِلَيْهِ ؕ۱ اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ ۰۰۶۱

، نو تاسو د دهٔ نه مغفرت اوغواړئ، بیا تاسو د هغهٔ دربار کښې توبه اوباسئ بېشکه زما رب ډېر نزدې دے، د دعا قبلونکے دے۔

قَالُوْا يٰصٰلِحُ قَدْ كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَاۤ اَتَنْهٰىنَاۤ اَنْ نَّعْبُدَ

قام ثمود اوئیل: اے صالحه، تهٔ پهٔ مونږ کښې مخکښې د دې (دعوې د نبوت) نه امید کړے شوے وې، آیا تهٔ مونږ د هغو (بتانو) د عبادت نه منع کوې

مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا وَاِنَّنَا لَفِيْ شَكٍّ

چې زمونږ نیکونو به یې عبادت کولو او بېشکه مونږ د هغه (توحید) پهٔ باره کښې پهٔ شک کښې یو

مِّمَّا تَدْعُوْنَاۤ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ۰۰۶۲ قَالَ يٰقَوْمِ

چې تهٔ مونږ هغهٔ ته بلې، یقینًا پهٔ بې ارامه اچونکي (پرېشانه کونکي) شك کښې یو ۔ صالح علیه السلام اوئیل: اے زما قامه!

اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً

تاسو ما ته خبر راکړئ! که زهٔ د خپل رب د طرفه پهٔ ښکاره دلیل باندې یم او هغه د خپله طرفه ما ته رحمت (نبوت) راکړے وي،

فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ ۫۱

نو د الله د عذاب نه به ما څوك خلاص کړي، که زهٔ د هغهٔ نافرماني وکړم،

فَمَا تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ۰۰۶۳

نو تاسو به ما ته دَ نقصان نه غیر (بل څه) زیات نهٔ کړئ۔

## اَهمې نکتې

# قصّه حضرت صالح عَلَيْهِ السّلَام

سُوْرَةَ هود ۱۱ ،آیت: ۶۴تا ۶۸

وَيٰقَوْمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ

اے زما قامه! دا د الله اوښه ده چې ستاسو دپاره يوه نښه ده، نو تاسو دا پرېږدئ چې د الله په زمکه کښې خوراك (څر) کوي

وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيْبٌ ۰۰۶۴ فَعَقَرُوْهَا

او دې له په غلطه اراده لاس مه وروړئ (کنې) نو ډېر نزدې عذاب به مو ونيسي۔ نو دوی د هغې ښپې پرې کړل (او مړه يې کړه)

فَقَالَ تَمَتَّعُوْا فِيْ دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ۭ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوْبٍ ۰۰۶۵

نو صالح عليه السلام ورته اوئيل: تلو په خپلو کورونو کښې درې ورځې فائده واخلئ (بيا به تلو عذاب ونيسي) دا داسې وعده ده چې هېڅ دروغ پکښې نشته۔

فَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا

پس هر کله چې راغلے عذاب زمونږ چې نو خلاصے موورکړو صالح عليه السّلام ته او هغه کسانو ته چې د هغهٔ سره يې ايمان راوړے ؤ په خپل رحمت سره

وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِىِٕذٍ ۭ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ۰۰۶۶

او د هغې ورځې (د قيامت) د رسوايۍ نه (هم خلاصے ورکړو) بېشکه ستا رب، هم هغه قوي، ډېر غالب دے۔

وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ۰۰۶۷

او هغه کسان چې ظلم يې کړے ؤ د چغې په صورت کښې عذاب ونيول نو سحر مهال په خپلو کورونو کښې پړمخې پراته شول۔

كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۭ اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَا۟ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۭ

ګويا کښې دوی په دې (کورونو) کښې د سره اوسېدلي نهٔ وو، خبردار شئ! بېشکه ثموديان په خپل رب سره کافران شوي وو،

اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ۰۰۶۸

ځان پرې پوهه کړئ! د ثموديانو دپاره (د رحمت نه) لرې والے دے۔

**عملي خبره:** کفر او شرک دَ ټولو خرابو جړ او دَ تباهۍ باعث دے۔ د دې وجې توحيد او رسالت باندې ايمان دَ هر خير بنياد او دَ نجات ذريعه ده۔

## اَهمې نکتې

## قصّه صالح عَلَيۡهِ السّلام

سُوۡرَۃ الشعراء۲۶،آیت: ۱۴۱تا ۱۵۰

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ۚ ۖ ۰۰۱۴۱اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۚ ۰۰۱۴۲

قوم ثمود رسولان دروغژن کړل ـ کله چې دوی ته د دوی د ورورولۍ یو کس صالح ﷺ اوئیل: اٰیا تاسو نۀ وېرېږئ ـ

اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۙ ۰۰۱۴۳ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۚ ۰۰۱۴۴

بېشکه زۀ تاسو د پاره امانتګر رسول یم ـ نو تاسو د الله د نافرمانۍ نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ

وَمَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ ۰۰۱۴۵

او زۀ ستاسو نه پۀ دې (تبلیغ) باندې هېڅ بدله نۀ غواړم، زما بدله نۀ ده مګر د ټولو جهانونو د رب پۀ ذمه باندې

اَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَاۤ اٰمِنِيْنَ ۙ ۰۰۱۴۶فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۙ ۰۰۱۴۷وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ

اٰیا تاسو بهٔ بې فکره پرېښودل شئ پۀ هغو څیزونو کښې چې دلته دي، پۀ امن (او بې غمۍ) سره ـ پۀ باغونو او چینو کښې ـ او پۀ فصلونو او داسې کجورو کښې


طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ۚ ۰۰۱۴۸ وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ۚ ۰۰۱۴۹ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۚ ۰۰۱۵۰

چې د هغو وږي (غونچکونه) ډېر نرم پاسته وي ـ او تاسو پۀ غرونو کښې کورونه توږئ (کنئ) نو تاسو د الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ

نقشه

دَ حضرت صالح عَلَيۡهِ السّلام او دَ قام ثمود مقام

دا د حجاز او دَ شام پۀ مېنځمې علاقه مدائنِ کښې حضرت صالح عَلَيۡهِ السّلام آباد ؤ ـ



## قصّه حضرت صالح عَلَیْهِ السّلام

سُوْرَۃ الشعراء ۲۶، آیت: ۱۵۱تا۱۵۹

وَلَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ ۰۰۱۵۱ الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ۰۰۱۵۲

صالح علیه السلام نور هم اوئیل او تاسو د اسراف کونکو (له حد نه تېرېدونکو کافرانو) حکم مهٔ منئ۔ هغه چې پهٔ زمکه کښې کوي فساد او اصلاح نهٔ کوي۔

قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ۰۰۱۵۳ مَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۚ فَاْتِ بِاٰيَةٍ

قام ثمود اوئیل: بېشکه همدا خبره ده چې تهٔ دجادو کړے شوو کسانو یې۔ تهٔ نهٔ یې مګر زمونږ پهٔ مثل بشر، نو تهٔ کومه معجزه راوړه!

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۰۰۱۵۴ قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ

نو تهٔ کومه معجزه راوړه! کهٔ تهٔ د رښتینو نه یې۔ او صالح علیه السلام اوئیل: دا اوښه ده (چې معجزه ده) د دې دپاره د اوبو وار دے

وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ۚ ۰۰۱۵۵ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْۗءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۰۰۱۵۶

او تاسو دپاره د مقررې ورځې د اوبو د څښکلو او پهٔ خرابه اراده ورته لاس مهٔ وروړئ (ګني) نو تاسو به د ډېرې لوېې ورځې عذاب ونیسي۔

فَعَقَرُوْهَا فَاَصْبَحُوْا نٰدِمِيْنَ ۰۰۱۵۷ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ

نو دوی د هغې پړکي پرې کړل، بیا دوی پښېمانه شول۔ نو دوی عذاب ونیول، بېشکه پهٔ دې کښې خامخا لویه نښه ده

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۰۰۱۵۸ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۰۰۱۵۹

اونهٔ دي زیات ددینه مؤمنان، بېشکه ستا رب خامخا هم هغه ډېر غالب، بې حده رحم کونکے دے۔

فرمانِ نبوی صلی الله علیه وسلم: "دَ یو انسان دَ بدوالي د پاره دا خبره کافي ده چې دا خپل مسلمان ورور سپک (ذلیل) وګڼي۔ (صحیح مسلم)

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ انبياءکرام عَلَيْهِم السّلام دَ پاک سيرت او کردار په اعتبار باندې دَ ماشوموالي نه په خپل قام کښې جدا مقام لرلو ـ (سُوْرَة هود ،آيت: ۲۲)

۲ ـ دَ رسولانو او دَ هغوي دَ معجزاتو نه انکار کولو والا ته همېشه عذاب ورکړے شوے دے ـ (سُوْرَة الاعراف،آيت:۷۳ ،سُوْرَة هود ،آيت: ۲۵تا۲۷)

۳ ـ مونږه دَ غلطو خلقو په خبرو باندې دَ حق پرېښودل نۀ دي پکار ـ (سُوْرَة الاعراف،آيت: ۷۵)

۴ ـ معجزه يو غېر معمولي او خلافِ عادت کار دے چې دَ يو نبي او رسول عَلَيْهِ السّلام دَ نبوّت او رسالت دَ دعوې دَ دليل او تصديق د پاره صادر او ظاهرولے شي چې کله دا وليدلے شي، نو منکرين عاجزه شي ـ معجزه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه انبياءِکرام عَلَيْهِم السّلام ته ورکړلے شي ـ (سُوْرَة الاعراف ،آيت: ۷۳ ،سُوْرَة هود ،آيت: ۶۴)

۵ ـ دَ انبياء کِرام عَلَيْهِم السّلام دَ تابعدارۍ سره سره مونږ لره هم خلقو لره په نېکۍ او دَ همدردۍ په جذبه سره نېکۍ طرف ته دَ رابللو هر ممکن کوشش کول پکار دي ـ (سُوْرَة الاعراف،آيت: ۷۹، سُوْرَة هود ،آيت: ۶۲)

۶ ـ عمومًا په حق قبلولو والو کښې دَ ټولو نه اوله طبقه غريبانان او کمزوري وي ـ (سُوْرَة الاعراف، آيت: ۷۵)

۷ ـ دَ انبياءکرام عَلَيْهِم السّلام په تابعدارۍ سره مونږ لره هم خلقو لره دَ غلطو کارونو نه منع کول پکار دي، ورنه دَ خلقو په مسلسل ګناهونو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه دَ عذاب خطره وي ـ (سُوْرَة هود ،آيت: ۶۴ ،۶۵ ،سُوْرَة الشعراء ،آيت: ۱۵۶)

۸ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ نافرماني او دَ هغۀ دَ رسول انکار او سپکوالے ( توهين) دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ رحمت نه جداوالے او محروم کوي ـ (سُوْرَة الاعراف،آيت:۷۷،۷۸ ،سُوْرَة هود ،آيت : ۶۷ ،۶۳ ۶۸ سُوْرَة الشعراء ،آيت: ۱۵۷ ،۱۵۸)

۹ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ رسولان او ايمان والو ته دَ دنيا دَ عذاب او دَ آخرت دَ رسوايۍ نه نجات ورکوي ـ (سُوْرَة هود ،آيت: ۶۶)

۱۰ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ اطاعت سره دَ هغۀ دَ رسول اطاعت هم ضروري دے ـ (سُوْرَة الشعراء، آيت: ۱۴۴)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل يې کړئ

**۱ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کرښه ولګوئ:**

**کالم (الف)**

- دَ حضرت صالح معجزه
- دَ قام عاد نه وروسته
- دَ قام ثمود جرم
- قام ثمود
- صالح ﷺ خپل قام لره

**کالم (ب)**

- شرک کول او پېغمبر ﷺ دروغژن کول
- لوے لوے محلات يې جوړول
- دَ عذاب نه مخکښې درې ورځې مهلت ورکړو
- اوښه وه
- قام ثمود راغلے

**۲ـ دَ لاندې ليکلې شوو جملو پۀ باره کښې اوښايئ چې دا دَ چا وينا ده:**

| شمېره | جملې | دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی | دَ صالح ﷺ | دَ قام |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | دا دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی اوښه ده (چې) ستاسو د پاره يوه نښانه (ده). | | | |
| ۲ | يقيناً تاسو دَ دې نه مخکښې زمونږ دَ اميدونو مرکز وې. | | | |
| ۳ | بيا چې کله زمونږ حکم (عذاب) راغلے (نو) مونږ صالح (عَلَيْهِ السّلام) ته نجات ورکړو. | | | |
| ۴ | مونږ دَ هغو عبادت کوو چې دَ چا عبادت زمونږ پلار او نيکۀ کولو. | | | |
| ۵ | تاسو دې اوښې ته نقصان مۀ رسوئ ورنه پۀ تاسو به عذاب نازل شي. | | | |

**معلوم کړئ:** انسانان دَ زمکې نه پېدا کول، پۀ زمکه باندې آبادېدل، دَ يو کس جرم دَ ټول قام جرم ګرځول، دَ شک او کفر وضاحت دَ خپلو عزتمندو استاذانو نه معلوم کړئ.

## ۳ ـ دَ لاندې ليکلي شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ دَ صالح عَلَيْهِ السّلام په باره کښې درې خبرې وليکئ.

---------------------------------------------------------------------------------

---------------------------------------------------------------------------------

۲ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه قام ثمود ته ورکړلے شوي درې نعمتونه بيان کړئ.

---------------------------------------------------------------------------------

---------------------------------------------------------------------------------

۳ ـ صالح عَلَيْهِ السّلام په خپل هلاک شوي قام باندې دَ افسوس اظهار په کوم الفاظو کښې کړے ؤو؟

---------------------------------------------------------------------------------

---------------------------------------------------------------------------------

## ۴ـ خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱) دَ قام ثمود يو غټ بدبخته انسان دَ اوښې ------------ کټ کړې او هلاکه يې کړه.
(۲) دَ صالح ﷺ قام دَ حجاز او --------------- په درميانه علاقه کښې آباد وو.
(۳) قام ثمود ته عادِ ثاني او ----------------- هم وئيلے شي.
(۴) دَ قام ثمود---------------- نن هم دَ عبرت د پاره موجود دي.
(۵) دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ اطاعت سره ------------- اطاعت هم ضروري دے.

## ۵ ـ په لاندې ليکلے شوي الفاظو باندې صحيح √ يا غلط X نشان ولګوئ:

| شمېره | جملې | صحيح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | قام ثمود دَ يو نهر نه اوبۀ حاصلولې. | | |
| ۲ | قام ثمود نۀ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ شکر ادا کړو او نۀ يې د الله عبادت کولو. | | |
| ۳ | په قام ثمود باندې دَ دوي دَ نافرمانيانو او دَ رسول ﷺ دَ انکار کولو دَ وجې نه دَ زلزلې عذاب راغلے. | | |
| ۴ | دَ قام ثمود ګنډرات موجود نۀ دي. | | |
| ۵ | قام ثمود دَ نوح ﷺ دَ قام نه په بچ شوو کسانو باندې مشتمل ؤ. | | |


دَ ښکته جملو سره پهٔ جوړو شوو خانو کښې دَ قيصې دَ ترتيب پهٔ لحاظ سره نمبر ولګوئ:

- ○ **حضرت** صالح ﷺ قام ويرولو چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ اوښې ته نقصان مهٔ رسوئ.
- ○ قام ثمود دَ غر نه دَ ژوندۍ اوښې دَ راوتلو مطالبه وکړله.
- ○ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ صالح ﷺ او ايمان والا دَ عذاب نه بچ کړل.
- ○ صالح ﷺ دَ اوښې دَ اوبو څښکلو ورځ مقرر کړې وه.
- ○ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ صالح ﷺ دَ قام ثمود طرف ته رسول لېږلے ؤ.
- ○ قام ثمود دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ سره شرک کړے ؤ.
- ○ دَ قام ثمود اوچت محلات کنډرات جوړ شو.
- ○ دَ قام ثمود يو غټ بدبخته انسان اوښه هلاکه کړه.
- ○ پهٔ قام ثمود باندې درې ورځې وروسته عذاب راغلے.
- ○ صالح ﷺ قام ته درې ورځې مهلت ورکړو.

سوچ وکړئ!!! که چرته يو خوا بل خوا يو داسې غلط کار وينئ چې دَ هغې دَ وجې نه خلقو ته نقصان رسيږي، مثلا چا پهٔ لاره کښې کچراه غورځولې ده، نو پهٔ دې صورت کښې به تاسو څه کوئ؟

## کورنۍ مشغولتيا

- ❖ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ حضرت صالح ﷺ ته دَ اوښې معجزه ورکړې وه. دَ خپل کور والو سره پهٔ خبرو اترو کښې نور دَ درې پېغمبرانو نومونه او هغوي ته ورکړے شوي معجزات وليکئ.
- ❖ دَ زلزلې پهٔ تباکاريانو باندې څو تصويرونه جمع کړئ او پهٔ چارټ باندې ولګوئ او معلوم کړئ چې پهٔ دې موقع باندې مونږ لره څهٔ کول پکار دي.
- ❖ اوښ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پهٔ نعمتونو کښې يو نعمت دے. پهٔ لاندې ورکړے شوو خانو کښې دَ خپل کور والو پهٔ مدد سره دَ اوښ نه حاصلېدونکې فائدې رنګ کړئ.




د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/ د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# قصّه حضرت شعيب عَلَيۡهِ السّلام

## شعيب عَلَيۡهِ السّلام او دَ مَديَن پېژندګلو (تعارف)

دَ حضرت شعيب ﷷ تعلق دَ قبيلې مدين سره ؤ. د دوي ﷷ زمانه دَ لوط ﷷ نه څه لږه موده وروسته وه. دَ حضرت شعيب ﷷ قام دَ بحيره احمر په غاړه ملک اردن ته نزدې په مدين کښې آباد وو. دا قام دَ شرک نه علاوه په نورو جرمونو کښې هم مبتلا وو. الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ مدين والا دَ اصلاح او هغوي ته دَ نېغه لارې ښودلو د پاره حضرت شعيب ﷷ رسول راولېږلو. دَ حضرت شعيب ﷷ دَ بعثت نه وروسته دې خلقو ته "دَ حضرت شعيب ﷷ قام" اوئيلے شو. حضرت شعيب ﷷ قام ته دَ وعظ او نصيحت په دوران انتهائي زړه راښکونکے انداز اختيار کړلو، د دې وجې نه دَ حضرت شعيب ﷷ لقب "خطيب الانبياء" دے.

## په مدين والو باندې دَ الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ انعامات

الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ مدين والو ته ډېر زيات نعمتونه ورکړي وو. الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ دوي ته ابشارونه، نهرونه، ګڼ باغونه او ځنګلې ورکړې وې، د دې وجې نه دې قام ته"اَصۡحَابُ لۡأَيۡكَةِ" يعنې ځنګل والا هم وائي. الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ د دوي په تجارت کښې هم برکت اچولے ؤ. دَ مدين علاقه دغه زمانې کښې په بين الاقوامی شاهراه باندې واقع کېدلو باندې ډېر زيات مالداره وو.

## د قام جرمونه

دې قام دَ الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ شکر ادا کولو په ځائے ډېره ناشکري وکړله او دَ الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ سره يې شرک هم وکړلو. دا خلق په تجارت کښې دَ ښهٔ فائدو ګټلو باوجود په ناپ تول کښې کمے زياتے کولو چې سامان به يې بل لره تللو، نو کم به يې ورکولو او چې دَ بل نه به يې اخستلو، نو دَ حق نه دَ زيات کوشش به ئې کولو. د دې نه علاوه به دې خلقو تجارتي قافلې او په لاره تېرېدونکي لوټ کول.

## دعوتِ توحيد او نصيحت

دَ شعيب ﷷ سره دَ خپل قام په دې نافرمانيانو باندې سخت غم ؤ. هغهٔ قام ډېر پوهه کړلو چې صرف دَ يو الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ عبادت کوی، دَ شرک او نافرمانۍ نه بچ شئ، زما تابعداري کوئ، په ناپ تول کښې کمے مهٔ کوئ، په زمکه کښې فساد مهٔ کوئ او دَ خلقو مالونه مهٔ لوټ کوئ. شعيب ﷷ دوي ته دَ الله سُبۡحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ شکر ادا کولو او استغفار وئيلو نصيحت هم اوکړو. ګويا حضرت شعيب ﷷ دَ

دوي هر قسم خېرخواهي وکړه ـ پۀ دوي باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ حاصل شوي برکتونه او دَ خېر ياد وکړلو او دَ ټولو غلطو کارونو نه ئې منعه کړل۔

## دَ قام ردِّ عمل

قام پۀ حضرت شعيب ؈ پسې مذاق او ټوقې شروع کړې چې مونږ ته پته ده چې تۀ ډېر هوښيار ئې۔آيا تا ته ستا مونځ دا حکم کوي چې مونږ دَ بتانو عبادت پرېږدو چې دَ کومو عبادت (تعظيم) به زمونږ پلارانو او نيکونو کولو؟

آيا مونږ پۀ خپلو مالونو کښې پۀ خپلې مرضئ نۀ چلېږو؟ حضرت شعيب ؈ قام دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب نه ويرولو ـ شعيب ؈ دوي ته اوفرمائل که چرته تاسو داسې نۀ کوئ، نو دَ بدو اعمالو دَ وجې نه به پۀ تاسو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ طرف نه هيبتناک عذاب راشي ـ ياد لرئ چې ستاسو نه مخکښې دَ نوح ؈ پۀ قام، قام ثمود او دَ لوط ؈ پۀ قام باندې عذاب هم راغلے ؤ ـ دَ شعيب ؈ دَ خبرې منلو پۀ ځائے قام شعيب ؈ ته دَ سنګسارولو او دَ کلي نه دَ ويستلو دهمکيانې ورکولې ـ دوي شعيب ؈ ته اوئيل که چرته مونږه ستا دَ خاندان خيال نۀ ساتلے، نو مونږ به تۀ وژلے وے ـ شعيب ؈ اوفرمائل چې آيا زما خاندان ستاسو پۀ نزد دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نه زيات غلبې والا او عزتمند دے او تاسو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ مو دَ خپلو شاه ګانو نه آخوا غورځولے دے۔

## پۀ کافرانو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب

دا ګډوډ او خراب قام چې کله دَ ګناهونو نه منع نۀ شو، نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب لره دَ وريځې پۀ شکل کښې دې طرف ته ولېږلو ـ خلقو چې وريځې لره خپل طرف ته پۀ راتلو وليدله، نو خوشحالي ئې مناووله ـ دوي خوشحاله وو چې اوس به باران وشي،ګرمي به ختمه شي او باغونه به شنۀ او دَ مېوو نه ډک شي ـ ليکن دوي نۀ پوهېدل چې دا وريځ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رحمت نۀ دے بلکې دوي ته عذاب راوړي، نو د دې وجې نه يو تيزې چغې او زلزلې دا نافرمانه هلاک کړل ـ دَ دوي کلے، علاقه داسې شوله لکه چې هيڅکله دا خلق دلته نۀ وو اوسېدلي۔

> **فرمانِ نبوی ﷺ**: چې کوم قام پۀ ناپ تول کښې کمے کوي، نو دا به پۀ قحط، مصيبتونو او دَ بادشاهانو (حکمرانانو) پۀ ظلم او ستم کښې مبتلا کېږي ـ (سنن ابن ماجه)


## پۀ ايمان والو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رحمت

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ حضرت شعيب ؑ او ايمان والا دَ دې عذاب نه بچ کړل۔ حضرت شعيب ؑ پۀ خپل هلاک شوي قام باندې دا اظهار وکړلو: " اے زما قامه! ما تاسو ته دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ احکامات رسولي دي او د دې عذاب نه مخکښې تاسو ويرولے شوي وئ ليکن تاسو نصيحت والا نۀ خوښوو۔

## د دې قيصې نه حاصل شوے سبق

مونږ له حلال رزق ګټل پکار دے او دَ مال حرام نه بچ کېدل پکار دي۔ مونږ له دَ لين دين پۀ معاملاتو کښې بې ايماني نۀ کول پکار دي او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پۀ نعمتونو باندې د هغۀ شکر ادا کړو، دَ هغۀ تابعداري کول پکار دي او دَ هغه بد انجام نه عبرت حاصل کولو سره، ټول معاملات دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ او دَ هغۀ دَ رسول ﷺ دَ احکاماتو مطابق سرانجام کول پکار دي۔

## شعيب عَلَيْهِ السّلام او دَ شعيب عَلَيْهِ السّلام دَ قام مقام




**عملي خبره:** دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عبادت پۀ مونځ کولو پورې محدود نۀ دے۔ مونځ پۀ پوره زندګۍ کښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عبادت ياد يادوي۔ مونږ له دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ مکمّل عبادت د پاره پۀ هر وخت او هره معامله کښې د هغۀ پۀ حکم باندې عمل کول پکار دي او دَ نبی کريم ﷺ مکمل اطاعت او تابعداري کول پکار دي۔

## قصّه حضرت شعيب عَلَيْهِ السَّلام

سُوْرَۃ الاعراف۷،آيت:۸۵تا۸۷

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ
زهٔ د الله پهٔ فناه کښې راځم دشيطان رټلي نه شوي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
د الله د نوم نه شروع کوم چې لوي مهربان او ډير رحم والا دے

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ
او (ليږلے ؤ مونږ) اهل مدين ته د هغوی د وروروليٰ کس شعيب عليه السلام اوئيل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ،
مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ
تاسو دپاره د هغهٔ نه سيوا (بل) هيڅوک معبود نشته، يقيناً تاسو ته د خپل رب د جانبه ښکاره دليل راغلے دے، نو تاسو پيمانه او تول پوره کوئ
وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ
او خلقو ته د هغوی شيان کم مهٔ ورکوئ او پهٔ زمکه کښې ورانے مه کوئ، د هغې د اصلاح نه پس، دا تاسو دپاره ډير غوره دي،
اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ۰۰۸۵ وَلَا تَقْعُدُوْا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ وَتَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ
که چرې تاسو ايمان راوړونکي يئ وئ. او تاسو پهٔ هر لار ښې مهٔ کښېنئ، چې تاسو (خلق) ويروئ او تاسو د الله د لارې نه هغه څوک منع کوئ چې پهٔ هغهٔ (الله) ايمان راوړي
وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوْا اِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ ۪
او تاسو مهٔ پهٔ دې اراده کښې کوږوالے لټوئ او تاسو هغه وخت ياد کړئ کله چې تاسو ډير لږ وئ، نو هغهٔ تاسو ډير کړئ
وَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ۰۰۸۶ وَاِنْ كَانَ طَآىِٕفَةٌ مِّنْكُمْ اٰمَنُوْا بِالَّذِيْۤ اُرْسِلْتُ بِهٖ
او تاسو وګورئ چې د وران کارو انجام څنګه ؤ؟ او که پهٔ تاسو کښې يوه ډله داسې شي چې پهٔ هغهٔ شي بې ايمان راوړے دے چې زهٔ ورسره رالېږل شوے يم
وَطَآىِٕفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ۰۰۸۷
او بلې ډلې ايمان را نهٔ وړے، نو تاسو صبر کوئ تر دې چې الله زمونږ پهٔ مينځ کښې فيصله وکړي او هغه د ټولو بهتر فيصله کوونکے دے

> **آيا تاسو پوهېږئ**
>
> قبيله مَديَن دَ ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام دَ زوئ "مدين" دَ نسل نه ده چې دَ ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام بی بی "قطورا" نه پيدا ؤ ۔ دَ ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام دې خاندان ته بنی قطورا وائي ۔ پهٔ کومه علاقه کښې چې دوی اوسېدل د دغې علاقې نوم هم دَ قبيلې پهٔ نوم "مدين" شو ۔

## قصّه حضرت شعيب عَلَيْهِ السَّلام

سُوْرَۃ الاعراف۷،آيت:۸۸تا۹۳

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ
د هغهٔ د قام نه کبرجنو مشرانو اوئيل: اے شعيبه! خامخا به مونږ اوباسو تا او هغه کسان چې ستا سره بې ايمان راوړے دے

مِنْ قَرْيَتِنَا اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ قَالَ اَوَ لَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ۚ ٠٠٨٨

د خپل کلي نه اوباسو، يا به تاسو زمونږ طريقي ته راګرځئ. شعيب عليه السلام اوئېل: مونږ به ستاسو په طريقه راشو اګر چې مونږ دا بد ګڼونکي يو.

قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ بَعْدَ اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا ؕ

يقيناً مونږ به په الله باندي سخت دروغ تپلي وي که مونږ ستاسو طريقي ته در وګرځو وروسته د دي چې مونږ ته الله د هغه نه خلاصے راکړو

وَمَا يَكُوْنُ لَنَا اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَا اِلَّا اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ؕ

او مونږ ته دا جائز نۀ دي چې هغه طريقي ته وګرځو مګر دا چې زمونږ رب الله (څه) وغواړي،

وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ؕ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا

زمونږ رب هر شے په (خپل) علم کښې راګېر کړے دے، مونږ په الله توکل کړے اے زمونږه ربه تۀ فېصله وکړه زمونږ او زمونږ د قوم په مېنځ کښې

بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ٠٠٨٩ وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا

په حق سره او تۀ ښه فيصله کؤنکے يې. او د هغه د قام کافرو مشرانو اوئېل: يقيناً که چرې تاسو د شعيب تابعداري وکړه،

اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ٠٠٩٠ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ۚ ۖ ٠٠٩١

بېشکه تاسو به په دغه وخت کښې خامخا د تاوانيانو نه يئ وئ. نو دوي زلزلې ونيول، نو دوي شول په خپلو کورونو کښې پرمخې (مړۀ) پراتۀ.

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۛ ۚ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا

هغه کسان چې شعيب يې دروغژن ګڼلے ؤ، (داسې هلاک شول لکه چې دوي په دغو (کورونو) کښې اوسېدلي نۀ وو، هغه کسان چې شعيب يې دورغژن ګڼلے ؤ،

كَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ٠٠٩٢ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ

هم هغوي تاوانيان شول. شعيب عليه السلام ترې مخ وګرځو او وې فرمايل: اے زما قامه!

لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ اٰسٰى عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ۧ ٠٠٩٣

يقيناً ما تاسو ته د خپل رب پېغامونه در ورسول او ستاسو خېرخواهي مې غوښتې وه، نو زۀ څنګه په کافر قام باندي غم وکړم.

## اَهمي نکتي

## قصّه حضرت شعيب عَلَيهِ السّلام

### سُوْرَةُ هود ۱۱، آيت : ۸۴تا۸۸

وَاِلٰی مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ۱ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او (لېږلے ؤ مونږ) اهل مدين ته د هغوي د وروروليۍ يو کس شعيب عليه السلام، هغه اوئيل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ،

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ۱ وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ اِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ

تاسو دپاره د هغه نه غير (بل) هيڅ حق معبود نشته او تاسو پيمانه او تله مهٔ کموئ، بېشکه زهٔ تاسو پهٔ خير (مالداري) وينم

وَّاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيْطٍ۰۰۸۴ وَيٰقَوْمِ اَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ

او بېشکه زهٔ پهٔ تاسو باندې وېرېږم د چاپېرېدونکې ورځې د عذاب نه۔ او اے زما قامه! تاسو پيمانه او تول پهٔ انصاف سره پوره ورکوئ

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ۰۰۸۵ بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ

او خلقو ته د هغوي څيزونه مهٔ کموئ او پهٔ زمکه کښې ورانے کوونکي مهٔ ګرځئ۔ د الله باقي پاتې کړے (رزق) تاسو دپاره ډېر غوره دے

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ۱ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ۰۰۸۶ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ

که تاسو مؤمنان ئې اوزهٔ پهٔ تاسو باندې څهٔ نګران خو نهٔ يم۔ د شعيب عليه السلام قام اوئيل اے شعيبه! آيا ستا مونځ تا ته د دې حکم کوي چې مونږ ) پرېږدو

مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِيْٓ اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ؕ۱

هغه معبودان چې زمونږ پلارانو به يې عبادت کولو يا دا چې پهٔ خپلو مالونو کښې وکړوهغه چې مونږ څه کول غواړو

اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ۰۰۸۷ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰی بَيِّنَةٍ

بېشکه هم تهٔ يقيناً ډېر برداشت کونکے، ډېر پوهه يې۔ شعيب عليه السلام اوئيل: اے زما قامه! تاسو خو لږ اوګورئ! که زهٔ يم پهٔ ښکاره دليل باندې

مِّنْ رَّبِّيْ وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ۱ وَمَآ اُرِيْدُ

د خپل رب د طرفه او ما ته يې د خپله طرفه ډېر ښکلے رزق راکړے وي (نو زهٔ يې ولې نافرماني وکړم) او زهٔ نه غواړم

اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰی مَآ اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ؕ۱ اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ؕ۱

چې ستاسو مخالفت وکړم (او راشم) هغه کار ته چې تاسو د هغه نه منع کوم، زهٔ ستاسو اصلاح غواړم، څومره چې زما وس وي

وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ؕ۱ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ۰۰۸۸

او ما ته چې توفيق راکړے يواځې د الله پهٔ مدد سره دے، خاص پهٔ هغهٔ باندې ما توکل کړے دے او خاص هغهٔ ته رجوع کوم۔

### اَهمي نکتې

## قصّه حضرت شعیب عَلَیْهِ السّلام

سُوْرَۃ هود ۱۱، آیت: ۸۹تا۹۵

وَیٰقَوْمِ لَا یَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِیْٓ اَنْ یُّصِیْبَكُمْ مِّثْلُ مَاۤ اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ

او اے زما قامه! زما سره دښمني دې تاسو په دې خبره را اوچت نۀ کړي چې تاسو ته په مثل د مصيبت (عذاب) ورسېږي چې د نوح قام

اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ اَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ؕ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ۰۰۸۹وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ

يا د هود قام يا د صالح قام ته رسېدلے ؤ او د تاسو نه د لوط قام ډېر لرې نۀ دے. او تاسو د خپل رب نه مغفرت وغواړئ، بيا هغۀ ته توبه اوباسئ،

اِنَّ رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ۰۰۹۰قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ

بېشکه زما رب ډېر مهربان، بې حده مينه کونکے دے. دوي اوئېل: اے شعيبه! مونږ پۀ ډېرو هغو خبرو نۀ پوهېږو چې تۀ يې وايې

وَاِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا ۚ وَلَوْ لَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ ؗ

او بېشکه مونږ خو تا پۀ مونږ کښې کمزورے وينو او که چرې ستا دا خپلوان نۀ وے، نو مونږ به تۀ خامخا سنګسار کړے وے

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ۰۰۹۱قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

او تۀ پۀ مونږ باندې هيڅ غالب نۀ يې. شعيب عليه السلام اوئېل: اے زما قامه! آيا زما خپلوان پۀ تاسو باندې د الله نه ډېر زوراور دي

وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ۰۰۹۲

او تاسو دا (الله) ګرځولے دے خپل وروسته، شا ته غورځول شوے، بېشکه زما رب پۀ هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ښۀ احاطه کونکے دے.

وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ؕ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ

او اے زما قامه! تاسو پۀ خپل ځائے (طريقې) عمل کوئ، يقيناً زۀ هم عمل کونکے يم، زر ده چې تاسو به پوهه شئ چې پۀ چا داسې عذاب راځي

يُّخْزِيْهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ۰۰۹۳ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا

چې هغه به رسوا کړي او هغه څوک چې دروغژن دے او تاسو انتظار کوئ بېشکه زۀ (هم) د تاسو سره انتظار کونکے يم. او کله چې زمونږ حکم (د عذاب) راغے

نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا

(نو) مونږ شعيب ته او هغو کسانو ته چې د هغه سره يې ايمان راوړے ؤ خلاصے ورکړو پۀ خپل رحمت سره د خپل طرف نه

وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ۙ۰۰۹۴كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ

او هغه کسان چې ظلم يې کړے ؤ تيزې چغې ونيول، نو شول پۀ خپلو کورونو کښې پړمخې مړۀ پراتۀ ګويا کښې دوي پۀ دې (کورونو) کښې نۀ وو اوسېدلي،

اَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ۰۰۹۵

خبردار شئ (د الله د رحمت نه) لرې والے دے مدين والو ته لکه څنګه چې ثموديان لرې (او هلاك) شول.

## قصّه حضرت شعیب عَلَیْهِ السّلام

سُوْرَۃ الشعراء ۲۶، آیت: ۱۷۶تا۱۸۴

كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْـَٔیْكَةِ الْمُرْسَلِیْنَ ۚۖ ۰۰۱۷۶ اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَیْبٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۚ ۰۰۱۷۷

د ځنګل والو رسولان دروغژن وګرځول ـ کله چې دوي ته شعیب اوئیل: آیا تاسو نۀ وېرېږئ!

اِنِّیْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ ۙ ۰۰۱۷۸ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ۚ ۰۰۱۷۹

بېشکه زۀ تاسو ته امانتګر رسول یم ـ نو تاسو د الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ

وَمَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ ۰۰۱۸۰ اَوْفُوا الْكَیْلَ

او زۀ د تاسو نه پۀ دې (تبلیغ) باندې هېڅ اجر نۀ غواړم، زما اجر نۀ دے مګر پۀ رب د ټولو مخلوقاتو باندې تاسو پېمانه پوره ورکوئ

وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُخْسِرِیْنَ ۚ ۰۰۱۸۱ وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِیْمِ ۚ ۰۰۱۸۲ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْیَآءَهُمْ

او تاسو د کم ورکونکو نه مۀ کېږئ ـ او تاسو پۀ برابرې تلې سره تول کوئ ـ او تاسو خلقو ته د هغوي څیزونه مۀ کموئ

وَلَا تَعْثَوْا فِی الْاَرْضِ مُفْسِدِیْنَ ۚ ۰۰۱۸۳ وَاتَّقُوا الَّذِیْ خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِیْنَ ؕ ۰۰۱۸۴

او مۀ ګرځئ پۀ وراني سره پۀ زمکه کښې، پۀ دې حال چې فساد کونکي ئې وئ ـ او تاسو د هغه ذات نه وېرېږئ چې تاسو ئې پیدا کړي او مخکښې خلق هم ـ

## قصّه حضرت شعيب عَلَيۡهِ السّلام

### سُوۡرَةَ الشعراء ۲۲، آيت: ۱۸۵ تا ۱۹۱

قَالُوْا اِنَّمَا اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَۙ۰۰۱۸۵وَمَا اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَۚ۰۰۱۸۶

قام اوئيل: بېشکه همدا خبره ده چې ته د جادو کړے شوو يې. او ته نۀ يې مګر زمونږ پۀ شان بشر او يقيناً مونږ خامخا تا لره دروغ ويونکے ګڼو.

فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَؕ۰۰۱۸۷قَالَ رَبِّيْۤ اَعْلَمُ

نو ته پۀ مونږ باندې د اسمانه ټوټې راوغورځوه، کۀ ته د رښتينو يې. شعيب عليه السلام اوئيل: زما رب ښۀ عالم دے

بِمَا تَعْمَلُوْنَ۰۰۱۸۸فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِؕ۱


پۀ هغو کارونو چې تاسو يې کوئ. نو دوي هغه دروغژن کړو، پس دوي د سيورې د عذاب والا ورځې ونيول،

اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ۰۰۱۸۹اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةًؕ۱

بېشکه دغه (عذاب) د ډېرې لويې ورځې عذاب ؤو. بېشکه پۀ دې کښې خامخا لويه نښه ده

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ۰۰۱۹۰وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ۠۰۰۱۹۱

او د دوي زياتره مؤمنان نۀ وو. او بېشکه ستا رب خامخا هم هغه ډېر غالب، بې حده رحم کونکے دے.



## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ ورکړلے شوے حلال رزق دَ هغه مال نه ډیر دے چې پۀ ناجائزه طریقه سره وګټلے شي ـ (سُوْرَۃ هود ،آیت: ۸۶،۸۵)

۲ ـ پۀ ناپ تول کښې کمے کول او خلقو ته دَ نقصان رسولو نه الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ منع کړې ده ـ (سُوْرَۃ هود ،آیت: ۸۵،۸۴) ـ

۳ ـ پۀ ناپ تول کښې کمے کول او خلقو ته دَ هغوي څیزونه کم ورکولو دَ وجې نه پۀ زمکه کښې فساد او خرابوالے پیدا کیږي ـ (سُوْرَۃ الاعراف۷،آیت: ۸۶)

۴ ـ خلق دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ لارې نه بندول او پۀ دین کښې کوږوالے لټول سخته ګناه ده ـ (سُوْرَۃ الاعراف۷،آیت: ۸۶)

۵ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ طرف نه خلق پۀ سختو او ازمائشونو کښې د دې وجې نه مبتلا کولے شي چې دوي الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ طرف ته رجوع وکړي ـ (سُوْرَۃ الاعراف۷،آیت: ۹۴)

۶ ـ ایمان والو لره دَ مشکلاتو نه ویرېدل نۀ دي پکار ځکه الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ تابعدارو او دَ نافرمانو پۀ خپله فېصله کوي ـ (سُوْرَۃ الاعراف۷،آیت: ۸۷ ،۸۹، سوره هود ،آیت: ۹۳،۹۲)

۷ ـ خراب خلق غواړي چې ښۀ خلق هم غلط کار اختیار کړي ـ مونږ لره دَ غلطو خلقو خبره منل نۀ دي پکار ـ (سُوْرَۃ الاعراف۷،آیت: ۸۹،۸۸)

۸ ـ پۀ دین باندې عمل او د دې پۀ دعوت ورکولو کښې ازمائشونه هم راځي، پۀ دې حوالې سره دَ انبیاء کرامو دَ سیرت نه لارښود (راهنمائي) حاصلول پکار دي ـ (سُوْرَۃ الاعراف۷، آیت: ۸۸، سُوْرَۃ هود ،آیت: ۹۱)

۹ ـ زمونږ پۀ قول او فعل کښې تضاد نۀ دے کول پکار ـ دَ کومو خبرو نه چې مونږ نور منع کوو مونږ لره هم د دې نه منع کیدل پکار دي ـ (سُوْرَۃ هود ،آیت: ۸۸)

۱۰ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ بندګانو نه ښۀ خبردار دے ـ دَ بندګانو دَ ټولو اعمالو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ ته علم دے ـ (سُوْرَۃ الشعراء،آیت: ۱۸۸)

۱۱ ـ دَ شعیب عَلَیْهِ السّلَام دروغژن کول او دَ هغۀ پۀ تعلیماتو عمل نۀ کول، دَ مدین والو دَ هلاکت بنیادي وجه وه ـ (سُوْرَۃ الشعراء،آیت: ۱۵۴،۱۵۳)

## پو هه شئ او حل ئي کړئ

دَ لاندې ليکلي شوو جملو په باره کښې اوښائې چې دا دَ چا وينا ده:

| شمېره | جملې | الله تَعَالٰی | شعيب عليه السلام | قام |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ما تاسو ته دَ خپل رب پېغامات دَر ورسول او ما ستاسو خېرخواهي اوکړله. | | | |
| ۲ | آيا ستا مونځ تا ته حکم کوي چې مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه سېوا نور معبودان پرېږدو؟ | | | |
| ۳ | بې شکه دَ شعيب عليه السلام رب يقينًا ډېر غالب ډېر رحم کولو والا دے. | | | |
| ۴ | پهٔ ناپ تول کښې کمے مهٔ کوئ او دَ خلقو نه دَ هغو شيزونه کم کړې مهٔ ورکوئ. | | | |
| ۵ | که ستا خاندان نهٔ وے نو مونږ به تهٔ هلاک کړے وے. | | | |

**۲. دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کرښه ولګوئ:**

**کالم (الف)**

- دَ شعيب عليه السلام دَ قام يو بل نوم
- دَ شعيب عليه السلام دَ قام علاقه
- دَ شعيب عليه السلام دَ قام يو جرم
- الله تَعَالٰی دَ شعيب عليه السلام دَ قام لره
- شعيب عليه السلام خپل قام لره

**کالم (ب)**

- مدين ؤ.
- ګڼ باغونه ورکړي وو.
- "اَصْحٰبُ لْاَيْکَة" دے.
- دَ عذاب نه ئې ويرولي وو.
- پهٔ ناپ تول کښې کمے هم کولو.

۳. پهٔ لاندې ليکلي شوي جملو باندې صحيح ✓ يا غلط (X) نښه ولګوئ:

| شمېره | جملې | صحيح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | قام شعيب عليه السلام لره دَ کلي نه ويستلو. | | |
| ۲ | دَ شعيب عليه السلام قام پهٔ طوفان کښې ډوب شولو. | | |
| ۳ | دَ شعيب عليه السلام قام به دَ نورو خلقو مال سپکولو. | | |
| ۴ | شعيب عليه السلام قام ته نهه سوه پنځوس (۹۵۰) کاله دعوت ورکړے ؤ. | | |
| ۵ | دَ شعيب عليه السلام دَ قام نه ظالمان تيزې چغې ونيول | | |

راځئ!!! مونږه خپله جائزه واخلو:

| شمېره | عملونه | جي او | کافي حده پورې | دَ ډېر حده پورې | اراده ده |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آيا مونږه نورو لره دَ هغوي حق پوره پوره ورکوو؟ | | | | |
| ۲ | آيا مونږ دَ نورو د نقصان رسولو نه ځان بچ ساتو؟ | | | | |
| ۳ | آيا مونږ دَ نورو د پاره هغه څه خوښوو چې کوم دَ ځان د پاره خوښوو؟ | | | | |
| ۴ | آيا مونږ دَ مظلوم سره مدد کوو؟ | | | | |
| ۵ | آيا مونږ خلقو لره پهٔ نورو باندې دَ زياتي کولو نه منع کوو؟ | | | | |

**معلوم کړئ:** دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ پهٔ لاره کښې کوړوالے تلاش کول، شعيب عليه السلام دَ خپل قام پهٔ انجام افسوس نهٔ کول، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ ورکړے شوي فائدې او رزق وضاحت دَ خپلو اساتذه کِرامو نه معلوم کړئ.

## ۵. دَ لاندې ليکلي شوو الفاظو پهٔ مدد سره خالي ځايونه ډک کړئ:

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ ،فساد ، ناپ، رجم، معبودان ، اطاعت، اصلاح، خاندان، تول

۱. شعيب عليه السلام خپل قام ته اوفرمائيل تاسو ------------ او ----------- مهٔ کموئ

۲. قام اوئیل اے شعیب ﷺ! آیا ستا--------تا ته دا حکم کوي چې مونږ خپل--------- پرېږدو ۔

۳. قام حضرت شعیب ﷺ ته اوئیل که چرته --------- نۀ وے نو مونږ به تۀ------ کړے وے۔

۴. حضرت شعیب ﷺ قام ته اوفرمائل تاسو د--------- نۀ ویرېږئ او زما-----------اوکړئ۔

۵. شعیب ﷺ قام ته اوفرمائل تاسو پۀ زمکه کښې د دې نه------ نه وروسته --------- مۀ کوئ۔

## ۲. دَ لاندې لیکلي شوو سوالونو جوابونه ورکړئ :

۱ ـ پۀ حدیث شریف کښې پۀ ناپ تول کښې پۀ کمي کولو باندې کومه سزا ښودلې شوې ده؟

________________________________________

________________________________________

۲ ـ مدین قبیله څوک وو؟

________________________________________

________________________________________

۳ ـ خلقو لره پۀ ازمائشونو کښې ولې مبتلا کولے شي؟

________________________________________

________________________________________

۴ ـ حلال مال دَ کوم مال نه بهتر دے؟

________________________________________

________________________________________

۵ ـ قام حضرت شعیب ﷺ ته کومې دهمکیانې ورکولې؟

________________________________________

________________________________________

سوچ وکړئ!!! تاسو خپله عیدي پۀ خپله مرضۍ باندې خرچ کول غوښتل، چې پۀ هغه باندې ستاسو دَ کور والا دغه عیدي لره دَ هغو دَ مرضۍ مطابق خرچ کولو اوئیل، نو پۀ دې کښې به تاسو څۀ



# كورنۍ مشغولتیا

- پۀ لاره باندې روانو ته به مونږ څنګه فائده رسوو د دې څه درې صورتونه ولیکئ۔
- دَ یوعالم نه پۀ ناپ تول کښې دَ کمې وسیع (پراخه) مقصد معلوم کړئ د دې نه کم ازکم پنځۀ صورتونه ولیکئ چې دَ کوم نه مونږه لره بچ کېدل پکار دي۔
- ځنګلو نه دَ اللہ سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ نعمتونو یو نعمت دے۔ دَ خپل کور والا پۀ مدد سره دَ ځنګلو نه پۀ حاصلیدونکو فائدو کښې رنګ کړئ۔




د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

# قصّه حضرت يونس عَلَيْهِ السّلام

## تعارف (پېژندګلو)

حضرت يونس بن متّی ﷺ دَ حضرت هود ﷺ دَ نسل نه دے۔ پۀ قرآنِ حکيم کښې دَ حضرت يونس ﷺ ذکر"ذوالنون" او" صَاحِبِ الْحُوْتِ" يعني دَ مهي والا پۀ لقب سره شوے دے۔ حضرت يونس ﷺ ته دا لقب د دې وجې نه ورکړے شو چې حضرت يونس ﷺ دَ مهي پۀ خېټه کښې څۀ موده ژوندے او سلامت ؤ او پۀ دې دوران کښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ تسبيح وئيله۔ دَ قرآنِ حکيم لسم سورت "سُوْرَة يونس" دَ حضرت يونس ﷺ پۀ نوم باندې دے۔ دَ سُوْرَة يونس آيت:۹۸ کښې دَ حضرت يونس ﷺ ذکر راغلے دے ۔ دَ سُوْرَة يونس نه علاوه سُوْرَة النّسَاء (آيت:۱۶۳)، سُوْرَة الانعام (آيت:۸۶)،سُوْرَة الانبياء(آيت:۸۷او۸۸)، سُوْرَة الصّفّت (آيت:۱۳۹تا۱۴۸) او سُوْرَة القلم (آيت:۴۸تا۵۰) کښې هم دَ يونس عَلَيْهِ السّلام ذکر راغلے دے۔

## دَ نينویٰ ښار حالت

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ يونس ﷺ دَ عراق ښار نينویٰ خلقو طرف ته رسول جوړ کړو او وې لېږلو۔ دَ ښار آبادي دَ يو لاکهه نه زياته وه۔ نينویٰ د دريابے دجله پۀ غاړه يو غټ لوے او روښانه ښار ؤ۔ د دې ښار کهنډرات دَ موجوده عراق موصل ښار قريب موندلے شي۔

## دَ قام دَ کفر او دَ نۀ منلو حال

پۀ نينویٰ ښار کښې آباد خلق پۀ کفر، شرک او بت پرستۍ کښې مبتلا وو۔ يونس ﷺ دَ څو کالو پورې هغوي ته دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پېغامات ورسول، مګر پۀ هغوي باندې ئې هيڅ اثر ونۀ شو او هغوي دَ يونس ﷺ انکار او مخالفت کولو۔

## قام ئې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب نه ويرولو

دَ يوخ انکار کېدو پۀ وجه چې کله پۀ اهلِ نينویٰ باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب نازلېدلو فېصله وشوه، نو يونس ﷺ خپل قام خبر کړو چې اوس دَ درې۳ ورځو نه وروسته پۀ تاسو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب راځي۔ چې کله دَ عذاب پۀ وعده پوره کېدلو کښې څۀ وخت پاتې شو، نو يونس ﷺ دَ خپل قام پۀ کفر او نافرمانۍ باندې ناراضه شو او دَ خپل نينویٰ ښار نه لرې لاړے، چې کله دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ طرف نه دَ خپل قام پرېښودل او تللو تراوسه باقاعده اجازت نۀ ؤ ورکړے شوے۔ پۀ داسې

موقع باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ سنت دا وي چې رسول په خپله مرضۍ باندې خپل کلے نۀ پرېږدي ترڅو چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه باقاعده دَ هجرت حکم نۀ وي شوے، مګر دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ سره دَ مضبوط تعلق په بناء باندې يونس ﷺ دا امېد کولو زر لاړلے چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه اجازت به ميلاو شي۔ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ يونس ﷺ دَ داسې هجرت کولو په وجه باندې د دې قام په معامله کښې نرمي وکړه۔

## په قام باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عذاب سېورے

دَ حضرت يونس ﷺ دَ تګ نه وروسته په قام باندې دَ عذاب آثار په نظر راغلل۔ په نينوىٰ ښار باندې توره وربځ راغله او تور لوګے د دې قام کورونو طرف ته ورمخکښې کيدلو ۔ خلقو چې دَ عذاب آثار وليدلو، نو ويرېدل۔ په دې وخت دوي دَ حضرت يونس ﷺ لټول شروع کړلو او چې کله هغه ميلاو نۀ شو، نو اهلِ نينوىٰ سخت خفه شو ۔ هغوي ته يقين وشو چې دا خلق دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ په عذاب ګرفتارېدونکي دي دَ کوم نه چې حضرت يونس ﷺ ويرول۔

## دَ قام اجتماعي توبه

دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عذاب سېورے ئې چې وليدلو، نو دَ ښار ټول خلق دَ خپلو بچو، ښځو او څاروو سره بهر مېدان ته راووتل۔ دوي دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ په حضور کښې دَ خپلو ګناهونو اقرار اوکړلو او دَ عذاب نه ئې پناه وغوښتله۔ پوره قام په الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ باندې ايمان راوړلو او ټولو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ مخې ته دومره وژړل چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ دوي توبه قبوله کړله او دَ دوي نه عذاب لرې کړو۔

## حضرت يونس عَلَيْهِ السّلَام په کشتۍ کښې

حضرت يونس ﷺ خپل قام دَ الله دَ عذاب نه ويرولو، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه دَ واضح اجازت ميلاويدلو نه مخکښې ئې هجرت وکړلو دَ ښار نه بهر وتلے ؤ۔ د هغوي دا خيال ؤ چې الله په دې اقدام باندې به مونږ په دۀ تنګي را نۀ ولي۔ هغه دا هم غوښتله چې دَ عذاب دَ مقام نه جدا شي۔ هغه په يوه ډکه کشتۍ کښې سور شو ۔ کشتۍ څه وخته پورې په درياب کښې په آرام سره روانه وه مګر بيا په درياب کښې طوفان راغلو او په غټو غټو چپو کښې دَ مسافرو نه ډکه کشتۍ په بَدَه طريقه جرقېدله۔ سخته ويره پېدا شوله چې پوره کشتۍ دَ ټولو مسافرو سره په درياب کښې ډوبه شي۔ دې کشتۍ والا دَ خپلې تجربې په بنياد باندې مسافرو ته اوئيل چې په دې کشتۍ کښې دَ خپل آقا (مالک) نه ښوک راتښتېدلے

غلام دے تر څو چې دا پۀ دریاب کښې وا نۀ ارچولے شي، تر هغه وخته پورې دا کشتۍ نۀ شي بچ کېدلے ـ پۀ دې باندې خلقو پۀ مشوره سره درې ځله قرعه اندازي (خسنړے) وکړه او درې ځله قرعه (خسنړے) دَ یونس ﷺ پۀ نوم راووتلو ـ دَ خلقو دَ نۀ غوښتلو باوجود بالاخر یونس ﷺ پخپله خپل ځان دریاب ته واچولو د دې د پاره چې باقي خلق بچ شي ـ

## حضرت یونس عَلَيْهِ السّلام دَ مهي پۀ خېټه کښې

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ یو غټې مهي ته حکم وکړلو چې حضرت یونس ﷺ بغېر دَ نقصان نه تېر کړي ـ مهي حضرت یونس ﷺ پۀ حفاظت سره پۀ خپله خېټه کښې کېښودلو او یونس ﷺ ئې دَ دریاب پۀ ویخ کښې ګرځولو ـ

## دَ حضرت یونس عَلَيْهِ السّلام حالت او آواز

دَ مهي پۀ خېټه کښې یونس ﷺ دَ ډېرو غمونو سره مخامخ شو ـ مثلاً د الله د واضح حکم راتلو نه بغیر قام پرېښودل او تللو غم، بیا د مهي پۀ خېټه کښې د تللو غم ـ د دې ټولو پرېشانو او غمونو نه دَ نجات واحد صورت یونس ﷺ ته دغه پۀ نظر راغلے چې یونس ﷺ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ تسبیح اووائې او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ پۀ حضور کښې استغفار اووائې، نو دَ مهي پۀ خېټه کښې او دَ دریاب پۀ ژورو تیارو کښې یونس ﷺ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ پۀ دې الفاظ باندې یاد کړو:۔لَا اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۸۷﴾ (اے الله!) نشته هیڅ لائق دَ عبادت مګر تۀ یې، تۀ پاك یې، ښشکه هم زۀ د نقصان والو نه یم ـ (سُوْرَةَ الانبياء ۲۱،آیت:۸۷)

## دَ غم نه نجات

حضرت یونس ﷺ دَ مهي پۀ خېټه کښې څو ورځې پاتې شي ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ هغۀ دعا قبوله کړله او حضرت یونس ﷺ ته ئې نجات ورکړلو ـ که چرته حضرت یونس ﷺ داسې تسبیح نۀ کولے، نو دَ قیامت دَ ورځې پورې به دَ مهي پۀ خېټه کښې وے ـ

## حضرت یونس عَلَيْهِ السّلام پۀ خالي محموز میدان باندې

دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پهٔ حکم باندې مهي حضرت يونس ﷺ دَ يو هموار مېدان پهٔ کناره (غاړه) باندې اوغورځولو ـ حضرت يونس ﷺ دَ مهي پهٔ خېټه کښې دَ اوسېدلو دَ وجې نه بې حده کمزورے شوے وُ ـ پهٔ کوم ځائے ئې چې حضرت يونس ﷺ وغورځولو، هغه يو خالي هموار مېدان وُ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ معجزانه طور باندې هلته دَ يو کدو بوټے پېدا کړو چې دَ حضرت يونس ﷺ د پاره غذا، شفا او دَ آرام ذريعه جوړه شوه ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پهٔ خپل خاص رحمت او فضل سره حضرت يونس ﷺ زر زر صحت مند شو ـ

## د حضرت يونس عَلَيْهِ السّلام خپل قام طرف ته واپس راتلل

يونس ﷺ چې کله صحت مند شو، نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دويم ځل دغه قام يعنې اهلِ نينوىٰ طرف ته دَ لېږلو حکم وکړو ـ دَ نينوىٰ والو دَ يونس ﷺ پهٔ واپس راتلو باندې ډېر زيات خاشحاله شو ـ پوره قام پهٔ يونس ﷺ باندې ايمان راوړلو او بيا هغه خلق دَ يونس ﷺ پهٔ هدايت باندې دَ عمل کولو والا شو او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پهٔ تابعدارۍ کښې زندګي تېرولو والا شو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ يو مقرر وخته پورې دوي ته دَ ژوند سازوسامان ورکړلو ـ

## دَ حضرت يونس عَلَيْهِ السّلام پهٔ قيصه کښې زمونږ د پاره سبق

دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسولانو تابعداري کولو والا او دَ توبې او استغفار کولو والا دَ عذاب نه بچ کېږي ـ مونږ لره هم همېشه د پاره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول خاتم الانبياء سيدنا محمد مصطفیٰ ﷺ اطاعت پکار دے. چې کوم خلق د مرګ نه مخکښې د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پهٔ بارګاه کښې رښتوني توبه اوباسي، نو هغه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب نه بچ کېدے شي ـ البته دَ اجتماعي عذاب نه دَ بچ کېدلو د پاره اجتماعي توبه ضروري ده ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ تسبيح او تقديس او دَ هغهٔ ذکر او پهٔ صبر کولو سره دَ انسان پرېشانۍ لرې او مشکلات حل کولے شي ـ مونږ لره هم دَ انبياءکرام عَلَيْهِم السّلام تابعداري کول پهٔ خوشحالۍ او تکليف دواړو حالتونو کښې همېشه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ يادول پکار دي او پهٔ مشکلات باندې صبر کول پکار دي ـ

**آيا تاسو پوهېږئ**

پهٔ انساني تاريخ کښې دَ يونس ﷺ قام واحد قام دے، چې دَ اجتماعي توبې او اِستغفار پهٔ وجه پهٔ دې قام باندې لېږلے شوے عذاب بند شولو ـ

# حضرت یونس عَلَیْهِ السّلام او دَ حضرت یونس عَلَیْهِ السّلام دَ قام مقام

نقشه



# سُوْرَةَ الصّٓفّٰت

سُوْرَةَ الصّٓفّٰت ۳۷ ،ټول آیاتونه:۱۸۲ ،ټولې رکوع ګانې:۵

پېژندګلو: سُوْرَةَ الصّٓفّٰت مکي سُوْرَة دے چې د دې په شروع کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ ملائکو قسمونه بیان کړي دي۔ په دې سُوْرَة کښې دَ توحید دلائل، دَ وحې حفاظت او دَ آخرت متعلق دَ کافرانو دَ سوالونو جوابونه ذکر دي۔ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ تابعدارو بندګانو د پاره دَ جنت نعمتونه او دَ نافرمانو د پاره دَ جهنّم دَ مختلفو عذابونو بیان دے۔ په دې سُوْرَة کښې دَ اتهٔ (۸) انبیاءکِرام عَلَیْهِم السّلام واقعات ذکر دي۔ دَ سُوْرَة په آخر کښې دَ جنّاتو (پیرانو) او ملائکو دَ اصل مقام بیان دے، دَ سُوْرَة په اختتام باندې دَ نبی کریم ﷺ دَ غالب کېدلو بشارت او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عظمت بیان شوے دے۔

| اَعُوْذُ | بِاللّٰهِ | مِنَ | الشَّيْطٰنِ | الرَّجِيْمِ |
|---|---|---|---|---|
| زهٔ | د الله | پهٔ | فناه | کښې راځم دشیطان |
| رټلی | | شوی | | نه |

| بِسْمِ | اللّٰهِ | الرَّحْمٰنِ | الرَّحِيْمِ |
|---|---|---|---|
| د | الله د نوم نه | شروع کوم | چې لوی |
| مهربان | ا ود | یررحم | والا دے |

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۰۰۱ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۰۰۲ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۰۰۳

قسم دے په صف وړيدونكو (ملائکو) باندې، صف جوړول ۔ بيا په شړونكو (ملائكو) قسم دے سخت شړل ۔ بيا د ذكر (قرآن) په لوستونكو باندې۔

اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۰۰۴ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۰۰۵

چې بېشكه ستاسو معبود يقيناً يو دے۔ (چې) د اسمانونو او زمكې رب دے او د هغهٔ څهٔ چې د دواړو په مينځ كښې دي او د مشرقونو رب دے۔

اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ ۨ الْكَوَاكِبِ ۰۰۶ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ۰۰۷

بېشكه موږ بنايسته كړے دے د زمكې ته زيات نژدې اسمان په زينت سره ، چې ستورې دي او د هر سركشه شېطان نه مو بنهٔ ساتلے دے۔

لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ۰۰۸ دُحُوْرًا

دغه (شېطانان) د ټولو لوړ مجلس ته غوږ نهٔ شي نيولے او دوي د هر اړخه په انګار ويشتل شي د شړلو د پاره

وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۰۰۹ اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۰۱۰

او د دوي د پاره همېشنے عذاب دے۔ غير د هغهٔ (شېطان) نه چې وتښتوي يو خبره تښتونه، نو په دهٔ پسې شي لمبه رڼړا كوونكې۔

فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ؕ

نو ته د دوي نه پوښتنه وکړه چې اَيا دوي د پيدا کېدلو په لحاظ ډېر سخت دي، يا هغه چې مونږ پيدا کړي دي؟

اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ٠٠١١ بَلْ عَجِبْتَ

بېشکه مونږ دوي د انښتونکي ختې نه پيدا کړي دي. بلکې ته د کافرو د اخرت نه په انکار کولو تعجب کوې،

وَيَسْخَرُوْنَ ٠٠١٢ وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ٠٠١٣ وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً

په داسې حال کښې چې دوي (ستا سو د خبرو) مسخرې کوي. او کله چې دوي ته نصيحت وکړے شي، دوي پند (نصيحت) نه اخلي. او کله چې دوي کومه (نښه دليل) ووينې،

يَّسْتَسْخِرُوْنَ ٠٠١٤ وَقَالُوْا اِنْ هٰذَا اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ٠٠١٥ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا

(نو وريپورې) ډېرې مسخرې کوي او داخلق وائي چې دا ښکاره جادو دے. اَيا کله چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوکې شو،

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ٠٠١٦ اَوَ اٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ٠٠١٧ قُلْ نَعَمْ وَاَنْتُمْ دٰخِرُوْنَ ٠٠١٨

اَيا په رښتيا به مونږ خامخا بيا (ژوندي) راپاڅول کېږو؟ او اَيا زمونږ ومبني پلاران او نيکونه هم؟ تاسو نبي عليه السلام (دوي ته) ووايه هو! په داسې حال کښې چې تاسو به ذليل هم يئ.

فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمْ يَنْظُرُوْنَ ٠٠١٩ وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا هٰذَا يَوْمُ الدِّيْنِ ٠٠٢٠ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ

پس همدا خبره ده چې هغه (قيامت) خو يوه چغه ده، نو ناڅاپه به دوي ګوري. او دوي به وائي: اے زمونږ هلاکته! دا د بدلې ورځ ده. دا د فېصلې ورځ ده،

الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ٠٠٢١ اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ٠٠٢٢

هغه ورځ چې تاسو به دروغژن ګڼله. حکم به وشي ملائکو ته چې راټول کړئ هغه کسان چې ظلم ئې کړے دے او د دوي جوړې ملګري او هغه څه چې دوي به يې عبادت کولو.

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ ٠٠٢٣ وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ ٠٠٢٤ مَا لَكُمْ

د الله نه غير، نو تاسو روان (او برابر) کړئ دوي د دوزخ په لاره. او دوي لږ ودروئ، بېشکه د دوي نه څه پوښتنې کولے شي. په تاسو څه دي

لَا تَنَاصَرُوْنَ ٠٠٢٥ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُوْنَ ٠٠٢٦ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

چې د يو بل سره مرسته نه کوئ؟. بلکې دوي نن ورځ (په خپله) تسليمېدونکي دي. او د دوي نه به ځينو نورو ته مخ ور واړوي،

يَّتَسَآءَلُوْنَ ٠٠٢٧ قَالُوْا اِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ ٠٠٢٨

ديو بل نه به پوښتنې کوي. و به وائي (کشران مشرانو ته) بېشکه هم تاسو وئ چې راتللئ به مونږ ته په زور سره.

قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ٠٠٢٩ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ ۚ بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طٰغِيْنَ ٠٠٣٠

و به وائي (مشران په جواب کښې) بلکې تاسو په خپله ايمان راوړونکي نه وئ. او زمونږ د پاره په تاسو باندې هيڅ زور (تسلط) نه ؤ، بلکې تاسو پخپله سرکشه قام وئ.

فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ اِنَّا لَذَآىِٕقُوْنَ ٠٠٣١ فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ ٠٠٣٢

نو په مونږه باندې ثابته شوه زمونږ د رب خبره، يقيناً مونږ خامخا (عذاب لره) څښکونکي يو. نو مونږ تاسو ګمراه کړئ، بېشکه مونږ پخپله هم ګمراهان وو

## اَهمي نکتې

فَاِنَّهُمْ يَوْمَىِٕذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ۰۰۳۳اِنَّا كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ۰۰۳۴اِنَّهُمْ كَانُوْا

پس بېشکه دوی به په دغه ورځ په عذاب کښې شريك وي.بېشکه مونږ د مجرمانو سره هم داسې کوو .بېشکه دوی (داسې)وو

اِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ۙيَسْتَكْبِرُوْنَ۰۰۳۵وَيَقُوْلُوْنَ اَىِٕنَّا لَتَارِكُوْۤا اٰلِهَتِنَا

چې کله به دوی ته اوئيل شول چې د الله نه غير هېڅ لايق د عبادت نشته (نو) دوی به تکبر کولو او دوی وايې چې ايا يقيناً مونږ په رښتيا سره پرېږدو خپل معبودان (خدايان)

لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ۰۰۳۶بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ۰۰۳۷

د يو لېوني شاعر د وجې نه .(داسې نۀ ده) بلکې دغه (نبي) حق راوړے دے او هغوی دټولو رسولانو تصديق يې کړے دے.

اِنَّكُمْ لَذَآىِٕقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ۰۰۳۸وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ۰۰۳۹اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ
الْمُخْلَصِيْنَ۰۰۴۰

بېشکه تاسو خامخا دېر دردونکي عذاب لره څښکونکي يئ وئ.او تاسو ته بدله نۀ درکولے کيږي مګر د هغو عملونو چې تاسو به کول . ليکن د الله غوره کړے شوي بندګان .

اُولٰٓىِٕكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ۰۰۴۱فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ۰۰۴۲فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ۰۰۴۳عَلٰى سُرُرٍ
مُّتَقٰبِلِيْنَ۰۰۴۴

دغه کسان چې دي، د دوی دپاره معلومه روزي ده چې رنګارنګ مېوې دي، په داسې حال کښې چې دوی به عزتمند کړے شوي وي د نعمتونو په باغونو کښې .چې ناست به وي په تختونو يو بل ته مخامخ.

يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ۰۰۴۵بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ۰۰۴۶لَا فِيْهَا غَوْلٌ

په دوی به د روانو صفا شرابو جامونه ګرځولے شي.چې تك سپين به وي، د څښکونکو دپاره به خوندور وي.نۀ به په هغو کښې سر خوږې وي

وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ۰۰۴۷وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ۰۰۴۸كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ۰۰۴۹

او نۀ به دوی د دغو (شرابو) په وجه نشه کولے شي.او د دوی سره به د (خپل) نظر رامنع کونکې غټو سترګو والا حورې وي.ګويا کښې دوی پټې ساتل شوې هګۍ دي.

فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ۰۰۵۰قَالَ قَآىِٕلٌ مِّنْهُمْ اِنِّيْ كَانَ لِيْ قَرِيْنٌ۰۰۵۱

نو د دغو (جنتيانو) ځينې به ځينو نورو ته مخ راوګرځوي، چې سره تپوس به کوي.په دوی کښې يو ويونکی به ووايې: بېشکه زما يو دوست ؤ.

يَّقُوْلُ اَىِٕنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ۰۰۵۲ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ۰۰۵۳

وئيل به يې: ايا يقيناً تۀ خامخا د تصديق کونکو نه يې؟ ايا کله چې مونږ مړۀ شواو خاورې او هډوکي شو، ايا بېشکه مونږ ته به خامخا زمونږ د عملونو بدله راکولے شي.

قَالَ هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ۰۰۵۴فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ۰۰۵۵قَالَ تَاللّٰهِ

وبه ويلے شي: ايا تاسو کتل غواړئ؟ نو وبه ګوري، نو هغه به (د دوزخ) په مېنځ کښې ووينې.و به وايې (کتونکی): قسم په الله!

اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ۰۰۵۶وَلَوْ لَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ۰۰۵۷

بېشکه چې تۀ نږدې وه چې زۀ دې هم هلاك کړے وے.او که زما د رب مهرباني نۀ وی (نو) خامخا زۀ به د حاضر کړی شوو نه ووم.

اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ۰۰۵۸اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ۰۰۵۹اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ۰۰۶۰

نو (جنتيان به ووائې) ايا نو مونږ مړۀ کېدونکي نۀ يو.زمونږ د رومبي مرګ نه غير او مونږ په عذاب کړے شوي نۀ يو.بېشکه دا يقيناً هم دغه ډېره کاميابي ده.

## اَهمې نکتې

لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ٠٠٦١اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ٠٠٦٢

د دغه (كاميابى) دپاره دي عمل كونكي عمل وكړي. ايا دغه د مېلمستيا په لحاظ غوره دي، ياد زقوم (غنوواله) ونه.

اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِيْنَ٠٠٦٣اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ٠٠٦٤طَلْعُهَا

بېشكه مونږ دغه ونه د ظالمانو (مشركانو) دپاره ازمائش (او عذاب) گرځولې دے بېشكه دغه داسې ونه ده چې د دوزخ په بېخ كښې راوځي. د دغې ورېږ،

كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ٠٠٦٥فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ٠٠٦٦ثُمَّ

اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ٠٠٦٧

گويا كښې هغه د شيطانانو سرونه دي. پس بېشكه خامخادوئ خوړونكي دي د دغه نه نو ډكونكښې دي د دغې نه

خېټې خپلې پس بېشكه دوى به د هغې د پاسه د ايشول شوو اوبو (وينوزوو) گډون وي

ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ٠٠٦٨اِنَّهُمْ اَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّيْنَ٠٠٦٩فَهُمْ عَلٰٓى

اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ٠٠٧٠

. بيا بېشكه د دوى ورتله خامخا لمبې وهونكي (دوزخ) ته دي. بېشكه دوى خپل پلارونه گمراه موندلي

دي نو دوى د هغوى په قدمونو پسې په ډېرې تېزۍ سره منډې وهي

وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ٠٠٧١وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ٠٠٧٢فَانْظُرْ

او يقينًا د دوى نه مخكښې د ړومبنو خلقو اكثره گمراه شوي دي. او يقينًا مونږ په دوى

كښې وېرونكي (پېغمبران) لېږلي وو. نو تهٔ وگوره

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ٠٠٧٣اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ٠٠٧٤ وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ

چې د وېرول شوو عذاب څنگه ؤ؟. لېكن د الله غوره كړي بندگان (د عذاب نه خلاص دي) . او

يقينًا مونږ ته نوح اواز وكړو

فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ٠٠٧٥ۖوَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ٠٠٧٦ۖ

، نو (مونږ) دعاقبلونكي يو. او مونږ نجات وركړو هغهٔ ته او د هغهٔ كورنۍ ته د ډېر لوے

مصيبت نه

وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ٠٠٧٧ۖوَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ٠٠٧٨ۖسَلٰمٌ عَلٰى

نُوْحٍ فِي الْعٰلَمِيْنَ٠٠٧٩

او مونږ د هغهٔ اولاده، بس هم هغه باقي پاتې کېدونکې وګرځوله . او مونږ پهٔ دهٔ باندې پهٔ وروستنيو

خلقو کښې (دخيرذکر) پرېښودلو پهٔ عالمونو کښې دې پهٔ نوح سلام وي..

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ٠٠٨٠ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ٠٠٨١ ثُمَّ اَغْرَقْنَا

الْاٰخَرِيْنَ ٠٠٨٢

بېشکه مونږ نېکانو ته هم داسې بدله ورکوو . بېشکه هغه زمونږ د مؤمنو بندګانو نه ؤ . بيا

مونږ هغه نور (کافر) خلق غرق کړل .

وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ ٠٠٨٣ اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ٠٠٨٤

او بېشکه د هغهٔ د ملګرو نه خامخا ابراهيم دے. (ياد کړه) کله چې هغهٔ خپل رب ته پهٔ ډېر روغ زړهٔ سره راغے.

اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا ذَا تَعْبُدُوْنَ ٠٠٨٥ اَىِٕفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللّٰهِ تُرِيْدُوْنَ ٠٠٨٦

کله چې هغهٔ خپل پلار او خپل قوم ته او وئيل: څه شے دے چې تاسو يې عبادت کوئ؟ آيا تاسو د دروغو (او باطلو) د پاره د الله نه علاوه معبودان غواړئ

فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٠٠٨٧ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُوْمِ ٠٠٨٨ فَقَالَ اِنِّيْ سَقِيْمٌ ٠٠٨٩

نو ستاسو څه ګمان دے پهٔ رب العالمين مو. نو پهٔ ستوريو کښې نظر يې واچوه، يو نظر. نو وې وئيل: بېشکه زهٔ ناجوړه يم.

## آيا تاسو پوهېږئ

دَ مفسّرينو دَ يو رائے مطابق آزر دَ ابراهيم عَلَيْهِ السّلام دَ پلار نوم ؤو . څهٔ مؤرّخينو وئيلي دي چې دَ ابراهيم عَلَيْهِ السّلام دَ پلار نوم تارخ او دَ هغهٔ لقب آزر ؤو . چې کله دَ مفسّرينو دَ يو جماعت مطابق دَ ابراهيم عَلَيْهِ السّلام دَ پلار نوم تارخ شو ، نو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ قائل وو او دَ ترهٔ نوم يې آزر ؤو چې پهٔ شرک کښې مبتلا شوے ؤو او ترهٔ ته پهٔ عربۍ محاوره کښې پلار وئيل عام دي.

## اَهمي نکتې

فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِيْنَ ۰۰۹۰ فَرَاغَ اِلٰى اٰلِهَتِهِمْ فَقَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ۰۰۹۱

نو دوی د هغهٔ نه وګرځېدل، پهٔ داسې حال کښې چې شا کونکي وو نو ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د دوی معبودانو (بتانو) ته پټ راغے نو وې وئيل: اٰيا تاسو (دا خوراکونه) نهٔ خورئ؟

مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُوْنَ ۰۰۹۲ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ ۰۰۹۳ فَاَقْبَلُوْا اِلَيْهِ يَزِفُّوْنَ ۰۰۹۴

پهٔ تاسو څهٔ شوي دي چې تاسو خبرې نهٔ کوئ؟ نو پهٔ ښي لاس يې وهل (او ماتول) شروع کړل پهٔ داسې حال کښې چې پهٔ ښي لاس سره وهونکے ؤ. و بيا د (قام) خلق د دهٔ اړخ ته پهٔ منډه راغلل.

قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ مَا تَنْحِتُوْنَ ۰۰۹۵ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ

او (ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام) اوئيل: اٰيا تاسو د هغهٔ څهٔ عبادت کوئ چې تاسو يې (پخپله) تراشئ. حال دا چې الله تاسو پيدا کړي وئ

وَمَا تَعْمَلُوْنَ ۰۰۹۶ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ۰۰۹۷

او هغه عملونه چې تاسو يې کوئ. دوی اوئيل: د دهٔ دپاره يوه ځائے جوړ کړئ. بيا تاسو دا پهٔ لمبې وهونکي اور کښې واچوئ.

فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ۰۰۹۸

نو دوی د دهٔ سره د فريب اراده وکړه، نو مونږ هم دوی تر ټولو زيات ذليله کړل.

وَقَالَ اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ۰۰۹۹ رَبِّ

او ابراهيم اوئيل: بېشکه زهٔ خپل رب ته تلونکے يم، زر به هغه ما ته لاره اوښائي. بيا هغوی اوئيل اے زما ربه!

هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۰۰۱۰۰ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ۰۰۱۰۱

تهٔ ما ته (زوے) راکړې، چې د صالحانو نه وي. نو مونږ دهٔ ته د ډېر صبر والا هلك زېرے ورکړو.

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْ اَرٰى فِي الْمَنَامِ

نو کله چې (اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام) د دهٔ (خپل پلار) سره د منډې (عمر) ته ورسېدهٔ، نو (ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام) وې وئيل: اے زما زويه! بېشکه زهٔ پهٔ خوب کښې وينم

اَنِّيْ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَا ذَا تَرٰى ۱ قَالَ

چې زهٔ تا ذبحه کوم، نو تهٔ وګوره چې ستا څهٔ رايه ده؟ اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام اوئيل:

يٰاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۱ سَتَجِدُنِيْ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ۰۰۱۰۲ فَلَمَّا اَسْلَمَا

اے زما پلار جانه تهٔ هغه کار وکړه چې تا ته يې حکم کولے شي، زر ده چې که الله وغواړي، تهٔ به ما د صبر کونکو نه ومومې. نو کله چې دواړو غاړه کېښوده حکم ئې ومنلو.

وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ ۰۰۱۰۳ وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰاِبْرٰهِيْمُ ۰۰۱۰۴ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۱

او (ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام) هغه پهٔ اړخ څملاوه. او مونږ دهٔ ته اواز وکړو، داسې چې اے ابراهيمه! يقينًا تا خوب رښتيا کړو،

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۰۰۱۰۵ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ۰۰۱۰۶ وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ۰۰۱۰۷

بېشکه مونږ نېکي کوونکو ته هم داسې بدله ورکوو. بېشکه دا، يقينًا هم دغه ښکاره ازمېښت ؤو. او مونږ دهٔ (اسماعيل) ته د دې (چې) پهٔ بدله کښې پهٔ ډېرې لويې ذبيحې سره خلاصے ورکړو.

**فرمانِ نبوی ﷺ:** "(عيدالاضحیٰ) دَ قربانۍ پهٔ ورځ دَ ابنِ آدم هيڅ يو عمل دَ خاروي دَ وينې تويه ولو نه زيات (دَ الله پهٔ نزد) خوښ نهٔ دے. (جامع ترمذی)

# اَهمي نكتي

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ٠٠١٠٨ سَلٰمٌ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ ٠٠١٠٩

او مونږ باقي پرېښود (ددوی ذکرخير) په دهٔ باندې په وروستنيو خلقو کښې. دا چې سلام دې وي په ابراهيم.

كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ٠٠١١٠ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ٠٠١١١ وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ

نېکانو ته مونږ هم داسې بدله ورکوو. بېشکه هغه زمونږ د مؤمنو بندګانو نه دے. او مونږ دهٔ ته د اسحاق عليه السلام زېرے ورکړو،

نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ٠٠١١٢ وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰى اِسْحٰقَ ۭ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ

چې، دنيکانو نه يو نبي به وي او برکتاچولي ؤ مونږ په دهٔ اسمٰعيل عليه السلام باندې او په اسحاق عليه السلام باندې، او ددې دواړو په اولاد کښې چې څې نېکي کونکرے دي

وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ٠٠١١٣ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ٠٠١١٤

او څني په خپل ځان باندې ښکاره ظلم کونکي دي. او يقينًا مونږ په موسٰى عليه السلام او هارون عليه السلام احسان وکړو.

وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ٠٠١١٥ وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ٠٠١١٦

او مونږ دغو دواړو ته او د دغو دواړو قام ته د ډېر لوے غم نه نجات ورکړو. او مونږ د دوی مدد وکړو، نو هم دوی غالبه شول.

وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ٠٠١١٧ وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ٠٠١١٨

او مونږ دغو دواړو ته ډېر واضحه کتابت (تورات) ورکړ و. او مونږ دغو دواړو ته نېغه لاره اوښودله.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ٠٠١١٩ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ٠٠١٢٠

او مونږ په دواړو باندې په وروستنيو خلقو کښې دهغوی ښه تذکره باقي پرېښوده. دا چې سلام دې وي په موسٰى عليه السلام او هارون عليه السلام.

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ٠٠١٢١ اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ٠٠١٢٢

بېشکه مونږ نېکي کونکو ته هم داسې بدله ورکوو. بېشکه دغه دواړه زمونږ د مؤمنانو بندګانو نه وو.

وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ٠٠١٢٣ ۭ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ٠٠١٢٤ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا

او بېشکه الياس عليه السلام خامخا د رسولانو نه وو (ياد کړه)، هغه وخت چې دهٔ خپل قام ته او وئيل: ولې تاسو نهٔ وېرېږئ! آيا تاسو د بعل (بت) عبادت کوئ

وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ ٠٠١٢٥ اللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ٠٠١٢٦

او د ټولو ښهٔ پيدا کونکے ذات پرېږدئ. يعني الله دے، چې ستاسو رب دے او ستاسو د ړومبنو پلارانو رب دے.

فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ٠٠١٢٧ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ٠٠١٢٨

نو بيا هم دوی هغه دروغژن کړلو، نو بېشکه هغوی به خامخا (دعزت د پاره) حاضرولے شي د الله د خالص کړے شوو بندګانو نه غير (چې دوی د هغه تکذيب و نهٔ کړو)

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ٠٠١٢٩ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ٠٠١٣٠ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ٠٠١٣١

او باقي پرېښود مونږ په دهٔ باندې په وروستنيو خلقو کښې ددوئ ښه تذکره چې په الياسين عليه السلام دې سلام وي. بېشکه مونږ نېکي کونکو ته هم داسې بدله ورکوو.

اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ٠٠١٣٢ وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ٠٠١٣٣ ۭ

بېشکه هغه زمونږ د مؤمنو بندګانو نه وو. او بېشکه لوط عليه السلام د رسولانو نه وو.

اِذْ نَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ٠٠١٣٤ اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ٠٠١٣٥

(ياد کړه) هغه وخت چې مونږ دهٔ ته او د دهٔ کورنۍ ته، ټولو ته نجات ورکړو. غير د يوې بوډۍ نه چې په باقي پاتې کېدونکو کښې وه.

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ٠٠١٣٦ وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ٠٠١٣٧ وَبِالَّيْلِ ۭ

ـ بيا مونږ نور (ټول) خلق هلاك كړل ـ او بېشكه تاسو پهٔ دوی تېرېږئ، پهٔ سباكښي هم ـ او د شپي هم،

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ۰۰۱۳۸وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ۰۰۱۳۹اِذْ اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ۰۰۱۴۰

اٰيا نو تاسو عقل نهٔ لرئ ـ او بېشكه يونس عليه السلام خامخا د رسولانو نه وو ـ (ياد كړه) هغه وخت چي هغه ډكي كشتۍ ته وتښتېدهٔ ـ

فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ۰۰۱۴۱فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ

نو پهٔ خسڼي كښي شريک شو، نو شو د مغلوب كړے شوو نه ـ نو روغ تېر كړو هغهٔ لره مهي (كب)

وَهُوَ مُلِيْمٌ۰۰۱۴۲فَلَوْ لَا اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ۰۰۱۴۳

پهٔ دې حال كښي چي هغه (د خپل ځان) ملامت كونكے ؤ ـ نو كه دا خبره نهٔ وے چي بېشكه هغه د تسبيح ويونكو نه ؤ ـ

لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ۰۰۱۴۴فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ

(نو) خامخا دا به د هغه (كب) پهٔ خېټه كښي تر هغي ورځي پورې پاتي ؤ چي دوی به بيا ژوندي را پاڅولے شي ـ نو مونږ هغه پهٔ ډاګه مېدان كښي وغورځولو،

وَهُوَ سَقِيْمٌ۰۰۱۴۵وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّنْ يَّقْطِيْنٍ۰۰۱۴۶وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ اَوْ

يَزِيْدُوْنَ۰۰۱۴۷

پهٔ دې حال كښي چي ناروغ ؤ او مونږ پهٔ دهٔ باندي بوټے را زرغون كړه او مونږ دوی ولېږلو يو لاكه يا د دې نه زيات خلقو ته

فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ۰۰۱۴۸فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ

ـ نو دوی ايمان راوړو، نو مونږ دوی ته تر يو وخته پورې نفع وركړه ـ نو تهٔ د مكې د كافرانو نه پوښتنه وكړه، اٰيا ستا د رب دپاره لوڼه دي

وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ۰۰۱۴۹اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ۰۰۱۵۰اَلَاۤ

او د دوی دپاره زامن دي؟ ـ يا كه مونږ ملائك ښځي پېدا كړي دي، پهٔ داسي حال كښي چي دوی حاضر وو ـ خبردار!

اِنَّهُمْ مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ۰۰۱۵۱وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ۰۰۱۵۲

بېشكه دوی خپل دروغ جوړ كړے شوشې وايي ـ الله اولاد زېږولے دے او بېشكه دوی يقينًا دروغژن دي ـ

اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِيْنَ۰۰۱۵۳مَا لَكُمْ ۟ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ۰۰۱۵۴اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ۰۰۱۵۵

يا هغه (الله د ځان لپاره) لوڼه غوره كړي دي پهٔ زامنو باندي ـ پهٔ تاسو څهٔ شوي دي، څرنګه تاسو (دا) فېصله (او حكم) كوئ؟ ـ اٰيا تاسو نصيحت نهٔ اخلئ ـ

اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ۰۰۱۵۶فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۰۰۱۵۷وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ

نَسَبًا ۭ

اٰيا تاسو دپاره څهٔ واضحه دليل شته؟ ـ نو تاسو خپل كتاب راوړئ، كه چېرې تاسو رښتيني يئ ـ او دوی د هغه (الله) پهٔ مېنځ كښي او د پېريانو پهٔ مېنځ كښي نسب

وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ۰۰۱۵۸سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ۰۰۱۵۹

خپلولي وګرځوله او يقينًا پېريان پهٔ دې پوهه شوي دي چي بېشكه دوی به د الله مخې ته خامخا حاضر كړے شي ـ الله د پاره پاكي ده د هغو (خبرو) نه چي دوی يې وايي ـ

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ۰۰۱۶۰فَاِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ۰۰۱۶۱

ليكن د الله خالص (غوره) كړے شوي بندګان (چي داسي خبري نهٔ كوي نو د عذاب نه به محفوظ وي) ـ پس بېشكه تاسو او هغه چي تاسو يې عبادت كوئ ـ

مَاۤ اَنْتُمْ عَلَيْهِ بِفٰتِنِيْنَ۰۰۱۶۲اِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ۰۰۱۶۳

تاسو ټول د هغه الله پهٔ خلاف څوک ګمراه كولے نشئ ـ غير د هغهٔ چا نه چي هغه پهٔ دوزخ كښي ننوتونكے دے ـ

وَمَا مِنَّاۤ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ۰۰۱۶۴وَّاِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ۰۰۱۶۵

او پهٔ مونږ (فرښتو) كښي هم د هر يو دپاره مقرر ځائے دے ـ او بېشكه خامخا مونږ صف تړونكي ولاړ يو ـ

وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ۰۰۱۶۶وَاِنْ كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ۰۰۱۶۷ لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ۰۰۱۶۸

اوبېشکه مونږ خامخا بیانونکي یو۔او بېشکه چې خامخا دوی (کافرانو) به وئیل۔که چرې زمونږ سره د پخوانیو خلقو (د کتابونو) نه کوم د نصیحت (کتاب) وے۔

لَكُنَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ۰۰۱۶۹فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ۰۰۱۷۰ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا

(نو) خامخا مونږ به د الله خالص (او غوره کړے شوي) بندګان وو ییادوی د دغه (قرآن) نه انکار وکړو، نو زر ده چې دوی به پوهه شي۔او یقیناً زمونږ خبره د مخکې نه

لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ۰۰۱۷۱اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ۰۰۱۷۲ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ۰۰۱۷۳

زمونږ د لیږل شوو (رسولانو) دپاره صادر شوې ده چې بېشکه دوي، خامخا هم دوی مدد کړے شوي دي۔او بېشکه زمونږ لښکر، خامخا هم دوی غالب راتلونکي دي۔

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ۰۰۱۷۴وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ۰۰۱۷۵اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ۰۰۱۷۶

نو ته د دوی نه مخ وګرځوه، تر یو وخته پورې۔او دوی ته ګوره، نو زر ده چې دوی به (خپل انجام) وويني ایا نو دوی زمونږ د عذاب تلوار کوي

فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ۰۰۱۷۷

نوکله چې هغه د دوی په غولی راکوزشي، نو د وېرول شوو (دعذاب نه) سبا به بد وي۔

وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ۰۰۱۷۸وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ۰۰۱۷۹سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ

او ته د دوی نه مخ وګرځوه تر یو وخته پورې۔او ته ګوره، نو زر ده چې دوی به وويني۔ستا رب لره پاکي ده چې د عزت (او غلبې) مالك دے،

عَمَّا يَصِفُوْنَ۰۰۱۸۰وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ۰۰۱۸۱ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۰۰۱۸۲

د هغو خبرو نه چې دوی (مشرکان) بې بیانوي۔او سلام دې وي په رسولانو باندې۔او ټول د کمال تعریفونه خاص الله لره دي چې د ټولو مخلوقاتو بنۀ پالونکے دے۔

## دَ علم او عمل خبرې

۱۔ملائک دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ د پاره عاجزي کوي او همېشه دَ هغۀ پۀ احکاماتو باندې عمل کوي ۔(سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت:۱ تا ۳)

۲۔دَ کافرو سرداران او دَ هغوي پېروي کولو والا به دَ قیامت پۀ ورځ پۀ خپل مېنځ کښې جګړې کوي او دَ خپلې ګمراهۍ الزام به پۀ یو بل باندې لګوي۔(سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت:۲۷ تا ۲۹)

۳۔دَ غلطو خلقو دوستانه دَ تباهۍ او هلاکت ذریعه ده۔د دې وجې نه مونږ لره دَ غلطو خلقو دَ دوستۍ نه بچ کېدل پکار دي۔(سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت: ۵۰ تا ۵۷)

۴۔دَ مرګ نه بعد دوباره ژوند او دَ حساب کتاب نه انکار کولو والا ټهکانه به پۀ جهنم کښې وي۔(سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت:۵۳ تا ۵۵)

۵ ۔ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ به ایمان والو ته او نیکو بندګانو ته پۀ دنیا او آخرت دواړو کښې بهترینه بدله ورکوي ۔ (سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت:۷۹ تا ۸۱)

۶۔بُت او دَ دروغو معبود خپل ځان دَ نقصان نه نۀ شي بچ کولے، نو مشرکین به څۀ بچ کړي۔(سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت:۸۵ تا ۹۸)

۷ ۔ مونږ لره خپل محبوب ترین څیز دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ پۀ لاره کښې دَ قربانولو د پاره تیارېدل پکار دي ۔ (سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت:۹۹ تا ۱۱۱)

۸ ۔ دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ تسبیح پاکي او دَ هغه ذکر کولو نه دَ انسان پرېشانۍ لرې کېږي او مشکلات ئې حل کېږي ۔ (سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت: ۱۴۱ تا ۱۴۵)

۹۔الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ خپل غوره رسولان یواځې نۀ پرېږدي دَ هغوي ضرور مدد کوي۔(سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت: ۱۷۲، ۱۷۱)

۱۰۔پۀ ټولو انبیاءِ کرام عَلَیۡهِمِ السّلام باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وتَعَالیٰ دَ طرف نه دَ سلامتۍ وعده ده۔(سُوْرَةَ الصّٓفّٰت،آیت: ۱۸۱)

## ځان پرې پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**۱ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملې سره کرښه ولګوئ:**

کالم (الف)

- حضرت یونس ﷺ
- حضرت یونس ﷺ قام لره
- مهي حضرت یونس ﷺ لره
- الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ حضرت یونس ﷺ د پاره
- "ذالنون" او "صاحب الحوت"

کالم (ب)

- دَحضرت یونس ﷺ لقب دے۔
- یوه دَ کدو ونه رازرغون کړله۔
- قام ئي دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب نه ویرولے ؤو۔
- دَ عذابِ الٰهی آثار ئې ولیدل، نو توبه ئې ویستله۔
- پهٔ حفاظت سره پهٔ خپله خېټه کښې کېښنود لو۔

**۲ـ دَ لاندې جملو پهٔ باره کښې اوښائي چې دا دَ چا وینا ده :**

| شمېره | جملې | الله تعالي | یونس ﷺ | ملائک | کفار |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بیا مونږ هغه پهٔ هموار مېدان باندې وغورځولو پهٔ داسې حال کښې چې هغه بیمار ؤو۔ | | | | |
| ۲ | ستا نه سېوا بل معبود نشته دے، تهٔ پاک ئې، یقینًا زهٔ دَ نقصان کونکو نه یم۔ | | | | |
| ۳ | او یقینًا مونږ صف ترونکي ولاړ ئي وو۔ | | | | |
| ۴ | که چرته زمونږ سره دَ اولنو خلقو څهٔ دَ نصیحت (کتاب) وے، نو یقینًا مونږ به دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ خالص بندګانو نه وے۔ | | | | |
| ۵ | تا رښتیا خوب لیدلے دے مونږ نیکو خلقو لره دغه شان بدله ورکوو۔ | | | | |

۳ـ پهٔ لاندې ليکلې شوې جملو باندې صحيح ✓ يا غلط (X) نښه ولګوئ:

| غلط | صحيح | جملې | شمېره |
|---|---|---|---|
| | | دَ عراق پهٔ ښار نينوىٰ کښې آبادي دَ دوو لاکهو نه زياته وه. | ۱ |
| | | حضرت يونس ﷺ دَ مهي پهٔ خېټه کښې دَ اوسېدلو دَ وجې نه بې حده کمزورے شوے ؤو. | ۲ |
| | | مهي چې پهٔ کوم ځائے کښې حضرت يونس ﷺ غورځولے ؤ هغه يو آباد کلے ؤ. | ۳ |
| | | پهٔ نينوىٰ ښار باندې توره وربځه راغله او تور لوګے د دې قام دَ کورونو طرف ته راروان شولو. | ۴ |
| | | دَ عذابِ الٰهي سېورې ليدلو سره دَ ښار ټول خلق دَ خپل اهل وعيال سره مېدان ته اووتل. | ۵ |

## ۴ـ خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱) حضرت يونس بن متّىٰ ﷺ ------------------------ دَ نسل نه ؤ.
(۲) دَ حضرت يونس ﷺ دَ تګ نه وروسته ------------- آثار پهٔ نظر راغلل.
(۳) حضرت يونس ﷺ دَ مهي پهٔ خېټه کښې ----------------- کوله.
(۴) دَ نينوىٰ ښار آبادي ----------------- نه زياته وه.
(۵) نينوىٰ --------------------- پهٔ غاړه يو رونبانه ښار ؤ.

معلوم کړئ:" بعل، اِل ياسين، دَ ملائکو وهل، دَ خو مشرقونو او دَ پاک زړهٔ وضاحت دَ خپلو اساتذه کِرامو نه معلوم کړئ.

دَ لاندې ليکلې شوو جملو سره پهٔ جوړو شوو خانو کښې دَ قيصو دَ ترتيب پهٔ لحاظ سره نمبر ورکړئ:

○ يو غټ مهي دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالىٰ پهٔ حکم سره حضرت يونس ﷺ بغير دَ څهٔ نقصان رسولو نه تېرکړلو.
○ الله سُبْحَانَهٗ وتَعَالىٰ حضرت يونس ﷺ ته دوباره اهلِ نينوىٰ طرف ته دَ تللو حکم وکړلو.
○ حضرت يونس ﷺ دَ څو کالو پورې دَ نينوىٰ خلقو ته دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالىٰ پېغام ورسولو.

- دَ نینویٰ والو دَ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰی پهٔ حضور کښې دَ خپلو ګناهونو اقرار وکړو دَ عذاب نه ئې پناه وغوښتله.
- دَ نینویٰ خلقو دَ خپل رسول ﷺ انکار او مخالفت وکړلو.
- دَ حضرت یونس ﷺ دَ تګ نه بعد دَ عذاب آثار پهٔ نظر راغلل.
- دَ مهي پهٔ خېټه کښې حضرت یونس ﷺ دَ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالیٰ تسبیح او استغفار کولو.
- حضرت یونس ﷺ دَ عراق ښار نینویٰ مشرکانو طرف ته رسول لیږلے شوے ؤ.
- حضرت یونس ﷺ دَ عذاب دَ مقام نه دَ لرې کیدلو پهٔ اراده باندې یوې ډکې کشتۍ ته سور شو.
- حضرت یونس ﷺ دَ خپل قوم پهٔ کفر باندې دَ هغوي نه ناراضه شو او دَ نینویٰ ښار نه جدا لاړلے.

## دَ لاندې لیکلي شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱۔ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالیٰ مونږه دَ کوم قسم خټې نه پیدا کړي یو؟

----------------------------------------------------------------------------------------

----------------------------------------------------------------------------------------

۲۔ چې کله کافرانو ته اووئیلے شي چې دَ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالیٰ نه سیوا بل معبود نشته، نو هغوي به څه وئیل؟

----------------------------------------------------------------------------------------

----------------------------------------------------------------------------------------

۳۔ دَ جهنم دَ ونې زقوم پهٔ باره کښې چې کومې خبرې بیان شوي دي دَ هغو نه دوه ولیکئ؟

----------------------------------------------------------------------------------------

----------------------------------------------------------------------------------------

۴۔ کافر چې به کله دَ الله سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالیٰ یوه نشانه ولیدله، نو دَ دوي به څهٔ رویه وه؟

----------------------------------------------------------------------------------------

----------------------------------------------------------------------------------------

۵۔ پهٔ دې سُوۡرَة کښې دَ اتهٔ انبیاءکرام عَلَیۡهِمِ السَّلَام واقعاتو ذکر راغلے دَ هغو نومونه ولیکئ؟

----------------------------------------------------------------------------------------

----------------------------------------------------------------------------------------

سوچ وکړئ!!! تاسو دَ کور والو نه دَ تحفې فرمائش وکړو او دغه تحفه تاسو ته میلاو شوه .اوس که چرته دغه تحفه ستاسو ډېر نزدې دوست ستاسو نه اوغواړي، نو پهٔ دې صورت کښې به تاسو څهٔ کړئ؟



## کورنئ مشغولتیا

❖ دَ خپل کور والو نه معلوم کړئ دَ شپږو ملائکو نومونه او دَ هغوي کارونه ولیکئ.
❖ دَ یو عالم نه معلوم کړئ چې مونږ دَ خپلې قربانئ اجر او ثواب دَ ضائع کېدو نه دَ بچ کیدو د پاره دَ کومو خبرو خیال ساتل پکار دي او د دې نه درې خبرې ولیکئ؟
❖ دَ قربانئ دعا تالاش کړئ او دَ ترجمې سره ئې یاده کړئ.

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ______ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ______

تمّت بحمد الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ بتاریخ: ۱۴۴۴/ ۱۳ربیع الثاني بمطابق ۷نومبر/ ۲۰۲۲یوم الاثنین صباحًا احقر رضاءالله بن الحاج خان بادشاه باجوري